

# نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه

ډاکټر انتونیو جیستوزي

لیندۍ ۱۳۹۸

EUROPEAN UNION

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

AREU

څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
تلفیقي څېړنه

# نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي اوسېدونکو شخړه

ډاکټر انتونیو جیستوزي

لیندۍ ۱۳۹۸

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۲-۲۴۱-۴۲-۲

د خپروني کوډ: پ ۱۹۰۷

ژباړه: سيدالرحمن عمران

د پوښښ انځور: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

©۱۳۹۸ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کيدای شي يوازې د غيری سوداګريزو موخو لپاره نقل، حواله او يا بيا ځلې چاپ شي په دی شرط چې ليکوال او منبعه يې خبره شی. په ياده خپرونه کې ځای شوی نظرونه ليکوال پوری اړه لري او په حتمی ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری نظرونه نه منعکوسوی.

که چيری دغه خپرونه بيا چاپ، ذخيره او يا بريښنايي بڼه يې ليږدول کيږی بايد يو لينک يې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او يا هم د بريښناليک او يا هم ټليفون شميری له لياری اړيکه ونيسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکې ده او په منځنۍ آسیا کې د څیړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری له څیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، څینې نوروسازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

### مالی مرسته کوونکې:

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), UN Women and Save the Children.

### همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لري:

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د لیکوال په اړه

ډاکټر انتونیو جیستوزي د افغانستان په اړه ډېرې څېړنې کړې او په دې اړه یې زیاتې لیکنې خپرې شوې دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری لپاره یې دا لاندې لیکنې خپرې کړې دي: ۳۰ کلنې شخړې (۲۰۱۲)، انعطاف منونکی کارتل: په شمالي افغانستان کې له ۲۰۰۱زېږدیز کال او له هغه وروسته سیاسي اقتصاد، (۲۰۱۲)، د افغان ملي اردو: له مالي اړخونو ها خوا دوامداره ننګونې (۲۰۱۴)، د افغانستان د لیسو سیاسي کول (۲۰۱۵)، د قضیې وروستی حد: د افغانستان په لیسو کې سیاسي فعالیت (۲۰۱۵)، او له ایساف څخه وروسته د افغان ملي اردو (۲۰۱۲)، په افغانستان کې د کوچي-ځایي شخړې ډولونه (۲۰۱۸) او په افغانستان کې د کوچیانو د میشتیدنې بهیرونه او پر شخړې د هغوی اغیزې (۲۰۱۹). ډاکټر جیستوزي د نړیوالو اړیکو په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه ډاکټري (پي ایچ ډي) کړې او بولونیا په پوهنتون کې یې د معاصر تاریخ په برخه کې د لیسانس تر درجې پورې زده کړې کړې.

## سریزه:

خوښ یو چې د اروپايي ټولنې په سخاوتمنه مالي مرسته " نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو شخړې " ترسرلیک لاندې خپل نوی راپور چې د ډاکټر انتونیو جیستوزي لخوا لیکل شوی وړاندې کوو. دغه سند د اروپايي ټولنې لخوا د تمویل شوې پراخې پروژې یوه برخه ده: د طبیعي زیرمو د مدیریت (NRM) د اړینو برخو په اړه درې اړخیزه څېړنیزه هڅه. یاد سند په افغانستان کې د کوچیتوب په تړاو د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د خپرونو د یوې لړۍ پر بنسټ ترتیب او نوموړې لړۍ بشپړوي.

د دغه سند موخه په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې ابتدایي انځورونه او د نوموړې شخړې د بدلیدونکي ماهیت څېړنه ده. یاد سند د ځرځایونو د قانون د حقوقي ابهام، د حکومت کمزورتیا یا د محدودې اوبلوبه ځمکې پر سر د دموګرافیک فشار په شمول د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې بېلابېلو لاملونو او وروسته بیا، د دوه اړخیزو حل لارو په اړوند چیرې چې دولت محدود رول لوبوي، د وړاندیزونو له طرح کولو وړاندې، د نوموړې شخړې د هوارولو تېرو هڅو او د دوی محدود اغیز ته کتنه کوي.

په نوموړي ساحوي کار کې د کوچیانو او میشتو خلکو له مشرانو سره ۹۸ مرکې او دغه راز له دولتي چارواکو، سیاسي شخصیتونو، شننونکو، منځګړو او نورو برخه والو (ونډه لرونکو) سره خبرې اترې شاملې دي. دغه مرکې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې اتو قضیو، د کوچیانو د میشت ځایونو ځلورو قضیو، د کوچیانو او ځايي خلکو د شخړې حل یوې قضیې او په پلازمینه کابل او نورو ولایتونو کې د یادو قضیو تعقیب، ترمنځ ویشل شوې وې.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره له ناځرګندو سیالو کره کتونکو څخه د دوی د پوهې او تخصص پر مټ د پراخ ملاتړ او د یاد سند د لا بډاینې ونډې له امله او له ډاکټر انتونیو جیستوزي څخه په افغانستان کې د ده د زړه راښکونکې څېړنې لپاره منندویه ده.

زه هیله من یم چې دغه سند به د هغو پالیسي ګانو او برنامو د طرح کولو په برخه کې د یوې سرچینې په توګه مرسته وکړي چې پام یې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو شخړې او په افغانستان کې د کوچیتوب راتلونکي ته پر رسیدنې متمرکز دی.



ډاکټره اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه ..... أ
د لیکوال په اړه ..... ب
سریزه: ..... ج
مخففونه ..... ه
اجرائیوي لنډيز ..... ۱
۱. مقدمه ..... ۳
۲. څېړندود ..... ۵
۳. په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې انځورونه ..... ۹
۱.۳ کوچیان په افغانستان کې ..... ۹
۱.۱.۳ پلان شوې او خپلسرې (نا پلان شوې) میشتېدنه ..... ۹
۲.۱.۳ د میشتیدنې دلایل (ولې میشتېدنه اړینه ده؟): ..... ۱۲
۳.۱.۳ د کوچیتوب دوبېه والی ..... ۱۳
۲.۳ په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرو د شخړې لاملونه ..... ۱۵
۱.۲.۳ حقوقي ابهام ..... ۱۶
۲.۲.۳ د حکومت کمزورتیا، نه اغېزمنتوب او فساد ..... ۲۱
۳.۲.۳ ښاري پراختیا ..... ۲۲
۴.۲.۳ دموګرافیک فشار ..... ۲۳
۵.۲.۳ د کوچیانو میشتېدنه ..... ۲۵
۶.۲.۳ د زورواکو راڅرګندیدنه ..... ۳۰
۷.۲.۳ د شخړې سیاسي لاملونه ..... ۳۳
۴. پر دولت او ټولنې باندې د شخړې اغیز او اهمیت ..... ۳۵
۱.۴ بهرنۍ ګټنه (استثمار) ..... ۳۵
۲.۴ قومي او قبیلوي کوونه ..... ۳۷
۳.۴ دولت، نااغیزمنه یا غايبه مرجع ګڼل شوې ..... ۳۸
۴.۴ د نادولتي لوبغاړو رول ..... ۳۹
۵.۴ آیا د شخړو په برخه کې دولت له پامه غورځولای شو؟ ..... ۴۰
۱.۵.۴ د دولت نسبي شتون ..... ۴۰
۲.۵.۴ ولې ښايي دولت هیڅ بدیل ونلري؟ ..... ۴۰
۳.۵.۴ ولې دولت باید بې پرې اوسي؟ ..... ۴۱
۶.۴ د دولت د مشروعیت لپاره د شخړې پایلې ..... ۴۲
۵. د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې حل ..... ۴۳
۱.۵ د شخړې په حل کې د دولت رول ..... ۴۳
۱.۱.۵ تاریخي شالید ..... ۴۳
۲.۱.۵ اوسنۍ وضعیت ..... ۴۴
۳.۱.۵ د شخړې د حل محدودیتونه ..... ۴۶
۶. د حل لارو لټه ..... ۴۷
۱.۶ د ځمکو پولو په نښه کوونه ..... ۴۷
۲.۶ ګزمه کول ..... ۴۷
۳.۶ آیا میشتېدنه اغیزمنه واقع کیدای شي؟ ..... ۴۷
۱.۳.۶ د میشتېدنې اقتصادي ګټه ..... ۴۸
۴.۶ آیا میشتېدنه شخړه راکمولای شي؟ ..... ۵۱
۵.۶ مهالویشونه ..... ۵۱
۶.۶ د دولت نوی رول ..... ۵۲
۷. پایله یا استنتاج ..... ۵۴
۱.۷ وړاندیزونه ..... ۵۵
د لیکنو لست ..... ۵۶

# مخففونه

| | |
|---|---|
| AAN | د افغانستان د شنونکو شبکه |
| ALCS | په افغانستان کې د ژوندانه وضعیت سروې |
| ALP | افغان سیمه ییز پولیس |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| ARAZI | د افغانستان د اراضي اداره |
| CSO | د سرشمېرنې مرکزي اداره (د احصایې مرکزي اداره) |
| EU | اروپايي ټولنه |
| IGDK | د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت |
| MUDL | د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت |
| NRM | د طبیعي زیرمو مدیریت |
| PEACE | د کلیوالي ګډون، سمون او د ظرفیت لوړتیا |
| USAID | د امریکا متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره |

# اجرائیوي لنډیز

د دغه سند موخه په افغانستان کې د ساحوي کار له لارې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د هغې شخړې لومړنۍ انځورونه ده چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۹ میلادي کلونو په اوږدو کې یې وده کړې وه. په ۲۰۰۷ او ۲۰۱۰ میلادي کلونو کې د وروستیو شننو او ارزونو له خپریدو راهیسې، د شخړې ماهیت او څرنګوالی د پام وړ بدلون موندلی. د لیټون هغه لومړۍ کرښه چې دغې څیړنې ته لاربښوونه کوي د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې بدلیدونکی ماهیت او د دوی د شخړې د حل څرنګوالی، څیړي. په اصل کې، د دغه سند موخه په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې اړوند موضوعاتو په اړه د پالیسي جوړونې لپاره د نویو معلوماتو وړاندې کول او همدارنګه راتلونکو څیړنیزو هڅو ته د بنسټونو رامنځته کول دي.

په نوموړي ساحوي کار کې د کوچیانو او میشتو خلکو له مشرانو سره ۹۸ مرکې او دغه راز له دولتي چارواکو، سیاسي شخصیتونو، شننونکو، منځګړو او نورو برخه والو (ونډه لرونکو) سره خبرې اترې شاملې دي. دغه مرکې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې اتو قضیو، د کوچیانو د میشت ځایونو څلورو قضیو، د کوچیانو او ځايي خلکو د شخړې حل یوې قضیې څیړنو او په پلازمینه کابل او نورو ولایتونو کې د یادو قضیو تعقیب، ترمنځ ویشل شوې وې.

په افغانستان کې د کوچیتوب د وضعیت په اړه د باوري ارقامو تر لاسه کول ناشونی کار دی، خو د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست ځینې لومړني ارقام وړاندې کړي چې له یوې روانې سروې څخه تر لاسه شوي دي. که چیرې دغه ارقام سم او کره وي، نو کوچیتوب په پراخه کچه راکم شوی، تر هغه بریده چې سوچه کوچیتوب اصلاً له منځه تللی دی. داسې انګیرل کیږي چې ګواکې تر ۲۲۰۰۰ څخه زیات نیمه کوچیان نه دي پاتې، خو نور کوچیان بیا د تل لپاره میشت شوي. که څه هم حکومت یو زیات شمیر د کوچیانو د میشتېدنې نسبتاً بریالي پلانونه تمویل کړي، خو د کوچیانو میشتیدنه تر ډیره حده په خود جوشه او ناپلان شوې بڼه ترسره شوې. کله ناکله کوچیان د خپلو څارویو له لاسه ورکولو په سبب میشتېدنې ته اړ شوي، خو کله هم ځکه میشت شوي چې د عصري ژوند له ځینو اسانتیاوو او هوساینو څخه برخمن شي. پاتې نور نیمه کوچیان زیاتره په میشتو کوچاني ټولنو کې مدغم شوي. دا مهال په افغانستان کې کوچیتوب په عملي توګه په دوه ډوله دی.

- لکه څرنګه چې سرچینې څرګندوي، د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې لاملونه بېلابېل دي. د ځمکو د قانون په تړاو حقوقي ابهام په یقیني ډول د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ د کلیوالي او عامه ځمکو پرسر د پام وړ اختلاف رامنځ ته کړی دی.
- په کلیوالي سیمو کې د دولت کمزورتیا په دې مانا ده چې له جګړې وړاندې مهال په پرتله ،چارواکو تر ډیره خپله دا وړتیا له لاسه ورکړې چې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ جوړښتي اختلاف مدیریت کړي. همدارنګه، د دولت کمزورتیا د چارواکو دا وړتیا هم راکمه کړې چې د شخړو رامنځ ته کیدو په صورت کې یې، په هوارولو کې منځګړیتوب وکړي.
- دېباري پراختیا له امله د ېباري سیمو شاوخوا د ځړځایونو په ساحه کې د ځمکې نرخونه لوړ شوي. د ځمکو د نرخونو لوړوالی د ځړځایونو د غصب او پر هغو د ېبارګوټو جوړونې د لا هڅونې لامل شوی دی. کوچیان او ځايي اوسیدونکي له یو بل سره او په خپلو منځونو کې د دغو ځړځایونو د نیولو پر سر سیالي او جګړه کوي.
- دموګرافیک فشار پر هغو ځمکو چې لږې اوبه لري د سیالو ډلو شمیر زیات کړی دی ، حال دا چې په ځینو سیمو کې ګڼ شمېر ځايي اوسیدونکو د خپلو کمزورو کرنیزو عاید اتو د لوړولو لپاره د څارویو ساتنې ته مخه کړې ده. همدارنګه، دغه څاروي ځړځایونو ته اړتیا لري نو ځکه ځايي اوسیدونکو هغو عامه ځړځایونو ته مخه کړې ده کوم چې یو وخت د کوچیانو تر ولکې او نفوذ لاندې وو.
- د کوچیانو میشتېدنه د کورونو د ودانولو لپاره د ځړځایونو د غصب لامل کیږي چې دا چاره په شاوخوا ځايي اوسیدونکو کې حسادت رامنځته کوي او هغه کوچیان هم پاروي چې لا تر اوسه په هیواد کې خپل څاروي د ځړځایونو په لټه کې لر او بر ځغلوي.
- د زورواکو راڅرګندیدل د افغانستان د تیر ۲۰-۳۰ کلن سیاسي او ټولنیز ژوند یوه ځانګړتیا ده چې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو پر شخړه خپل اغیز لري. د زورواکو په اړه داسې ویل کیږي چې ګواکې کوچیان او ځايي اوسیدونکي د ځمکو غصب ته هڅوي، خو بیا په خپله د مالي امتیازاتو او سیاسي ملاتړ په بدل کې د دغو ستونزو د حل او د اړوندو چارو د تنظیم لپاره له مرکزي حکومت سره لاس په کار کیږي.
- روانه جګړه، ځړځایونو ته د لاس رسي په محدودولو او د مرکزي ادارو په لا زیات کمزوري کولو سره، د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو پر شخړه اغیز لري.
- ځینې ځايي ټولنې د بدلیدونکي قومي او سیاسي توازن له امله د کوچیانو پر وړاندې لا نور یرغلګر او برلاسي شوي چې زیاتره وخت د دې لامل کیږي چې د کوچیانو پر مخ ټولې سیمې وتړي.

شخړې زیاتره په لېرو پرتو سیمو کې رامنځ ته کیږي، خو د کابل شاوخوا سیمې یې هم له اغیزو څخه خوندي نه وي. دا چې دولت دشخړې د مدیریت وړتیا نه لري د ا چاره د دولت مشروعیت زیانمنوي او په تدریجي ډول دغه شخړه د روانې زیانمنونکې جګړې د اور لمبو ته لمن وهي.

تر دې مهاله، د شخړې د حل هڅو په محدود ډول اغیز لرلی. د دولت مستقیمې هڅې په هیڅ ډول نه دي بریالۍ شوي ،خو د منځګړیتوب نادولتي هڅې د ځینو نسبتاً سطحي شخړو په هوارولو کې تر یوه بریده بریالۍ ثابتې شوي. خو چیرې چې زورواکي یا پیاوړې اقتصادي ګټې مطرح وي، د شخړو د هوارولو نا دولتي هڅو هم کومه د پام وړ پایله نه ده لرلې.

## وړاندیزونه

- تر څو چې په افغانستان کې جګړه روانه وي، مرکزي اداري به د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې پر وړاندې محدود غوراوي (ټاکنې) ولري. سربېره پر دې، حکومت باید هغه شاهي فرمانونه په نویو حل لارو بدل کړي کومو چې د ناټاکلو مودو لپاره ځانګړو کوچي ټولنو ته د څرځایونو لویه برخه ورکوله.
- تر هغې چې په افغانستان کې سوله نه وي راغلي، د کرنیزو ځمکو د پولو په نښه کول، د کوچیانو د کډوالۍ پر لارو ګزمه کول او له کرنیزو پړاوونو سره سم د کډوالۍ پلانول د کمزورو او نیمګړوحل لارو په توګه د پلي کیدو وړ نه دي ، خو په زیاتره مواردو کې به دغه حل لارې خورا ګرانې پریوزي.
- مخ پر وړاندې لار ګډې حل لارې دي، یعنې دا چې دولت محدود خو په ریښتیني ډول تل پاتې رول ولوبوي:
    - د کوچیانو له خپل خوښې میشتېدنې څخه دخدمتونو او اسانتیاوو د برابرولو له لارې ملاتړ، خو دا په دې شرط چې کوچیان به پر هغو ځمکو میشتیږي چې د چارواکو له خوا ټاکل شوې وي.
    - د ښاري پراختیا لپاره ځمکه برابرول او د ځمکو د ناقانونه غصب د ځینو کلیدي لاملونوکمزوري کول.
    - لږ تر لږه کوچیانو ته د لارو د بدلون لپاره هڅوونکي امتیازات وړاندې کول، تر څو له اوږد مهالې کډوالۍ لاس په سر شي.

# ۱. مقدمه

تر۲۰۰۱ میلادي کال وروسته، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه په نړیوالو او افغاني رسنیو کې بیا بیا را څرګنده شوې، خو په سیستماتیک ډول څېړل شوې نه ده. که څه هم د کوچیانو په اړه له ۱۹۷۰ او۱۹۹۰ میلادي کلونو راهیسې، د انسان پیژندنې څېړنې رواني وې او دغه راز د دوی په اړه له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته موده[۲] کې د ټولنپوهنې څېړنې هم ترسره شوي، خو هغه بدلونونه چې په دې وروستیو کلونو کې راڅرګند شول لا تر اوسه یې په څېړنیزو ادبیاتو کې شننه نه ده شوې. په ځانګړې توګه، کله چې په ټول هېواد کې د کوچیانو ښارګوټي په جوړېدو شول ، نو دا پوښتنه را ولاړه شوه چې آیا د کوچیانو میشتېدنه تر ۲۰۰۷ میلادي کال وروسته او د هغه اغیز په نظر کې نیولو سره چې دغې چارې د شخړې پر څرنګوالي درلوده، څنګه شوې ده؟ یو بل بدلون چې په سختۍ سره په څېړنیزو ادبیاتو کې وده مومي او په بالقوه ډول د خورا اهمیت درلودونکی دی، هغه رول دی چې د یو شمیر کوچي زورواکو څېرو له خوا په شخړه کې لوبول شوی. [۳] په څرګند ډول، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو د نوې سروې موخه، د پالیسۍ جوړونې لپاره د معلوماتو برابرول دي.

د دغې تشې د ډکولو لپاره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د ۲۰۱۲ میلادي کال په ډیسمبر میاشت کې د طبیعي زیرمو د مدیریت په اړه یوه درې اړخیزه څېړنیزه پروژه پیل کړه چې د اروپایي ټولنې له خوا تمویل شوې وه. د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه د یادې پروژې د یو اړخ په توګه په ګوته شوې وه. پروژه د دریو کلونو لپاره وغځېده او په پراونو تنظیم او ویشل شوې وه. دغه سند د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې برخه رانغاړي او ټولې ترسره شوې څېړنې او شننې سره یو ځای کوي.

په اصل کې، د دغه سند موخه په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو اړوند موضوعاتو په اړه د پالیسۍ جوړونې لپاره د معلوماتو نوي کول او وړاندې کول، او دغه راز لا زیاتو څېړنیزو هڅو ته د بنسټیزو رامنځته کول دي. سند په لومړي سر کې او له اړتیا سره سم د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۹ میلادي کلونو د شخړې او د حل لارو د هڅو ارزونه ترسره کوي. همدارنګه، د راتلونکې لپاره د امکان وړ غوراوي په اړه بحث کوي او د حل لارو هڅې ښيې کوي. دغه سند باید د موضوع په اړه د یوې داسې لومړنۍ څېړنې په توګه وانګېرل شي چې د یوې متمرکزې او ژورې څېړنې د پلانولو لپاره د فرصت رامنځته کولو په موخه ترسره شوې ده. یوې داسې لا زیاتې پراخې څېړنیزې هڅې ته اړتیا لیدل کېږي چې په هر اړخیز ډول په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه انځور کړي او ویې څېړي.

څکه چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د هغې شخړې څرنګوالی چې تر ډېره په بهسودو ولسوالۍ کې متمرکز وو لا تر اوسه (۲۰۱۲میلادي کال پورې کله چې پروژه پیل شوه) د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ میلادي کلونو په څېر ناڅرګند پاتې دی، دا پروژه له ځانګړو څېړنیزو پوښتنو پرته پیل شوې وه. پر ځای یې، پروژې ځینې پراخې «کشفي» موخې خپلې کړې وې:

- د هغو کوچیانو او ځایي خلکو ستونزو ته رسیدنه چې ګواکې یو له بل سره اویا هم له دولتي چارواکو سره په شخړه اخته دي او بیا د شخړې د لاملونو او د شخړې د حل لارو د هڅو په اړه د خپل درک څرګندول:
- د شخړو دبیلا بیلو روایتونو او د حل د هڅو ترمنځ د سمون (تلفیق) لټه، او پر دې بنسټ د لاندې چارو ترسره کول:
    - د شخړې د لاملونو د لومړنۍ شننې چمتوکول ؛
    - پر افغان ټولنه او افغان دولت د شخړې د پراخې اغیزې د لومړنۍ شننې چمتوکول؛
    - او د شخړې د حل د هڅو د اغیز د لومړنۍ شننې چمتو کول؛

۱ په ځانګړې ډول: کالوس فردیناند ، افغان کوچیان: په افغانستان او برتیانوي هندوستان کې کاروانونه، شخړې او سوداګري ۱۸۰۰-۱۹۸۰ (کپینهاګن: رودوس، ۲۰۰۲)؛ بیرت فریدیریکسن، کاروانونه او سوداګري په افغانستان کې: د هزاربوز کوچیانو بدلیدونکی ژوند (کپینهاګن: رودوس، ۱۹۹۵)؛ ګورم پدرسن، افغان کوچیان په لیږد کې: د څلا خانخیلو ترمنځ د بدلون یوه پیړۍ (کپینهاګن: رودوس، ۱۹۹۴)؛ ریچارد ټاپر، په ایران او افغانستان کې قبیله او دولت (لندن؛ روټلیج، ۱۹۸۳)؛ ټی جی برفیلد ، د افغانستان مرکزي اسیا عربان: شپنیز کوچیتوب په لیږد کې (آستین: د ټکزاس پوهنتون خپرونه، ۱۹۸۱).

۲ «د کابل د نوي ښار په سیمه کې د کوچیانو څېړنه» (کابل: ساموېل هال، ۲۰۱۲)؛ هرف نیکولی،"Qu’elle ,tait verte ma vall,e l’avenir sans terre ,des populations Kuchi dans le district de Deh Sabz’ ( Revue de Mondes Musulmans et de la M,diterran,e ۱۳۳, ۲۰۱۳)؛ ؛ فراوک دی ویجر، «د افغانستان کوچي شپانه: بدلون او سمون،» کوچیان، ۱۱ جلد ، ۱ خپرونه (۲۰۰۷): ۹-۳۷.

۳ فابریزو فوسچنی، «د افغان کوچیانو ټولنیز کړاو» (برلین، ای ای ان، ۲۰۱۳).

- د شخړې د لاملونو پر بنسټ، د شخړې د حل په لور د پرمختګ لپاره د پالیسۍ وړاندیزونه په ګوته کول.

د څېړندود (Methodology) په اړه په دوهمه برخه کې بحث شوی حال دا چې دربیمه برخه د شخړې ځانګړتیاوو په ګوته کولو ته ځانګړې شوې ده. په افغانستان کې نن ورځ د کوچیانو نړۍ په اړه لنډ بحث (۳.۱ برخه) هغه ستر بدلونونه په ډاګه کوي چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې رامنځ ته شوي دي. که څه هم، په افغانستان کې د کوچیتوب او یا هم تر ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو تر منځ د شخړې په اړه مفصل بحث، د یاد سند د څېړنیز توان څخه بهر دی.

د سند ۳.۲ برخه هغه څه په ډاګه کوي کوم چې څېړنیزې ډلې په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې د بېلابېلو لاملونو په هکله په اوسني دور کې پیدا کړي. داسې ادعا نه کیږي چې ګواکې د شخړې د لاملونو لړلیک دي بشپړ وي او نه هم دغه لاملونه په ژوره توګه څرګند او څېړل شوي، خو دا هرڅه د دغې څېړنې د لومړنۍ سروې د ځانګړنې له امله دي. بلاخره، په څلورمه برخه کې، څېړنیزه ډله تر دې دمه د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې د هوارولو هڅې پلټي. د څېړنې پنځمه برخه د حل دغو ممکنو لارو چارو په هکله بحث ته ځانګړې شوې ده چې له مرکه کوونکو سره یې په اړه خبرې اترې شوې دي. یو ځل بیا، باید دا په پام کې ونیول شي چې د کومو معلوماتو پر بنسټ چې وړاندیزونه مطرح شوي د لومړنۍ سروې پر اساس چمتو شوي، نه د ژورو څېړنو د لړۍ پر بنسټ.

# ۲. ځېړندود

دا چې په وروستیو کلونو کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې د ودې په اړه ډېرو لږو معلوماتو شتون درلود نو ځکه د دې ځېړنیزې هڅې لومړۍ چاره دا وه چې د شخړې شالید په اړه سروې وکړي. ځېړنیزې ډلې د هغو شاخصونو پر بنسټ چې د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست لخوا برابر شوي ول له کوچیانو، ځایي اوسیدونکو او حکومتي چارواکو څخه د هغوی په خپل تعبیر د دې شخړې د لاملونو په اړه پوښتنې مطرح کړې. نوموړې مرکې د ۲۰۱۷ میلادي کال د اپریل او ۲۰۱۹ میلادي کال مې میاشتې ترمنځ ترسره شوې دي. د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو د عواملو په ځېړنه کې لاندې څلور موازي پړاونه شامل دي:

أ. د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې د اتو قضیو ځېړنې چې په ده سبز، خاک جبار، بهسود، مالستان، دیرای، فراه، ازرې او امام صاحب ولسوالیو کې له حکومتي چارواکو، ټولنیزو مشرانو او د شخړې نورو ناظرینو له مرکو لاسته راغلي دي. د قضیې ځېړنې په اړه د بحث لپاره د افغانستان د ځېړنې او ارزونې ادارې د دغې پروژې د ۲۰۱۷ میلادي کال راپور ته چې "په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرو د شخړې د نقشې انځورول" تر سرلیک لاندې خپور شوی مراجعه وکړئ.

ب. د کوچیانو د میشت ځایونو د څلورو قضیو ځېړنه چې دوه یې په کابل او دوه نور یې په لوګر ولایت کې ترسره شویدي.

ج. د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې د حل ځېړنه چې مرکې یې د کابل، بامیان، خوست، غزني، فراه، لوګر او وردګ ولایتونو ترمنځ ویشل شوي.

د. په کابل او نورو ولایتونو کې د اړوندې موضوع په هکله تعقیبي مرکې.

لکه چې په لاندې لومړي جدول کې په تفصیل ښودل شوی، په ټوله کې ځېړنیزې ډلې ۹۸ مرکې ترسره کړیدي چې ګڼ شمیر یې (۷۵) د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو له مشرانو او پاتې ۲۳ یې له حکومتي چارواکو، سیاسي څېرو، شنونکو، منځګړو او نورو سره ترسره شوي دي.



**لومړی جدول: د ترسره شویو مرکو لنډیز**

| | کوچي مشران | کلیوال مشران | حکومتي چارواکي | سیاستوال او استازي | شنونکي | زورواکي | نا حکومتي منځګړي | ټولګه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بهسود | ۳ | ۴ | ۱ | | | | | ۷ |
| مالستان | ۳ | ۲ | | | | | | ۵ |
| ده سبز | ۳ | ۳ | ۱ | | | | | ۲ |
| خاک جبار | ۳ | ۳ | | | | | | ۲ |
| ازره | ۳ | ۳ | ۱ | | | | ۱ | ۷ |
| فراه | ۴ | ۲ | ۱ | | | | ۲ | ۸ |
| امام صاحب | ۲ | ۲ | ۱ | | | ۱ | | ۵ |
| خوست | ۳ | ۳ | ۱ | | | | ۲ | ۸ |
| بامیان | | ۳ | | | | | | ۳ |
| حاجي جنت ګل ښارګوټی (کابل) | ۴ | | | | | | | ۴ |
| کوچي آباد (کابل) | ۴ | | | | | | | ۴ |
| وزیر کاریز(خوشي) | ۴ | | | | | | | ۴ |
| دشت خاکه (بره کی برک) | ۴ | | | | | | | ۴ |
| نورې سیمې | ۴ | ۲ | ۲ | ۸ | ۲ | ۱ | | ۲۷ |
| ټولګه | ۴۴ | ۳۱ | ۲ | ۸ | ۲ | ۲ | ۵ | ۹۸ |

يادې مرکې د شخړې د بېلګو او لاملونو په اړه د معلوماتو د استنباط (استنتاج) په موخه طرحه شوې وې. د قضيې د څېړنې لومړنۍ موخه نه یوازې دا وه چې د هرې ځايي شخړې په اړوند له څو مرکه کوونکو سره خبرې وشي ترڅو د حقيقي معلوماتو لپاره ځوابونو ته دوه ماخذونه چمتو کړي بلکې د ورته پيښو په هکله د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو لخوا هم معلومات راټول کړي.

په افغانستان کې د کوچيانو او بزګر ترمنځ شخړه کومه نوې ښکارنده ( پديده ) نه ده او نه هم داسې موضوع ده چې تر دې دمخه بې هيڅکله د علمي څېړنو پام ځانته نه وي اړولی. که څه هم، د تيرو څېړنو پام پرهغه شخړو و چې د پښتنو کوچيانو او هزاره ګانو ترمنځ د هزاره جاتو په سويلي څنډو کې پيښه شوې وه خو يوازېنۍ شخړه ده چې د رسنيو(په حقيقت کې تقريبا د ټولو رسنيو ) ډير پام يې ځانته را اړولی دی. په دې برخه کې عمده استثنات د بدخشان د شيوا څرځايونو په اړه د پيټرسن (Patterson)، کروتزمن(Kreutzmann) او سکوټه(Schutte) څېړنې دي.[۴] د يادو دوو ټولنو ترمنځ د دغې قومي او سياسي شخړې پاملرنې او تاريخي شاليد ته په کتو چې په بېلابېلو پړاونو کې د دولت او/يا د سياسي ډلو لخوا تمويل شوې، د هزارګانو او ځايي اوسيدونکو شخړه دا چاره پيچلې کوي چې د نومونړې ستونزې ټولنيزې، کرنيزې، اقتصادي او ډموګرافيکې سرچينې سره بېلې شي. دغه څېړنيزه پروژه چې ياد سند يې لاسته راوړنه ده پرته له دې چې په هزاره جاتو کې د دواړو خواوو شخړه له پامه و غورځوي، د هزاره ګانو او ځايي اوسيدونکو شخړې ته خورا پراخه کتنه کړې ده.

۴ فوسچنی، «د افغان کوچيانو ټولنيز کړاو» (برلين، ای ای ان، ۲۰۱۳) ؛ ليز الدن ويلی، «د څر ځايونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳؛ ليز الدن ويلی، «د څر ځايونو پر سر د سولې په لټه کې: په افغانستان کې د کليوالي ځمکې اړيکې»، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۴؛ عباس فراسو، په افغانستان کې د کوچيانو-ځايي ميشتو د شخړې ډاينامیکونه: په هزاره جاتو کې د کوچيان- هزاره ګانو مخ کيدل، د منځني ختيځ د مطالعاتو لپاره د جاپان د ټولنې کلنيزې خپرونې" ۳۳ ټوک (۲۰۱۷) ۱، ۱-۳۷ خپرونه؛ هيرمن کريوتزمن شدی ستيفن سچوتی، ، «له سياليو ډک مشترکات- د افغانستان په شمال ختيځ کې د شپنو ګڼ شمير نا امنی» ايردکوندی ټوک ۲۵، شميره ۲:۹۹۰۱۱۹ (۲۰۱۱)، مخ ۱۰۴. د دغې موضوع په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د پخوانيو معلوماتو لپاره د ليز ادلين ويلي «د څر ځايونو پر سر د سولې په لټه کې: په افغانستان کې د کليوالي ځمکې اړيکې»، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۴ وګورئ؛ مېرېبن پيټرسن، د شيوا څر ځايونه، ۱۹۷۸-۲۰۰۳: د افغانستان په شمال- ختيځ کې د ځمکې د اجارې بدلونونه او شخړه، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۴؛ ای، جيستوزی، «په افغانستان کې د کوچيانو- بزګرو د شخړې پلانول»، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۷.

لومړی جدول او لومړی نقشه د څېړنې د لومړي پړاو لپاره د قضیې د څېړنې سیمه ښیي. که څه هم د کوچیانو اکثریت پښتانه دي خو د ازبک، پشه یی، ایماق، ترکمن او ګوجر کوچیانۍ ټولنې هم شته. په حقیقت کې د اتو ټاکل شویو قضیو د څېړنو له ټولګې یوازې یو یې ازبک کوچیان او بل یې هم بلوچ کوچیان رانغاړي. یادې ټاکل شوې نمونوي څېړنې د کوچیانو او بزګرو د ټولو شخړو ښکارندوی نه دی او نه هم د دغو شخړو کره نقشه انځور شوې. د بیلګې په توګه د پښتنو او پشه یی کوچیانو ترمنځ هم د شخړو د قضیو راپور ور کړل شوی.[۵] د دې پرځای، د قضیو څېړنې د لاندې ملاحظاتو پر بنسټ د څرګندو شخړو له نوملړ څخه چې په کابل کې د کوچیانو د بیلابیلو شوراګانو لخوا چمتو شوی، ټاکل شوي دي:[۶]

- د مرکه کوونکو لپاره خپل اړوند ځای ته د رسیدلو لوژیستکي اسانتیاوې؛
- د بیلابیلو ټولنیز، توکمي او اقتصادي چاپیریالونو شاملول؛
- د بریالیو خبرو اترو پر بنسټ د روانو شخړو د ترلاسه شویو حل لارو د ترکیب شاملول؛
- د هغو شخړو شاملول چې په نسبتا ګڼ مېشتو سیمو کې پیښیږي چیرې چې د تاوتریخوالي او اخلال اغیز به تر ټولو زیات وي.

په ټوله کې، څېړنیزې ډلې په پام کې ونیوله چې دغه د اتو قضیو څېړنې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو د ابتدایي ارزونې لپاره بشپړ بنسټ چمتو کړي. نومورې اته څېړنې د افغانستان پر بیلابیلو عمده سیمو ویشل شوي چیرې چې د کوچیانو لخوا کوچیدنې ترسره کیږي.

لومړی نقشه: د څېړنیزو قضیو سیمې




۵ د افغانستان د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل، جون ۲۰۱۷

۶ د «سلا مشورې» لپاره عربي اصطلاح کومه چې د پریکړې بهیر تشریح کوي

دوهم جدول: په شخړې کې سروې شوې ښکېلې ټولنې

| | |
|---|---|
| هزاره بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | مالستان (غزني) |
| هزاره بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | بهسود(وردک) |
| پښتانه بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | ازره(لوګر) |
| پښتانه بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | دیرای(متون ولسوالی،خوست) |
| بلوچ بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | فراه |
| بلوچ کوچیان د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | فراه |
| تاجک بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | ده سبز(کابل) |
| تاجک او پښتون بزګر د پښتنو کوچیانو پر وړاندې | خاک جبار(کابل) |
| ازبک کوچیان د پښتنو بزګرو پر وړندې | امام‌صاحب(کندز) |

د څیړنې د دوهم پړاو لپاره عمداً یو بل ته څیرمه سیمې په نښه شوې چې د قضیو یوه څېړنه یې خپلسري (نادولتي) او بله یې د دولت لخوا تمویل شوې. د نوموړو قضیو د څېړنیو له ډلې، یوې یې د کابل په ولایت کې (د جنت ګل او کوچي آباد ښارګوټي) او بله یې د لوګر په ولایت(وزیر کاریز او دشت خاکه) کې ترسره شوې ده. (دریيم جدول وګورئ)

دریيم جدول : د کوچیانو سروې شوې میشت ځایونه

| موقعیت | ولسوالی | ولایت | قومي جوړښت |
|---|---|---|---|
| حاجي جنت‌ګل | کابل | کابل | مختلط (ګډ قومي جوړښت) |
| کوچي آباد | کابل | کابل | سهاک (ایدوخیل) |
| وزیر کاریز | خوشي | لوګر | موسی خېل (احمدزي) |
| دشت خاکه | برکی برک | لوګر | احمدزي |

په کلیوالي سیمو کې ډیری مرکې د افغان تجربه لرونکو څېړونکو له خوا د نیمه –جوړښتي پوښتنلیکونه په کارونې سره ترسره شوې. دغه پوښتنلیکونه د پروژې د پرمختګ پر مهال د څېړونکو د ځوابونو او د مرکو د پایلو پر بنسټ چمتو کیدلې. په ناجوړښتي چوکاټ کې، د دغه سند لیکوال زیات شمېر مرکې په کابل ولایت کې ترسره کړې.

# ۳. په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې انځورونه

## ۱.۳ کوچیان په افغانستان کې

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د کوچیانو کره شمېر څرګند نه دی، خو لا اوس هم د دوی شتون د پام وړ دی او پر کلیوالي اقتصاد اغیز لري. د ۲۰۰۴ میلادي کال څېړنیزه ارزونه د "فعالو کوچېدونکو" کوچیانو شمېر ۱،۵ میلیونه (د دواړو سوچه کوچانۍ کورنیو او د نیمه میشت شویو کورنیو د فعالو کوچېدونکو غړو په ګډون) ښودلې خو د دغو ارقامو دقت ته له پام پرته، دغه شمېر نن ورځ ،په یقین سره، لږ دی. کابو ۳۷۵،۰۰۰ کوچیان په ۲۰۰۴ میلادي کال کې میشت شوي دي حال دا چې ۵۰۰،۰۰۰ یا هم لږ او ډیر کوچیانو په کوچانۍ کورنیو پورې اړه درلوده خو له خپلو څارویو سره په موسمي کوچیدنې نه تلل. د سوچه کوچانیو کورنیو شمېر چې په کېږدیو کې ژوند کوي او ثابت کورونه نلري، ښایي نن ورځ نسبتاً لږ وي.[7]

ګڼ شمېر کوچانۍ ټولنې نیمه میشت شوي دي چې یو ډول نیمه میشت یا دوه بڼه ییزه کوچانۍ ټولنه یې رامنځته کړې. داسې ټولنه چې ځینې غړي یې په کورونو کې ژوند کوي او په موسمي ډول نه کوچیږي حال دا چې ځینې نور غړې یې هر کال له خپلو څارویو سره د شنو څرځایونو په لور کډه کوي. نمیه کوچانۍ ډلې هم شته چې ثابت کورونه لري خو بیا هم هر کال له ټولې کورنۍ سره د کوچیدنې په مسیرونو کې موسمي کډوالۍ ته مخه کوي.[8]

د کوچیانو د چارو د سمون لوی ریاست چې په ۲۰۰۲ میلادي کال کې رامنځته شوی، لا تر اوسه په دې نه دی بریالی چې د کوچیانو د سرشمېرنې یوه نوې سروې ترسره کړي خو داسې اټکل کوي چې ښایي په ۲۰۱۹ میلادي کال کې له ۴،۵ څخه تر ۵ میلیونه کوچیان، نیمه کوچیان او میشت شوي کوچیانو په هېواد کې شتون ولري. داسې انګېرل کیږي چې له دغې شمېر څخه به کابو له ۱۵۰،۰۰۰څخه تر ۲۲۰،۰۰۰ نیمه کوچیان وي حال دا چې نن سبا داسې بریښي چې سوچه کوچیتوب اصلاً شتون نلري. آن که دا ارقام د یو تریخ حقیقت په توګه هم ومنل شي.[9] بیا هم دا ارقام له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته د کوچیتوب د پام وړ کموالی په ډاګه کوي.

که څه هم په افغانستان کې د ژوندانه وضعیت د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ میلادي کلونو اړوند سروې (چې د ۲۰۰۴ میلادي کال د تېرې څېړنې پر اساس یې نمونه اخیستل شوې ده) دا په ډاګه کوي چې کابو ۹۵ سلنه له هغو چې ځانونه یې کوچیان ګڼل د یو لنډمهاله کور پرته بل ځای د اوسیدو لپاره نه درلود.[10] پنځم جدول د میشتېدنې د حالت په اړه هغه اټکلي ارقام راټولوي چې د کوچیانو د مشرانو لخوا څرګند شوي دي. دغه ارقام د زیاتیدونکي میشتېدنې په لور لیوالتیا تاییدوي. لومړی شکل په ۱۹ ولایتونو کې د کوچیانو، نیمه کوچیانو او میشت شویو کوچیانو د کورنیو ویش ښیي چې په اړه یې د ۲۰۱۹ میلادي کال په مې میاشت کې سروې شوې ده. پر دې سربېره، په افغانستان کې د ژوندانه وضعیت د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ میلادي کلونو اړوند سروې د معلوماتو له مخې، آن له پاتې نیمه کوچیانو، کابو ۲۰ سلنه یې له کرنې او مالدارۍ پرته په نورو فعالیتونو بوخت دي.[11]

### ۱.۱.۳ پلان شوې او خپلسرې (نا پلان شوې) میشتېدنه

د اساسي قانون له څوارلسمې مادې سره سم، کوچیان باید د حکومت د ورتیا پر بنسټ میشت شي. کوچیانو ته باید د میشتېدنې لپاره ځمکې ورکړل شي. د کوچیانو لپاره د میشت ځایونو په ډاګه کولو له تجربو څخه، یوه هم په ده سبز ولسوالۍ کې د باریکاب سیمه ده. په حقیقت کې، چارواکو د دې توان نه درلود چې خپله پریکړه پلې کړي[12] یو له هغو دلیلونو څخه چې ولې ځینې تجربې بریالۍ نه شوې، د بېلګې په توګه په لوګر ولایت کې د میشتېدنې لپاره د دشت زرغون سیمه، د میشتېدنې لپاره د کره پلان نه شتون او د موقعیتونو نا سمه ټاکنه وه.[13] د نه بریالیتوب یو بل دلیل هم دا دی چې میشتېدنه هم خپل زیانونه لري. کوچیانو خپله (نسبي) خپلواکي له لاسه ورکړه او د ځایي مهمو شخصیتونو د خیالونو (د افغانستان د پاتې نور نفوس په څېر) تابع شول:

> [مشران] له مونږه پیسې ټولوي او مونږ باید دوی ته پیسې ورکړو که دا کار ونکړو، نو بیا مو دوی ښکنځي او هڅه کوي چې مونږ په میشت ځای کې منزوي کړي.[14]

۷ فروک دي ویجر، «د کوچیانو په اړه ګڼ سکتوریزه ملي ارزونه» (کابل، ۲۰۰۵)؛ فروک دي ویجر، «د افغانستان کوچاني شپانه: بدلون او سمون،» کوچیان، ۱۱ ټوک، ۱ خپرونه (۲۰۰۷): ۹- ۳۷ مخ

۸ ایما ګراهم هاریسون، «د افغان جګړې پټه مرګ ژوبله: کوچي بزګر میشت شوي ژوند اختیاروي،» ګارډین، ۹ جنوري ۲۰۱۳؛ لیز الدن ویلي، «د څرځایونو پر سر د سولې په لټه کې» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۴)

۹ د کوچیانو ریاست له چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹

۱۰ د سرشمېرنې مرکزي اداره، په افغانستان کې د ژوندانه د وضعیت سروې ۲۰۱۲-۱۷، کابل، ۲۰۱۷، ۲۱۰ مخ.

۱۱ د سرشمېرنې مرکزي اداره، ۲۰۱۷، مخ ۹۴.

۱۲ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، ۱۳ جنوري، ۲۰۱۷.

۱۳ د څړ ځایونو د ریاست له یوه کارکوونکي سره مرکه، کابل، سپتمبر ۲۰۱۷.

۱۴ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹

اوس، د کوچیانو د چارو سمون لوی ریاست د کوچیانو لپاره پر درې ډوله میشت ځایونو کار کوي:

- ښارونو ته څېرمه ښارګوټي چېرې چې کوچیان وکولی شي میشت شي او ښاري ژوند غوره کړي.
- په لېرې پرتو سیمو کې هرې کورنۍ ته د کور، کرکیلي او څارویو لپاره ۱۰ جریبه ځمکه ورکول.
- د کوچیانو د موسمي میشت ځایونو په شا و خوا سیمو کې (روغتیایي، پوهنیزو او داسې نورو خدماتو لپاره) خدماتي مرکزونه جوړول.

د ۲۰۱۸ میلادي کال په لومړیو کې، د نورو ترڅنګ، د یوه طرحه دمخه د بدخشان په خاواش کې او نورې طرحې د بلخ، لوګر او فراه ولایتونو لپاره پلان شوې وې.[15] د ۲۰۱۹ میلادي کال د مې په میاشت کې، هغه میشت ځایونه چې د افغان چارواکو له خوا رامنځته شوي ول په لاندې ډول دي:

- بتخاک چې د کابل ښار په ختیځ کې واقع دی، له ۱۰۰،۰۰۰ څخه تر ۱۳۰،۰۰۰ پورې اوسیدونکي لري.
- نهرشاهی ولسوالۍ چې په بلخ ولایت کې واقع ده ، ۳،۰۰۰ زره جریبه[16] ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- پکتیکا ولایت چې ۱،۵۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- فراه ولایت چې کابو ۲،۵۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- نیمروز ولایت چې ۲۳،۰۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- مارجه ولسوالۍ چې په هلمند ولایت کې واقع ده او کابو ۴۵،۰۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- کوه کرز د کوچیانو میشت ځای - د کابل ښار په لویدیځ کې واقع دی چې کابو ۱،۷۰۹ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- په لوګر ولایت کې شپږ د کوچیانو میشت ځایونه چې په بېلابېلو ولسوالیو کې واقع دي، په ټولیز ډول ۳۰،۰۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.
- کاپیسا ولایت چې کابو ۴۰۰ جریبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي او ناڅرګند شمېر اوسیدونکي لري.[17]

که څه هم، په عمومي ډول، حکومتي میشتېدنه لا تر اوسه نسبتاً ناڅیزه (کمه) ده. له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته چې میشتېدنه ګړندۍ شوې، تر ډېره حده، لامل یې دولتي هڅې نه وې بلکې د هغه پر ځای، اقتصادي، سیاسي او چاپېریالي شرایط د یاد بهیر د ګړندیتوب سبب شوي ول. د سامویل هال بنسټ څېړنې دا موندلې چې له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته، میشتېدنه د کابل ولایت د کوچیانو ترمنځ خورا زیاته ګړندۍ شوې. له مرکه کوونکو کوچیانو څخه، یوازې ۰،۷ سلنه په ۱۹۷۱ او ۱۹۸۰ میلادي کلونو کې میشت شوي او ۲،۱ سلنه یې په ۱۹۸۱ او ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې میشت شوي. په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې، د میشتېدنې لومړنۍ چټکتیا را دمخه شوه: ۱۱، ۴ سلنه کوچیان د دغې لسیزې په ترڅ کې میشت شول. که څه هم، د میشتېدنې واقعي چټکتیا له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته و: ۴۴،۳ سلنه کوچیان په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۶ میلادي کلونو او ۴۱،۴ سلنه یې په ۲۰۰۷ او ۲۰۱۱ میلادي کلونو کې میشت شول.[18] د ۲۰۰۵ میلادي کال سروې وموندله چې ۱۵ سلنه کوچیان په دایمي ډول میشت شول.[19] د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د روانې پروژې مرکه کوونکو دا خبره تایید کړه چې د میشتېدنې په لور لیوالتیا ګړندۍ شوې ده.[20] یوه میشت شوي کوچي وویل چې په ۱۹۸۰ میلادي کلونو کې پاکستان ته د کوچیانو لنډمهاله کوچېدنه هغه څه وه چې کوچیتوب یې په جدي او پراخ ډول زیانمن کړ:

۱۵ له زمرد خان منګل، د کوچیانو د ریاست د جرګو، اقتصادي او میشتېدنې چارو ریاست رییس سره مرکه، مارچ ۲۰۱۸؛ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له زمرد خان منګل، د کوچیانو د ریاست د جرګو، اقتصادي او میشتېدنې چارو ریاست رییس سره مرکه، مارچ ۲۰۱۸.

۱۶ د ځمکې د اندازه کولو لپاره یو واحد دی، لکه د هکټار په څېر

۱۷ د کوچیانو ریاست له چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹

۱۸ «د کابل د نوي ښار په سیمه کې د کوچیانو د نفوس څېړنه» (کابل: سمویل هال، ۲۰۱۲) ۳.۱ جدول

۱۹ فروک دي ویجر، «د کوچیانو په اړه ګڼ سکتوریزه ملي ارزونه» (کابل، ۲۰۰۵)؛ فروک دي ویجر

۲۰ ای، ګیستوزی، «په افغانستان کې د کوچیانو- بزګرو د شخړې انځورونه «، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۸

زمونږ ځینې خلکو د روسانو د یرغل پر مهال پاکستان ته کډه وکړه او هلته یې د میشت ژوند ښېګڼې ولیدلې، بیا یې سمدلاسه خپل ټول څاروي وپلورل او ځايي کاروبار ته یې مخه کړه.[۲۱]

کوم لږ ارقام چې شتون لري هغه هم دا نظر تاییدوي چې اوس ګڼ شمېر میشت شوي کوچیان د هېواد دننه شتون لري. د کوچیانو د چارو سمون لوی ریاست یوې سرچینې دا اټکل وکړ چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې کابو دوه میلیونو کوچیانو په رسمي او غیررسمي میشت ځایونو کې ژوند کاوه.[۲۲] د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د یادې پروژې لپاره مرکه کوونکو دا اټکلي ارقام وړاندې کړل چې له مخې یې دا څرګندیږي چې د دوی د ټولنې څومره سلنه د مرکې پر مهال په بشپړه توګه میشت شوي ول (پنځم جدول وګورئ).

شلورم جدول: د قومي مشرانو د وینا له مخې دمیشت شویو کوچیانو سلنه د قومونو په توپیر (تفکیک) سره[۲۳]

| قبیلې/فرعي قبیلې | تر ۲۰۱۷ میلادي کال پورې د میشتو کسانو اټکل شوې سلنه |
|---|---|
| ناصر | ۳۰ |
| کړوخیل | ۵۵ |
| احمدزي | ۳۰ |
| سلیمانخیل | ۴۵ |
| ملاخیل | ۵-۲۰ |
| نیازي | ۲۵-۷۰ |
| سلطان خیل | ۸۰ |
| ببر | ۵۵ |
| اکبرخیل | ۲۰-۲۵ |
| موسی خیل | ۲۰ |
| تغر | ۴۰ |
| بابکر | ۴۰ |
| الله دین خیل | ۵۵ |
| تره خیل | ۸۰ |

د یادو کوچاني ټولنو ګڼ شمېر غړو بیا نیمه کوچیاني ژوند غوره کړی دی، د بېلګې په توګه، الله دین خیل کوچیان، تقریبا ۲۵ سلنې یې نیمه کوچیتوب ته مخه کړې او داسې انګېرل کیږي چې پاتې ۲۰ سلنه نور یې لاهم د سوچه کوچیتوب ژوند پر مخ وړي.[۲۴]

۲۱ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹

۲۲ د کوچیانو ریاست له چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹

۲۳ د ناصر قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، د میدان وردګ ولایت د جلریز او بهسود ولسوالیو ترمنځ د سرچشمې سیمه، ۲۲نومبر ۲۰۱۲؛ د خاروخیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، میدان وردګ ولایت، ۲۲ نومبر ۲۰۱۲؛ د میدان وردګ ولایت د لومړي بهسود سیمه کې له کوچي مشر مرکه؛۱۹ نومبر ۲۰۱۲؛ د سلیمانخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۷ مارچ ۲۰۱۷؛د ملاخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۹اپریل ۲۰۱۷؛ د ملاخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۸ اپریل ۲۰۱۷؛د ملاخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، د خوست ولایت دیرای سیمه، ۱۷ اپریل ۲۰۱۷؛ په لوګر ولایت کې د سلطان خیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۳ نومبر ۲۰۱۲؛ د لوګر ولایت د ازرې ولسوالی له د ببر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه ؛۲۸ جنوري ۲۰۱۷د اکبرخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه،۲۰ مارچ ۲۰۱۷؛ د بت خاک سیمې د کوچي آباد له یوه کوچي مشر سره مرکه، کابل، ۹ مارچ ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالی کې د تغر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۱۸ جنوري، ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالی کې د بابکرخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۸ جنوري ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالی کې د تره خیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه؛ ۱۳جنوري ۲۰۱۷.

۲۴ د الله دین فرعي قبیلې له یوه مشر سره مرکه، مې ۲۰۱۸

### ۲.۱.۳ د میشتیدنې دلایل (ولې میشتېدنه اړینه ده؟):

- اقتصادي اړتیا، بیوزلې او جګړه:

په ټوله کې، وچکالي، اوبو او څړځایونو د لاسرسي نشتون هغه ترټولو زیات یاد شوي لاملونه ول چې د میشتیدنې سبب شوي.[۲۵] لکه نیکول (Nicolle) چې یې په ګوته کوي: د کوچیتوب د پایښت لپاره اړینه ده چې یو کوچیانۍ کورنۍ لږ ترلږه له ۴۰ تر ۵۰ پورې څاروي (معمولاً پسونو) ولري، کله چې د رمې شمیر تر دې راټیټ شي، ښایي د لږو کلونو په ترځ کې ،دغه کورنۍ میشتیدنې ته اړه شي. کوچیان ډیر کله د ځمکې د پیرلو په موخه اړ دي چې آن نور څاروی خرڅ کړي، نو ځکه یې ژوند تر ډیره په نورو اقتصادي فعالیتونو پورې تړل کیږي.[۲۶] د ساموېل هال ادارې د مرکه کوونکو ۴۷ سلنه، روانه شخړه د میشتېدنې یو لامل بولي.[۲۷]

د یادې پروژې مرکه کوونکو دا خبره تایید کړې چې وچکالي، له ځایي اوسیدونکو سره شخړه، په هیواد کې د تاوتریخوالي زیاتوالی، د څارویو ناروغۍ او له شک پرته جګړه، د میشتیدنې د بهیر لاملونه دي. د مرکه کوونکو له ډلې یو تن وایي:

> [کوچیان] د ماینونو له ویرې په عمده لویو لارو او سړکونو تګ راتګ کوي چې د تګ راتګ پرمهال د مسافرینو، ځایي اوسیدونکو او حکومتي کسانو له ناوړه چلند، سپکاوي او ځورونې سره مخ کیږي.[۲۸]

- پوهنیزو، روغتیایي او عامه خدماتو ته د لاسرسي لا ښه کول:

لکه څرنګه چې زمونږ مرکه کوونکي دا خبره تایید کړې، چې میشتېدنه د کوچیانو لپاره د لا زیاتو روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو د لاسرسي لامل ګرځي، د کوم لاسرسي چې په تیر مهال کې د کوچیانو لپاره خورا ستونزمن و.[۲۹]

که څه هم ښایي یاد لامل د میشتیدنې د لومړنیو هڅو سبب نه وي، خو کله چې میشتو کوچیانو له خپلو یادو لاسته راوړنو خوښي څرګندوله، نو یې خپل نور کوچي خپلوان هم میشتېدنې ته راوبلل ترڅو یادو خدمتونو ته لاسرسی ومومي. یاد عامل له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته هغه مهال راڅرګند شو چې افغانستان له جګړې را ووت او په ترځ کې یې، د ښوونیزو او روغتیایي سیستمونو بیارغونه پیل شوه. داسې ښکاري چې یاد عامل د میشتېدنې پر بهیر د پام وړ اغیز درلود. په حقیقت کې په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې بیاکوچیتوب ته مخه کول یوه معموله چاره وه، خو له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته بیاکوچیتوب ته مخه کول ډیر لږ تر سترګو کیږي. په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې کوچانی ژوند هغو کوچیانو ته چې جګړې د پاکستان کډوالی ته اړ کړي ول زړه راښکونکی برېښنده، آن تر دې چې ګڼ شمېر یې رمې و پیرلې او د مطلق کوچاني ژوند په لور یې هڅه وکړه.[۳۰]

د ساموېل هال د څېړنې ۴۵ سلنه مرکه کوونکو، په ځانګړي ډول پوهنیزو خدمتونو ته د کوچي کوچنیانو لاسرسی او روغتیایي خدمتونو ته په پام، د میشتو کوچیانو د ژوند د ښې جذابیت د میشتېدنې د دوهم خورا اړین لامل په توګه یاد کړی دی.[۳۱] په کوچیانو کې د ماشومانو لپاره مورنۍ پاملرنه خورا لږه ده. د تعلیم نه لرل په ځانګړي ډول بل دردونکی ټکی دی. د ۲۰۱۲-۲۰۱۷ میلادي کلونو اړوند په افغانستان کې د ژوندانه وضعیت سروې د معلوماتو له مخې، یوازې ۵،۸ سلنه فعال کوچي زلمیان لوستي دي (۱۰،۲ سلنه نارینه او ۰،۷ سلنه ښځینه).[۳۲] آن میشت کوچیان، پوهنېزو خدمتونو ته فقط محدود لاسرسی لري. د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست چارواکو په ۲۰۱۹ میلادي کال کې اټکل کړی چې د میشتو کوچیانو یوازې اوه سلنه کوچنیان لومړنیو زده کړو او څلور سلنه نور یې ثانوي زده کړو ته لاسرسی لري او فقط ۰،۴ سلنه یې لوړو زده کړې کوي. همدا رنګه یوازې اته سلنه میشت کوچیان روغتیایی اسانتیاوو ته لاسرسی لري.[۳۳]

په افغانستان کې د ژوندانه وضعیت د ۲۰۱۲-۲۰۱۷ سروې د معلوماتو له مخې، د عامه اسانتیاوو په برخه کې، یوازې ۳،۹ سلنه فعال میشت کوچیان پاکو اوبو ته لاسرسی لري. له بل پلوه، کابو ۸۰ سلنه کوچي کورنۍ برېښنا ،په ځانګړي ډول شمسی برېښنا ته لاسرسی لري. فقط ۲۴،۸ سلنه کوچي کورنۍ ګرځنده (موبایل) ټیلفونونه لري.[۳۴]

---

۲۵ د کابل په نوي ښار کې د کوچیانو د نفوس څېړنه، کابل :ساموېل هال، ۲۳مخ

۲۶ Hervé Nicolle, "Qu'elle était verte ma vallée L'avenir sans terre des populations Kuchi dans le district de Deh Sabz" Revue de Mondes Musulmans et de la Méditerranée), ۱۳۳, ۲۰۱۳), p. ۲۳۵-۲۳۲.

۲۷ د کابل په نوي ښار کې د کوچیانو د نفوس څېړنه، کابل :ساموېل هال، ۲۵-۲ مخونه

۲۸ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د کوچي آباد میشت ځای، د مارچ ۳، ۲۰۱۹

۲۹ Nicolle, "Qu'elle ,tait verte ma vall,e", p. ۲۳۵-۲۳۲ ؛ په وزیر کاریز میشت ځای کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په وزیر کاریز میشت ځای کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹

۳۰ له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، دشت خاکه، بره کي برک،۴ می ۲۰۱۹؛په وزیر کاریز میشت ځای کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه،لوګر،۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په وزیر کاریز میشت ځای کې له یوه کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل

۳۱ له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، دشت خاکه، بره کي برک،۴ می ۲۰۱۹؛په وزیر کاریز میشت ځای کې له یوه میشت شوي کوچي سره د کابل په نوي ښار کې د کوچیانو د نفوس څېړنه، کابل :ساموېل هال، ۲۵-۲ مخونه .

۳۲ د سرشمیرنې مرکزي اداره، ۲۰۱۷، ۱۹۰ مخ

۳۳ د کوچیانو چارو سمون ریاست له یوه چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹

۳۴ د سرشمیرنې مرکزي اداره، ۲۱۲، ۲۳۰، ۲۳۳ مخونه

- د یو موټي ټولنې رامنځته کوونه

ګډ ژوند په دې معنی هم دی چې میشت کوچیان د هغو کوچیانو د کوچنیو کورنیو په پرتله چې د کډوالۍ په لارو کې خپرې شوي لا ښه کولای شي چې د ګڼ شمېر خپلوانو مرسته وکړي.

په پای کې کوچیان کولی شي چې یو بډایه ټولنیز ژوند ولري، مراسم او دودونه په ګډه ولمانځي او پدې ډول د یو بل ملا تړ وکړي[۳۵]. ګډ ژوند په دې معنی هم دی چې میشت کوچیان په ښه ډول کولای شي چې له نورو هغو سره مرسته وکړي، ټولنیز ژوند ولري او خپل مراسم او کلتور په ګډه ولمانځي [۳۶].

- د شتمنۍ راټولونه او د نویو مهارتونو زده کړه

له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته کله چې جګړه ظاهراً پای ته ورسیده، یو شمیر کوچیانو وکولای شول د پام وړ پانګه ټوله کړي او په مرسته یې ملکیتونو او کاروبارونو ته مخه کړې. په نورو مواردو کې یې خلیجي هیوادونو او پاکستان ته د کډوالۍ له لارې پیسې و ګټلې چې ددې پیسو لړه برخه یې بیرته افغانستان ته راوړه او دلته یې پانګونه وکړه («لومړی جدول وګورئ)[۳۷]. سره له دې، د اوږدې جګړې له امله د بیځایه کیدو په سبب هغوی و کړای شول له نویو زده شویو مهارتونو سمه ګټه واخلي او نوي فرصتونه ومومي.

**لومړی چارټ: په دیرای کې د کوچیانو پانګونه**

د ۲۰۰۳ میلادي کال په لومړیو کې د خوست په دیرای سیمه کې بزګرو او کوچیانو سره جګړه پیل کړه. ځایي اوسیدونکو د کوچیانو د هغې هڅې پر وړاندې و دریدل چې غوښتل یې په سیمه کې میشت شي. د ټرون قوم یو ځایي اوسیدونکی وایي:

> دغو کوچیانو د ظاهر شاه او داود خان د واکمنۍ پر مهال په دیرای کې لږې ځمکې واخیستې، دوی له ښارویو سره راتلل او څړځایونو ته به یې ښاروي راوستل، وروسته به پاکستان ته لاړل. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې پیسې پیدا کړې او په خپلو سیمو کې یې کورونه جوړ کړل. همدا راز له ننګرهار، پکتیا او نورو سیمو څخه یې نور نیازیان هم راوستل. دوی زمونږ پر ځمکو برید وکړ او کرنیزو ځمکو ته یې خپل ښاروي راوستل، مونږ ورته وویل ښاروي زمونږ ځمکو ته مه راولئ خو دوی نه منله. همدارنګه زمونږ پر ځمکو یې د کورونو جوړول پیل کړل، خو مونږ یې مخنیوی وکړ. مونږ دوی ته وویل چې زمونږ په سیمه کې دې ودانیزې چارې او کرکیله نه پیلوي. دوی زمونږ یو تن د چړې په واسطه سخت ژوبل کړ ، وروسته یې جګړه پیل کړه او زمونږ څو تنه یې ووژل. کوچیان له صبري قبیلې سره هم ستونزې لري چې تر دې مهاله، په جګړه کې د دواړو خواوو ۲۰ تنه وژل شوي دي[۳۸].

## ۳.۱.۳ د کوچیتوب دوبڼه والی

تر ۲۰۰۱ میلادي کال پورې او آن په ۲۰۱۹ میلادي کال کې، کوچیان او ځایي اوسیدونکي نور د تل په څیر په څرګند ډول د تفکیک وړ ډلې نه وې. څرنګه چې له پورته یادو شویو ارقامو څخه څرګندیږي، «سوچه» کوچیان له کلونو کلونو راهیسې، یو اقلیت (لږکي) ول چې نفوس یې په اټکلي ډول د دریو میلیونو په شاوخوا کې و. دوه بڼه بیزه، نیمه میشتي کوچیانۍ ټولنې هغه ستره ډله ده چې له دودیزو تعریفونو سره په ټکر کې دي: په داسې حال کې چې د نوموړې ټولنې زلمیان نارینه او ځینې نور غړي د خپلو ښارویو د څربه (غوښن) کولو لپاره د ښو وښو د پیدا کولو په لټه کې خپلو موسمي کډوالیو ته ادامه ورکوي؛ نو زیړدي ماشومان، زده کوونکي کمکیان، ناروغان او د کورنۍ نور غړي د کوچیانو د کډوالۍ د مسیر په پای کې په خپلو مستحکمو کورونو کې پاتې کیږي. د یادې ټولنې میشت غړي آن ښايي په ځینو کرنیزو فعالیتونو کې بوخت شي، که څه هم مالداري د ټولنې لپاره لومړنۍ دخوښې وړچاره ګڼل کیږي. د ځایي اوسیدونکو زیاتره یې هغه پخواني کوچیان دي چې په وروستیو کلونو کې له پخواني کوچاني ژوند څخه لاس په سر شوي، خو ښايي چې نسبتاً لویې رمې او داسې نږدې خپلوان ولري کوم چې لا اوس هم له خپلو ښارویو سره موسمي کډوالۍ ته مخه کوي. دغه ناڅرګند توپیر د شخړې د نمونو د شننې چارې خورا پیچلې کوي، خو لیکوال د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې په نمونه کې آن د څه نا څه روښانه قضیو ساتل غوره کړي، ځکه چې دغه «ناڅرګند» انځور هغه واقعیت دی چې پالیسي جوړونکي او نور هغه کسان چې دغه وضعیت ته د لاسرسي په ستونزه کې ښکېل دي، باید ورسره مخامخ شي.


۳۵ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹

۳۶ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۳مارچ ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹؛ په حاجي جنت ګل ښار ګوټي کې له میشت شوي کوچي سره مرکه، ۱فبروري ۲۰۱۹

۳۷ د کوچیانو د نیازي ټبر له یوه مشر سره مرکه، د خوست ولایت دیرای سیمه، ۸ اپریل ۲۰۱۷.

۳۸ د ټرون قبیلې له یوه کلیوال مشر سره مرکه، د خوست ولایت دیرای سیمه، اپریل ۲۰۱۷.

**۱ شکل: د کوچیانو ، نیمه کوچیانو او میشتو کوچیانو د کورنیو ویش د ولایت په توپیر سره ؛ د سروې معلومات ( له ۳۴ ولایتونو څخه ۱۹ تر پوښښ لاندې نیسي (۲۰۱۹ میلادي کال د مې میاشت)**




سرچینه: د کوچیانو د چارو سمون لوي ریاست

په شمیرنه کې د غور نشتوالی په افغانستان کې د کوچیانو پر شمېر اغیز کوي. یوې سرچینې په ۲۰۰۴ میلادي کال د ۱۷ میلیونه ځارویو په پرتله په ۲۰۱۷ میلادي کال کې د ځارویو شمېر څلور میلیونه اټکل کړی دی. په داسې حال کې چې د دغو کلونو په ترڅ کې د رمو متوسطه اندازه په یقیني ډول کمه شوې، خو داسې څرګندیږي چې د ځارویو په شمېر کې دغه ډول د پام وړ کموالی د کوچیانو په شمیر کې دوامداره او چټک کمښت تاییدوي.[۳۹] که څه هم د کوچیانو چارو د سمون لوي ریاست د کوچیانو د رمو په اړه په خپلې رواني سروې کې د ځارویو یو خورا لوړ شمېر په ډاګه کړی، چې د ۲۰۱۹ میلادي کال په مې میاشت کې یوازې په ۱۹ سروې شویو ولایتونو کې دغه شمېر له ۱۳ میلیونو څخه لوړ و.[۴۰] د ارقامو په ټولګو کې توپیر بنايي د تعریفي ستونزو له امله وي (کوچاني مالونه د کوچیانو مالونو په مقابل کې، د میشته شویو کوچیانو د مالونو په ګډون).

دوهمه نقشه د کوچیانو د کډوالۍ مسیرونو تر ټولو وروستۍ ارزونه په ډاګه کوي چې د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا د یوې تمویل شوې پروژې، PEACE ( د کلیوالي ګډون، سمون او د ظرفیت لوړتیا ) له خوا په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ میلادي کلونو کې ترسره شوې ده. له نقشې څخه څرګندیږي چې اکثریت کوچیان د هزاره جاتو څرځایونو (مرکزي لوړې سیمې) په لور کوچېدل چې دغه څرځایونه د کوچیانو له خوا په دوبي کې تر ټولو غوره ګڼل کیږي، خو نور داسې څرځایونه هم شته چې د کوچیانو له خوا د هغوی د کډوالۍ د مسیر په اوږدو کې کارول شوي.[۴۱] له همدې امله، د افغانستان زیاتره کلیوالي سیمې تر یوه حده له دغو کډوالیو اغیزمنې شوي دي.

د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ اړیکه، یوه له تر ټولو پیچلو موضوعګانو څخه بلل کیږي. تر جګړې وړاندې، لږ تر لږه یو د بل د زغملو عناصر موجود ول. د بیلګې په توګه، کوچیانو به هغو لېرو پرتو کلیو ته د پلور لپاره توکي وړل چې لاس رسی ورته خورا ستونزمن و. همدارنګه، دوي لږ تر لږه د کال په یوه برخه کې ګڼ شمېر سیمو ته، تازه غوښه او لبنیات چمتو کول. په عمومي ډول، داسې اټکل شوې چې په افغانستان کې د ټولو پلورل شویو ځارویو نږدې دوه پر درې برخه د کوچیانو له خوا روزل شوي ده.[۴۲] سربېره پر دې ، د افغانستان سړکونو د شبکې له جوړېدو سره، د کلیوالي نفوس د زیاتې برخې لپاره د کوچیانو سوداګریز فعالیتونه راکم شول.[۴۳]

۳۹ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست سلاکار سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.


۴۰ د کوچیانو د ریاست له چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹.

۴۱ په میدان وردګو کې د کوچیانو او هزاره بزګرو ترمنځ د شخړې په اړه د مخنې او معلوماتو لپاره، د کی. نوابي «ماتې اړیکې» (کابل: سي پي ای یو ، ۲۰۱۰) وګورئ.

۴۲ «د افغان وګړو د خطر راکمول» (د امریکا دمتحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداره: PEACE پروژه) http://afghanpeace.org/

۴۳ کلاوس فردیناند ، «د کوچیانو زیاتیدنه او په مرکزي افغانستان کې سوداګري،» فولک ۴، ۱۹۲۲

**۲ نقشه: له جګړې وړاندې د کوچیانو د کډوالۍ مسیرونه**




سرچینه: افغان پیس ویب پاڼه (Afghan PEACE)

## ۲.۳ په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرو د شخړې لاملونه

آن تر ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې هم په ځینو ځانګړو سیمو کې په ځانګړي ډول، د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ ښکاره کړکیچ شتون درلود. دغه کړکیچ اصلاً له دوو سر چینو پیل کیده:

- د شاهي نظام پر مهال، د حکومتي فرمان له لارې لویې سیمې د کوچیانو په نوم شوې چې دی چارې میشتو ټولنو په ځانګړي ډول هزاره ګانو ته زیان واړاوه. هزاره توکمو هڅه وکړه چې د یعقوب خان لخوا چې د ۱۸۷۸ میلادي کال له ډیسمبره د ۱۸۷۹ میلادي کال تر فبروري پورې د کابل والي و، د پورته یاد شوي فرمان **هغه** اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي، چې پر بنسټ یې په افغانستان کې د ګډوډیو او سیاسي بې ثباتۍ پرمهال پراخې ځمکې کوچیانو ته سپارل شوې وې.
- د کوچیانو رمې زیاتره د کلیو څړځایونو او کرنیزو ځمکو ته (چې پولې یې څرګندې نه دي) ننوځي، فصلونه زیانموي او دخپلو څارویو د روزلو په مو خه دبزګرو خواري په اوبو لاهو کوي. [۴۴]

د کوچیانو او کروندګرو د اړیکو د تنظیمولو لپاره دولتي هڅې ډیرې ګټورې نه وې. د خلکو ترمنځ، لږ تر لږه د هزاره توکمو ترمنځ داسې یو ذهنیت شتون درلود چې ګواکې دولت له کوچیانو ملاتړ کوي. دوي، کرنیزو ځمکو او د کلي څړځایونو ته د کوچیانو له ننوتلو شکایت کوي او زیاتوي چې دغه کار به بزګر له لا زیاتو ستونزو سره مخ کړي. [۴۵] که څه هم افغان حکومتونه تل د کوچیانو بشپړ ملاتړ نه کوي؛ د پاکستان د پولې په اوږدو

۴۴ لیز الدن ویلي، «د څړځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e؛مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳؛ لیز الدن ویلي، «د څړځایونو پر سر د سولې په لټه کې: په افغانستان کې د کلیوالي ځمکو اړیکې»، کابل: د افغانستان د څارنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۴.

۴۵ په یادې پروژه کې ټولو اتو هزاره توکمو مرکه ورکوونکو دغه احساس تایید کړی دی.

کې د دوي قاچاق د مالیې دراغونډولو په مخ کې خنډ ګرځي او ښايي دمخالفو ډلو له خوا هیواد ته دوسلو د را واردولو په موخه وکارول شي. [۴۶]

د کوچیانو د چارو سمون لوی ریاست کې سرچینو د کوچیانو د روانو شخړو راتلونکي لاملونه په ګوته کړل چې کوچیان هم په کې ونډه لري:

أ. د ځايي اوسیدونکو یا هم د نورو کوچیانو له خوا ځرځایونو ته د لاس رسي مخنیوی؛

ب. تیری کول: د کلیو د ځانګړو ځرځایونو او کوچیانو لپاره د عامه ځرځایونو د پولو پر سر شخړې ، یا هم د ځايي اوسیدونکو لخوا دا ګیله چې دکوچیانو رمې ددوی کښتونه ویجاړوي .

ج. د ځمکې غصبول او په ناقانونه ډول د ځمکو نیول: کوچیان پر ځرځایونو ودانۍ جوړوي ، یا هم ځايي اوسیدونکي ځرځایونه د کښت لپاره نیسي؛

د. د کوچیانو او دولتي چارواکو ترمنځ شخړه (کومه چې د دغې څیړنې له توان څخه لوړه ده). [۴۷]

د کوچیانو استازي تقریباً له پورتني لړلیک سره همغږي دي او د شخړې د نورو ډولونو په پرتله د ځمکې غصبول د شخړې د سرچینې په توګه اړین بولي. [۴۸] دغه ارزونه د کوچیانو د ریاست له خوا شریکه شوې ده. د ځمکو غصبول او د ځرځایونو ناقانونه نیونه د نن ورځې د شخړو تر ټولو اړین ډول ګڼل کیږي چې د شخړې پخواني ډولونه لکه د ځرځایونو د پولو او مهالویشونو پر سر شخړې یې تر پوښښ لاندې راځي. [۴۹]

د یادولو وړده چې په دې شخړو کې یوازې کوچیان او ځايي خلک ښکیل نه دي، بلکې کوچیان له نورو کوچیانو او هم له میشت شویو کوچیانو سره ورته ستونزې لري. د کوچیانو ریاست اټکل کوي چې د شته کوچیانو ، نیمه کوچیانو او میشت شویو کوچیانو نږدې **۴۵** سلنه په یو نه یو ډول شخړه کې ښکیل دي.[۵۰] په دوی کې کابو۲۰ سلنه فعال کوچیان دنورو کوچیانو پر وړاندې،۲۰ تر۷۰ سلنه بې فعال کوچیان دځايي اوسیدونکو پر وړاندې او ۱۰ تر ۲۰ سلنه نور بیا د میشتو کوچیانو پر وړاندې په شخړو کې ښکیل دي.

## ۱.۲.۳ حقوقي ابهام

د څیړنې متن وار له مخه په ډاګه کړې ده چې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ شخړه د چارواکو له خوا د ملکیت او کاري حقونو د کمزوري تنفیذ (یا په ځینو قضیو کې د نه تنفیذ ) له امله څه ډول وه او دا هغه څه دي چې ویلي (Wily ) یې د ځرځایونو د یوه «مبهم» وضعیت په څیر توصیفوي.[۵۱]

په ۱۹۷۸ میلادي کال کې د پیل شوې روانې جګړې تر اوږدې لړۍ وړاندې، افغان کوچیان له اوړې یا لنډې دمې سره په موسمي ډول په ټول افغانستان او آن له پولو هاخوا پاکستان ته (له هغو وختونو پرته کله به چې پولې تړلې وې) کوچېدل. د ۱۹۸۷او ۱۹۹۰ میلادي کلونو په اساسي قوانینو کې ځرځایونه یوازې د «دولتي ځمکې» په توګه تعریف شوي وو چې دواړه یې بیا رد شول. د ۱۹۲۰ او ۱۹۷۰میلادي کلونو قوانینو ځرځایونه د «عامه ملکیت» په توګه تعریف کړي وو. دا هغه کلونه ول چې زیاتره خلک یې لا اوس هم ارمان کوي. داسې انګیرل کیږي چې هغه مهال یو پیاوړې حکـــومت شتون درلود چې هر څه به یې پر خپل وخت تنظیم او اداره کول[۵۲] طالبانو د ځرځای او عامه ځمکې په اړه په خپل قانون (۲۰۰۰ میلادي کال) کې دوه مختلف ځرځایونه منلي وو: عامه او خصوصي چې وروستی هغه یې په ځانګړې ډول د دغو ځرځایونو د نږدې ټولنو لپاره ول. عامه ځرځایونه د «هغې ساحې په توګه تعریف شوي وو چې د کلي په پای کې د ولاړ کس لوړ غږ ترې واوریدل شي.» [۵۳] که څه هم، دغه قانون د کلیوالي ځرځایونو د مبهم تعریف له امله له زیاتو نیوکو سره مخ دی، آن تر دې چې ځینې دولتي چارواکي هم دا نیوکې مني.[۵۴] په دې اړه، د کوچیانو د چارو د سمون لوي ریاست یو لوړ پوړی چارواکی داسې وایي:

---

۴۶ فبریزیو فوسچیني، «د افغان کوچیانو ټولنیز کړاو» (برلین؛ ای ای ان، ۲۰۱۳)؛ ویجر، ایف، «ګڼ سکتوریزه ملي ارزونه» په **۲۰۰۵** میلادي کال کې د ارزونې مشري د ویجر له خوا کیده، د هغو کوچیانو لپاره چې میشت شوي، د ځاروبو له لاسه ورکول، د یو تر ټولو اړین لامل په څیر یاد شوی دی.

۴۷ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست سلاکار سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۴۸ له حاجي خان وزیر، د ده سبز او قرباغ، پوزه خروټي، باریکاب لپاره د خماریخیلو د شورا له رییس سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۴۹ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست سلاکار سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۵۰ د کوچیانو د ریاست له چارواکي سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹.

۵۱ لیز الدن ویلي، «د ځرځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳

۵۲ له ام آی بی سره مرکه، په فراه ولایت کې یو قومي مشر، جون ۲۰۱۷؛ له اس ای این مشر سره مرکه، د فراه ولایت یو کوچي، جون ۲۰۱۷؛ له ان ان ان مشر سره مرکه، نورزیو قبیله، فراه ولایت، ځايي میشتی؛ له آی بی سره مرکه، قومي مشر او کوچي، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له ام کی بی سره مرکه، کوچی قومي مشر، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ د کوچیانو د چارو د سمون د لوي ریاست له مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۵۳ کونور فولی، په افغانستان کې د ملکیت د قانون لارښود، د کډوالو نارویجي شورا/د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، **۲۰۰۵**.

۵۴ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یوه کارکوونکي سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸؛ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له زمرد خان منګل، د کوچیانو د ریاست د جرګو ، اقتصادي او ابادي ریاست رییس سره مرکه، مارچ ۲۰۱۸؛ د کوچیانو د چارو د سمون د لوي ریاست له مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷؛ له بارکزي مخلصیار، د کندز ولایت د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

> که چیرې دوی د کلي ځړځایونه او عامه ځړځایونه په دقیقه او کره ډول تعریف کړي وای، نو مونږ به د دې شاهد وو چې دغه شخړې به نیمایي ته را کمې شوې وای او د شخړې حل به هم اسانه شوی وای. [55]

که څه هم، دولتي چارواکي به تر ۱۹۷۸ میلادي کال مخکې سیستم په ښکاره او آزاد ډول تر پوښتنې لاندې را نه ولي، خو د ځړځایونو د قانون ابهام ښایي له ۱۹۷۸ میلادي کال وړاندې هم د شخړې یوه سرچینه وګڼله شي. که څه هم د عبد الرحمن خان د پاچاهۍ او ۱۹۷۸ میلادي کال د جګړې د پیل ترمنځ موده کې تاوتریخجنې شخړې ډیرې کمې وې، خو وخت نا وخت به اختلاف رامنځ ته کیده. له ۱۹۸۰ میلادي کلونو راپدیخوا ، ځایي اوسیدونکي لا زیات زړور شول او د دوی او کوچیانو ترمنځ په تیره بیا په هزاره جاتو کې تاوتریجنه شخړه پیل شوه.

د ۱۹۷۱ میلادي کال د ځړځایونو د قانون بل ضمني محدودیت دا و چې په اوږد مهال کې به د وګړو د نفوس د زیاتیدو له امله د میشت ځایونو تدریجي پراخوالی عامه ځړځایونه لاندې او له ستونزو سره مخ کړي. د «عامه ځمکو» په څیر د عامه ځړځایونو د تعریف او د هغو شاهي فرمانونو تر منځ تناقض به چې د کوچیانو ډلو ته ځانګړي ځړځایونه ورکوي، بالاخره افغان چارواکي له ستونزو سره مخامخ کړي.[56]

د دغې څیړنې لپاره مرکه کوونکو دا په ډاګه کړه چې بزګرو د کلیو شاوخوا د دوی اړوندو ځړځایونو هغه حق منلی چې له ۱۹۲۰ میلادي کلونو راهیسې د ځړځایونو معرفي شویو قوانینو په ډاګه کړی و ، خو هغه په خورا کمزوري ډول تعریف شوي او اصلاً نه دي پلي شوي. [57] داسې ښکاري چې د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت حکومتي کارکوونکي، د ۱۹۷۱ میلادي کال د ځړځایونو قانون د خپلو فعالیتونو لپاره د یوه اساس په څیر ګڼي. یوه کارکوونکي وویل: «د ځړځایونو له قانون سره سم، ځړځایونه د دولت ملکیت دی او د افغانستان هر تبعه چې څاروي لري، کولی شي له دغو ځړځایونو څخه ګټه پورته کړي.» [58]

په اصولو کې، د افغانستان د ځړځایونو قانون تل د خصوصي، د ټولنې اړوند او عامه ځړځایونو ترمنځ توپیر کړی، وروستي هغه ته یې د کوچیانو لاس رسي محدود شوی. په عمل کې، توپیر تل مبهم او نا څرګند و: د هر کلي ځانګړي ځړځایونه د هغه واټن پر بنسټ معلومیدل تر کوم ځای به چې له کلي د لوړې چیغې غږ اوریدل کیده. دغه مبهم او ناڅرګند تعریف او د کرنیزو سیمو ، کلیوالي ځړځایونو او عامه ځړځایونو ترمنځ نه جلاوالی د شخړو رامنځته کیدل اسانه کوي. [59] د ۱۹۷۱ میلادي کال د ځړځایونو قانون نه یوازې دا چې مبهم و ، بلکې خورا کمزوری پلي شوی، تر دې حده چې ګڼ شمېر بزګر آن پر دې نه پوهیږي چې دا قانون په حقیقت کې دوی ته د خپل کلي د ځړځایونو د ځانګړې کارونې حق ورکوي.[60]

آن که کله هم د قانون په اړه پوهاوي شتون ولري، دا ښکاره ده چې د بزګرو او کوچیانو ترمنځ په دې اړه توافق نشته چې هغه قانون باید څرنګه تفسیر شي. په عمل کې، مرکه شویو کوچیانو او ځایي اوسیدونکو زیاتره ځړځایونه د «خپل ملکیت» په څیر ګڼل (د دولت برخلاف). د ځایي اوسیدونکو په قضیه کې، دوی بیا د جغرافیایي نږدیوالي له امله ځړځایونه خپل ملکیت ګڼي. کوچیان د دې پرخلاف، هغه ځړ ځایونه «خپل» ګڼي چیرې چې به دوی تر جګړې وړاندې د شاهي فرمانونو پر بنسټ خپل څاروي د څر لپاره بیول. [61] کوچیان او ځایي اوسیدونکي په نه توافق، توافق کوي. یوه نیمه کوچي ازبک وویل: «د دغو ځړځایونو په اړه له کروندګرو سره هیڅ توافق نشته.»[62] د عامه او کلیوالي ځړځایونو ترمنځ نه جلاوالی او په کمزوري ډول د هغوی اړوند ټاکل شوې پولې د شخړې د اړینې سرچینې په توګه هیڅکله هم نه دي یاد شوي، یوې سرچینې دا لامل د کوچیانو او بزګرو ترمنځ د دوامداره اختلاف د سرچینې په توګه یاد کړ. [63]

---

۵۵ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸

۵۶ له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، ورس ولسوالي، بامیانو ولایت، مې ۲۰۱۸.

۵۷ د اراضي ادارې له کارکوونکي سره مرکه، کابل، سپتمبر ۲۰۱۷؛ د ځمکې د اجارې له یوه کارپوه سره مرکه، کابل، سپتمبر ۲۰۱۷. دغه راز وګورئ محمد شریف او ایم وای صفر، «په افغانستان کې د ځمکو اداره او مدیریت» (بلو مونډس: ټیرا انستیتوت، جون ۲۰۰۸).

۵۸ د ځړځایونو د ریاست له کارکوونکي سره مرکه.

۵۹ شریف او صفر، «د ځمکې اداره او مدیریت.»

۶۰ د کوچیانو او هزارګانو ترمنځ د شخړو د حل د کمیسیون له یوه غړي سره مرکه، ۱ ډسمبر ۲۰۱۶.

۶۱ له ای جی، حسن خیل له میدان ورګو څخه یو کوچي قومي مشر سره مرکه، ۸ مئ ۲۰۱۸؛ په اوبازک کلي کې د عبد الرحیمزیو ټولنې له یوه قومی مشر سره مرکه، ۲۰ ډسمبر ۲۰۱۶؛ له ای جی، حسن خیل له میدان ورګو څخه یو کوچي قومي مشر سره مرکه، ۸ مې ۲۰۱۸.

۶۲ د کالم ګذر سیمې د ازبک بیګ کوچي قبیلې له قومي مشر سره مرکه، اپریل ۲۰۱۷.

۶۳ په کوه دانا سیمه کې د الکوزي قبیلې له قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷.

د ځر ځايونو د قانون يوه ستره ستونزه دا ده چې په اوږد مهال کې د کليوالي ميشت ځايونو پراختيا کولی شي د عامه ځر ځايونو غځېدنه خورا زياته اغېزمنه کړي. د يو کلي په بهرنۍ څنډه کې د يو لږ شمېر نويو کورونو ودانول کولای شي چې د هماغه کلي ځرځايونه تر څو سوه متره د عامه ځرځايونو د زيان په بيه وغځوي. په واقعيت کې، په مرکزي لوړو سيمو کې هزاره توکمه ځايي اوسيدونکو خپلې غوښتنې د کلي پر ځرځايونو د حق درلودلو له پلوه څرګندې کړې کومې چې د دوی په اند ، تر جګړې وړاندې په پراخه کچه له پامه غورځول شوې وې. څکه چې د هزاره توکمو ميشت ځايونه پراخ شوي دي او نوي ميشت ځايونه د دې لپاره جوړ شوي چې په لوړو مرکزي سيمو کې له لرو شته ځمکو ګټه پورته کړي، زياتره هغه ځمکې چې يو وخت عامه ځرځايونه ګڼل کيدل، اوس په تخنيکي ډول د کلي ځرځايونه دي. خو ځايي اوسيدونکي له دې څخه په وېره کې دي چې کوچيان به پر دې اعتراض وکړي چې د دوی پخواني ځرځايونه د بل چا له خوا کارول کيږي. ځايي اوسيدونکي په کراتو د دې ادعا کوي چې د دوی کليو ته څېرمه عامه ځرځايونه يوازې د دوی د څارويو لپاره دي، په تيره بيا کله چې دوی زيات شمير څاروي د پيولو لپاره لري. په دې وروستيو کلونو کې د افغانستان په ځينو سيمو لکه هزاره جاتو کې، بزګرو خورا زيات د خپلو څارويو شمير ډېر کړی څو خپل خورا کمزوری ځايي اقتصاد متنوع کړي ( لاندې «د څارويو د روزنې خپرېدا «برخه هم وګورئ). [24]

د «مالکيت» پورتنۍ ادعاوې د دې لامل شوې چې په يو شمير سيمو کې کوچيان په عامه ځرځايونو کې په ناقانونه ډول ميشت شي، ياهم دا چې کوچيان او ځايي اوسيدونکي هغه ځرځايونه وکاروي چې پخوا به د نورو له خوا کارول کيدل کوم چې به په مطلق ډول ځرځايونو ته له لاسرسي څخه منع کيدل. په داسې حال کې چې پر عامه ځرځايونو ميشتيدنه په څرګند ډول ناقانونه ده، د ځر حقونو پر سر سيالي يوه لا پيچلې موضوع ده. له يوه پلوه، عامه ځرځايونه بايد ټولو هغو کسانو لپاره د لاسرسي وړ وي چې څاروي لري او وښو ته اړتيا لري. لکه څرنګه چې د ځرځايونو په رياست کې يوه لوړ پوړي چارواکي وويل: «د ځر ځايونو له قانون سره سم، ځر ځايونه د دولت ملکيت دی او د افغانستان هر تبعه چې څاروي لري کولی شي له دغو ځر ځايونو څخه ګټه پورته کړي.» [25] له بل پلوه، د شاهي دورې د وخت داسې فرمانونه شته چې ځانګړي عامه ځرځايونه ځانګړو کوچيانيو قبيلو ته ورکوي.

د نورو پر ملکيت تيري کول ښايي د يوې کوچنۍ موضوع په څير ښکاره شي، خو د دغې کړنې د زياتيدو احتمال شته. سربيره پر دې، دا ډول تيری د کروندو په ويجاړولو سره په پراخه کچه پيښ شوي هم دي (همدارنګه دوهم جدول وګورئ).

په لنډ ډول، کوم څه چې مرکه کوونکو، څيړونکو ته ويلي له هغه څه سره سمون لري چې په شل کلنو پخوانيو شته ادبياتو کې يې وار د مخه شتون درلود. که څه هم، د کليوالي او عامه ځرځايونو په اړه د لا روښانه تعريف په اړه بحث له کلونو راهيسې روان دی، د راپورونو له مخې، د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ ميلادي کلونو د ځرځايونو د نوي قانون مسوده د کليوالي ځرځايونو يادونه نوره نه کوي. دغه بدلون او پرمختګ د کوچيانو له خوا له چارواکو سره د لابي کولو په پايله کې رامنځ ته شوی دی.[26] اوسنی قانون (۲۰۱۷) يو ځل بيا کليوالي ځرځايونه معرفي کوي، د کومو پولې چې بايد د ځانګړو مقرراتو له لارې وټاکل شي (احتمالاً له کلي څخه تر دريو کيلو مترو پورې). [27]

د سيالۍ لپاره يو بل لامل هم شته چې د قانون او مقرراتو له ناڅرګند يا کمزوري پلي کيدو څخه سرچينه اخلي، هغه څه چې د کوچيانو لپاره د کوچيدنې د مهالويشونو نشتون ګڼل کيږي. د يوه ځايي اوسيدونکي له خوا لاندنيي شکايت د هغه څه بيلګه ده چې نورو ځايي اوسيدونکو، مرکه کوونکو ته ويلي ول:

> دوي بايد لومړی په ځرځايونو کې خپل څاروي وپيايي او بيا وروسته زمونږ ځمکو ته راشي، خو وروسته له هغې چې موږ خپل حاصلات ټول کړو. برعکس، که چيرې کوچيان زموږ ځمکو ته داسې مهال راشي چې موږ خپل حاصلات ټول لوو، نو په يقيني توګه شخړه به رامنځ ته شي. په داسې حالت کې به موږ د دوی د مخنيوي لپاره له هر ډول ځواک څخه کار واخلو.[28]

۲۴ د کوچيانو او هزارګانو ترمنځ د شخړو د حل د کميسيون له يوه غړي سره مرکه، ۱ډسمبر ۲۰۱۲؛ د هزاره توکمو له يوه قومي مشر حاجي ايچ ای سره مرکه، د باميانو ولايت ورس ولسوالۍ، مې ۲۰۱۸. له جاجي آر ای، د باميانو ولايت يوه قومي مشر سره مرکه، مې ۲۰۱۸.

۲۵ د ځر ځايونو د رياست له يوه کارکوونکي سره مرکه، کابل، سپتمبر ۲۰۱۷.

۲۶ ليز الدن ويلي، «د ځر ځايونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه" Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e جون۲۰۱۳، مخ ۱۳۳.

۲۷ د اراضي رياست له کارکوونکي سره مرکه، سپتمبر، ۲۰۱۷

۲۸ د نورزيو قبيلې له يوه مشر سره مرکه، د فراه ولايت ننګاب ولسوالۍ، جون ۲۰۱۷

### د قضیې څېړنې دوهم چارت: په هزاره جاتو سیمه کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې وده

په افغانستان کې د کوچیانو او بزگرو د شخړې تر ټولو غوره څېړل شوې سرچینه له کوچیانو سره د هندوکش غرونو په هزاره میشتو لمنو کې څړځایونو ته د لاس رسي پر سر له هزاره کروندگرو سره سیالي ده. یاده شخړه د ۱۹ مې پیړۍ په وروستیو کې د نوي رامنځته شوي افغان دولت له خوا د هزاره گانو د کنټرولولو لپاره د کوچیانو په کارولو کې ژورې تاریخي ریښې لري.[۶۹] په حقیقت کې د دغې څېړنې په ترڅ کې، چارواکو او نورو مرکه کوونکو په کابل کې په سملاسي ډول خپل پام د هزاره گانو او کوچیانو پر شخړې متمرکز کړی و، او داسې ادعا کېده چې گواکې هزاره گان د غچ اخیستلو په نیت، مرکزي لوړو سیمو ته د کوچیانو د کوچېدو لارې په دای میرداد، حصه اول او نورو سیمو کې د دوی پر مخ تړي. له شک پرته، تر کومه چې چارواکي د ۱۹۷۱ میلادي کال پر قانون تکیه کوي، د افغانستان د لوړو مرکزي سیمو څړځایونو ته د لاس رسۍ لارو په تړلو سره، هزاره میشتې ټولنې د کوچیانو له خوا د زیاترو څړځایونو د کارونې مخه نیسي. اوس مهال، شخړه د کوچیانو د کډوالۍ د مسیرونو په هغو لارو پورې محدوده ده، کومه چې د هزاره جاتو څړځایونو ته د لاس رسي مخه ډب کوي. دغه لارې د هزاره توکمو ځایي ملیشو له خوا کنټرولیږي.

داسې ښکاري چې د کروندگرو ټولنو له خوا د کوچیانو د کډوالۍ لارو تړل، اکثراً د هزاره جاتو په جنوبي برخو کې، په تیره بیا د میدان وردگ ولایت په بهسودو ولسوالۍ او دغه راز د غزني ولایت په ځینو برخو کې رامنځته شوي دي. د بهسودو ولسوالي د مرکزي افغانستان څړځایونو ته د لاس رسي یو له اصلي مسیرونو څخه گڼل کیږي. د دغه مسیر په تړلو سره، هزاره گانو ، د کوچیانو لخوا د هزاره جاتو څړځایونو ته له لاس رسي مخنوی کړی دی.[۷۰] د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ شخړې په کوچنۍ کچه په ۲۰۰۴ میلادي کال کې پیل شوې، چې بیا وروسته په ۲۰۰۷ میلادي کال کې په پراخه کچه زیاتې شوې. څړځایونو ته د کوچیانو د لاس رسي د مخنیوي د توجیه لپاره یو لامل دا یاد شوي چې فصلونو او د کلي څړځایونو ته د زیان مخه ونیسي، له بهسودو ولسوالۍ څخه یوه قومي مشر داسې وویل:

> ... کوچیانو [...] هڅه وکړه چې له خپلو زرگونو څارویو سره د افغانستان مرکزي ولایتونو ته راشي [...]. د بهسودو ولسوالۍ د دویمې حصې، د کجاب سیمې په دان برک کلي کې جگړه پیل شوه. کله چې کوچیان د دان برک کلي له لارې له خپلو زرگونو څارویو سره پر کرنیزو ځمکو تیریدل او غوښتل یې تر بامیانو خپل سفر ته ادامه ورکړي، دوي د یوه بزگر له خوا ودرول شول او اجازه یې ورته ورنکړه چې د هغه له ځمکې تیر شي، خو کوچیانو پر هغه بزگر ډزې وکړې او ویې واژه. تر دې پیښې وروسته د هزاره توکمو او کوچیانو ترمنځ جگړه پیل شوه. [...] ځکه چې د وردگو ولایت د کوچیانو لپاره د بامیانو او غور ولایتونو ته د ننوتلو دروازه گڼل کیږي، دوي له خپلو زرگونو څارویو سره زمونږ له ځمکو تیریږي او زمونږ فصلونه ویجاړوي.[۷۱]

دا شخړه د ۱۹ مې پیړۍ په وروستیو کې د نوي رامنځته شوي افغان دولت له خوا د هزاره توکمو د کنټرول لپاره د کوچیانو په کارولو کې ژورې تاریخي ریښې لري.[۷۲] یوه هزاره توکمه قومي مشر د هزاره توکمو له نظره، وضعیت په دې ډول بیان کړ:

> کله چې یعقوب خان د کابل والي و، هغه یو فرمان صادر کړ چې کوچیانو ته یې د افغانستان د مرکزي ولایتونو د څړځایونو د کارونې اجازه ورکوله. ځکه چې مونږ کمزوري وو، [...] مونږ کوچیانو ته اجازه ورکړه چې هر څه یې زړه غواړي، زمونږ په سیمه کې ترسره کړي او مونږ غلي پاتې شوو. نو له همدې امله، دلته کومه جگړه نه وه. د حبیب الله خان، ظاهر شاه او نورو د حکومتونو واکمنۍ د طالبانو د واکمنۍ په څېر وې.[۷۳]

د بهسودو هزاره توکمه کروندگر ښایي هغه وگړي وو چې د کوچیانو د موسمي کډوالۍ له امله تر ټولو زیات زیانمن کیدل، ځکه چې دا د لاس رسي اصلي ځای و چې په زرگونو څاروي له دې لارې تیرېدل. د کلي ناځرگند او ناخوندي څړځایونو او فصلونو ته زیان د پام وړ او ښایي تر بلې هرې سیمې زیات و، چې له دغه ځایه تر تیریدلو وروسته به کوچیان په بېلابېلو لارو خوریدل.[۷۴] حال دا چې کوچیان، فصلونو او د کلي څړځایونو ته د زیان رسولو هر ډول ادعا ردوي،[۷۵] خو یوه کوچي مرکه کوونکي ومنله چې ستونزه ښایي موجوده وي او زیاته یې کړه:

> حکومت باید له دغو قومندانانو او هزاره گانو او دغه راز له مونږ څخه وسلې ټولې کړي او هغوي ته ووایي چې کوچیان په غرونو کې پریږدي او همدارنگه کوچیانو ته ووایي چې د هزاره گانو د کرنیزو کروندو او ساحو له لارې تیر نه شي...[۷۶]

۶۹ اس. ای. موسوي، د افغانستان هزاره گان، لندن، کورزن، ۱۹۹۸؛ حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ، ۱۸۲۳-۱۹۰۱، لیدن: بریل، ۲۰۱۲.

۷۰ د څړځایونو د ریاست له کارکوونکي سره مرکه، ۲ جنوري ۲۰۱۷؛ د میدان وردگو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۷۱ په بهسودو ولسوالۍ کې د کجآب سیمې په لته بند کلي کې د بزگرې ټولنې له یوه مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۷۲ اس. ای. موسوي، د افغانستان هزاره گان، لندن، کورزن، ۱۹۹۸؛ حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ، ۱۸۲۳،۱۹۹۱، لیدن، بریل ۲۰۱۲. په بهسودو ولسوالۍ کې د کجآب سیمې په لته بند کلي کې د بزگرې ټولنې له یوه مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۷۳ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کارواني کلی، فبروي، ۲۰۱۷.

۷۴ په بهسودو ولسوالۍ کې د دوهمې حصې د کجآب سیمې د بزگرې ټولنې له یوه مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کارواني کلی، ۱۵ فبروي، ۲۰۱۷.

۷۵ په میدان وردگو ولایت کې د خاروخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ نومبر ۲۰۱۲.

۷۶ په میدان وردگو ولایت کې د خاروخیلو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ نومبر ۲۰۱۲.

په بهسودو کې شخړې هغو کوچیانو ته د پام وړ اقتصادي زیان اړولی، کوم چې په دې نه دي توانیدلي چې د مرکزي هزاره جاتو له څړځایونو څخه ګټه پورته کړي. په ځینو مواردو کې، کوچیانو د خپلې کوچیدنې مسیرونه د هیواد په بېلابېلو برخو کې د نورو څړځایونو په لور بدل کړي او په ځینو نورو مواردو کې یې خپل څاروي له لاسه ورکړي. څرنګه چې دوامدارو جګړو د ځایي بزګرو د فصلونو د کرکیلې مخه نیولې ده، نو ځکه دوی تر نورو ډیر زیانونه لیدلي دي[۷۷]

دغه راز ډلو ټپلو او لابي ګانو هم د جګړه مارو ډلو لپاره سیاسي ملاتړ برابر کړی چې د شخړې د لا زیات سیاسي کیدو او «قومي» کیدو لامل شوي او همدارنګه یاده ستونزه د رسنیو تر زیات پوښښ لاندې نیول شوې ده. د شخړې ځایي لاملونو هغه مهال په تدریجي ډول، خپل ارزښت له لاسه ورکړ چې یاده شخړه له پراخ سیاسي غبرګون او مخالفت سره مخ شوه. [۷۸] د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت یوه چارواکي وویل:

> دغه شخړه د څړځایونو پر سر د ستونزې په نسبت، تر زیاته حده یوه سیاسي شخړه ده. دا ستونزه د څړځایونو د کارونې په اړه د ځمکو د قانون له لارې نه حل کیږي. د دغو شخړو د حل لپاره کمیسیون آن یو ځل هم موږ ته رانغی او له موږ څخه یې د څړځایونو د قانون په اړه و نه پوښتل. دا یوه سیاسي ستونزه ده. خورا لوړ پوړي چارواکي، آن بهرني هیوادونه په دغې شخړه کې لاسوهنه کوي. [۷۹]

په داسې حال کې چې په بهسودو ولسوالۍ کې شخړه په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرو ترمنځ د شخړې تر ټولو په تاوتریخجنې شخړې اوښتې، د دې احتمال شته که چیرې د کوچیانو د کوچیدنې پر مخ بندې لارې پرانستل شي، شخړه به مرکزي لوړو پرتو سیمو ته وغځیږي، که څه هم په ټیټه کچه وي. د بېلګې په توګه، په مالستان کې مرکه کوونکو له هغه راهیسې چې لارې تړل شوي کوچیان نه دي لیدلي، خو په ډاګه کړې یې ده چې که چیرې کوچیان راشي دوی د جګړې لپاره چمتو دي. [۸۰]

د دې له امله هغه کوچیان چې په هزاره جاتو کې ځمکې لري خپلو ځمکو ته لاس رسی نلري، د ځمکو پر سر هم یو لړ شخړې را ولاړې شوي چې د کوچیانو او بزګرو پر شخړه یې اغیز کړی دی. داسې ادعا کیږي چې ځایي بزګرو او ځینو زورواکو (چې معمولاً د ځایي چارواکو له خوا یې ساتنه او ملاتړ کیږي) د یو شمیر کوچیانو کرنیزې ځمکې غصب کړي چې له امله یې اوس مرکزي لوړو سیمو ته د کوچیانو د بیا لاس رسي په برخه کې لږه لیوالتیا لري. د ورته سبب له امله، دوی بنایي د بهسودو او دای میرداد له بزګرو سره خپل ملاتړ جاري وساتي [۸۱] د بامیانو په ولایت کې یوې ځایي سرچینې دا تایید کړه چې د کوچیانو یو شمیر ځمکې د هزاره توکمو قومندانانو له خوا غصب شوي، په داسې حال کې چې پاتې نورې یې د هغو بزګرو له خوا نیول شوي چې له پخوا راهیسې یې پرې کر کیله کوله. د سرچینې له معلوماتو سره سم، په بامیانو کې د کوچیانو ۸۰ سلنه ځمکه ضبط یا غصب شوې ده. زیاتره وخت، قومندانان ځمکه هغو کروندګرو ته پریږدي چا چې له کوچیانو څخه په کرایه اخیستې وه. [۸۲]

یوه کوچي مرکه کوونکي وویل چې کوچیان په دې ویره کې دي که چیرې دوی له هزاره جاتو لاس په سر شي، نو په ټول هیواد کې به له ټولو نورو څړځایونو څخه هم وایستل شي، او بزګرې ټولنې به د دې احساس وکړي چې د زیرمو له کمښت سره د مخامخ کیدو په صورت کې د کوچیانو تنګول یوه بریالۍ تګلاره ده:

> موږ به له دوی سره جګړه وکړو، که چیرې دا کار و نه کړو، دوی به موږ ته دلته اجازه را نه کړي، سبا به په شمال کې او بل وخت به په جنوب کې موږ ته خلک اجازه را نه کړي. [۸۳]

کوچیان پر دې ټینګار کوي چې دوی د خپلو سترو رمو د مړولو لپاره د هزاره جاتو څړځایونو ته اړتیا لري. د کوچیانو یوې سرچینې وویل: «که چیرې هزاره ګان موږ ته اجازه را نه کړي، بیا موږ اړ یو چې له تاوتریخوالي کار واخلو، ځکه موږ کومه بله لار نه لرو. په هزاره جاتو کې ښه واښه شته.» [۸۴] سره له دې چې د ۲۰۱۷ میلادي کال د سپرلي راهیسې سیمه ارامه وه، د ملا خیلو یوه سرچینه ادعا کوي: «که چیرې دا ستونزه حل نه شي، موږ چمتو یو چې له هر ډول تاوتریخوالي څخه کار واخلو.» سرچینې د دې ګواښ وکړ که چیرې سیمې ته لاس رسي پر سر خبرې اترې پرمختګ و نه کړي، دوی به له وسله والو مخالفو ډلو سره اړیکې ټینګې کړي. [۸۵]

۷۷ په بهسودو ولسوالۍ کې د ۲ حصې د کجآب سیمې، د ګندآب کلي له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کاروانې کلی، فبروي، ۲۰۱۷.

۷۸ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۷۹ د کرنې وزارت د څړ ځایونو د ریاست له یوه کارکوونکي سره مرکه، ۲ جنوري ۲۰۱۷.

۸۰ په مالستان کې له دریو هزاره توکمو بزګرو سره مرکې ترسره شوي او درې واړو یې مشابهه نظریات لرل.

۸۱ د افغانستان د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل، جون ۲۰۱۷؛ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، جلال خیل قبیله، میدان وردګ ولایت، جون، ۲۰۱۷. له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، بهرام خیل قبیله، لوګر، جون ۲۰۱۷.

۸۲ د کلي له یوه مشر سره مرکه، پنجاب ولسوالي، بامیان ولایت، جولای ۲۰۱۷.

۸۳ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، د میدان وردګو ولایت بهسود اول، نومبر ۲۰۱۲.

۸۴ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، سلمانخیل قبیله، مارچ ۲۰۱۷.

۸۵ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، ملاخیل قبیله، غزني ولایت، اپریل ۲۰۱۷.

### ۲.۲.۳ د حکومت کمزورتیا، نه اغېزمنتوب او فساد

افغان حکومت د کوچیتوب د مدیریت او د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې د مخنیوي لپاره خورا محدود ظرفیت لري. د کوچیانو ریاست آن د څارنې لپاره د لاس رسي وړ سیمو ته کافي ټرانسپورټ نه لري.[۸۶] په خوست کې د کوچیانو ریاست د ۲۰۱۸ میلادي کال لپاره د ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو عملیاتي بودجه او د ملاتړو کارمندانو په ګډون، زیات شمېر کارمندان درلودل چې په نوموړي ولایت کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې نږدې ۲۰ کوچنۍ او سترې قضیې سمبالولې.[۸۷] په وردګو کې، سره له دې چې یو له هغو ولایتونو څخه ګڼل کیږي چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې له امله ډېر ځپل شوی، د ۲۰۱۸ میلادي کال په لومړیو کې په دغه ولایت کې د کوچیانو ریاست د یوه ساتونکي په ګډون، څلور کارکوونکي درلودل.[۸۸] د دغه ریاست د فراه ولایتي څانګې په ۲۰۱۸ میلادي کال کې له ټرانسپورټ پرته، د لګښتونو لپاره ۱۴۵ امریکایي ډالره عملیاتي بودجه درلوده، سره له دې چې په دغه ولایت کې ۸۲،۳۰۰ کوچیان ثبت شوي.[۸۹] د یاد ریاست د کندز څانګې د یوه صفا کار او یوه ساتونکي په ګډون پنځه کارکوونکي درلودل چې له ۲۲،۲۴۳ کوچي کورنیو سره یې سر و کار درلود.[۹۰]

نورې دولتي ادارې چې له کوچیانو سره له بېلابېلو لارو ښکیلې دي، آن ښایي ځینې وختونه د شخړې د حل پرځای، د شخړې په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. د بېلګې په توګه: په وزیر کاریز (لوګر) کې، د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت د کوچیانو لپاره د میشتېدنې سیمه په ګوته کړه. وروسته تر هغې چې میشت شویو کوچیانو د کرکېلې لپاره د ځمکې پر چمتو کولو پیل وکړ، د نورو کوچانیو ټولنو په تېره بیا د ببر قبیلې پام هم د دغې ځمکې په لور واوښت. د لوګر چارواکي، دغه نورې ټولنې د کډوالو په توګه پیژني، د اراضي ریاست د دوی پلوي وکړه او ورته یې د هغې پراخې ځمکې ویش پیل کړ چې یو ځل موسی خیلو (۳۰۰۰ جریبه) ته ځانګړې شوې وه، خو موسی خیلو ته یې د ځمکې د ملکیت سندونو له ویش څخه ډډه کوله. موسی خیل د اراضي پر ادارې د فساد تور پورې کړ او هم یې د دې احساس وکړ چې د ټولنې په دننه کې خپلې مرستې زیاتې کړي تر څو دا یقیني کړي چې د لوګر ولایت په اداره کې د دوی قضیه ځینې مدافعین لري. د ببرو او موسی خیلو ترمنځ په ناڅاپي توګه شخړه پیل شوه. موسی خیل په دوامداره توګه د ښاري پراختیا وزارت له ملاتړ څخه برخمن ول. د شخړې واقعیت داسې و چې یو شمېر موسی خیلو له هغو اصلي پولو تیری پیل کړ چې د چارواکو له خوا ټاکل شوې وې او همدارنګه د ځمکې غصبولو ته یې مخه کړله.[۹۱]

له «کډوالو» سره نښتې په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ میلادي کلونو کې پیل شوې چې زیاتره به یې د پولیسو مداخلې ته اړتیا درلوده. د اصلي نښتې پر مهال، په دواړو خواوو کې خلک ټپي شول، خو موسی خیلو جګړه وګټله او لس مخالفین یې ونیول. پولیسو په دې وخت کې مداخله وکړه او له دواړو خواوو یې قومي مشران ونیول. حاجي نعیم کوچي د نیول شویو «کډوالو» د راخوشې کولو په بدل کې د موسی خیلو د مشرانو د راخوشي کولو لپاره لابي وکړه، خو موضوع لا تر اوسه نه ده حل شوې. تر ټولو وروستۍ نښته د ۲۰۱۹ میلادي کال په لومړیو کې رامنځ ته شوه.[۹۲]

د میشتیدنې ځینې طرحې تر ډېره حده د ناوړې ګټې اخیستنې او اداري فساد له امله اغېزمنې شوي دي، د بېلګې په توګه د حاجي جنت ګل ښارګوټی.[۹۳] دلته، د «ځواکمنو کوچي مشرانو» د لاسوهنې له امله یا د ګڼ شمېر کوچي ګټه اخیستونکو د نه وړتیا له کبله چې د دې توان یې نه درلود چې پر خپلو نومرو ودانۍ ابادې کړي، نو ځکه په حقیقت کې زیاتره ځمکې پر ځایي اوسیدونکو یا هم پر هغو کوچیانو وپلورل شوې کومو چې د ملکیت اسناد نه درلودل (ځکه چې د دوی ټولنو دغه ځرځایونو په دودیز ډول نه کارول) یا ځینو نورو (یا آن ګڼ شمېرو، د مشخصو روایتونو سره سم) چې ښایي دغه ځمکې په وړیا توګه تر لاسه کړې وي. یو شمېر ځواب ورکوونکو آن باور درلود چې په حقیقت کې هیڅا وړیا نومره نه ده ترلاسه کړې. په ۲۰۱۹ میلادي کال کې داسې اټکل شوی چې ښایي د جنت ګل ښار ګوټي نیمایي اوسیدونکي اصلاً کوچیان نه وي. د جنت ګل په ښار ګوټي کې د نومرو نرخ د ۵۰،۰۰۰ افغانیو (د هرې څلور بسویي نومرې پر سر) له خپل اصلي نرخ څخه نن ورځ نږدې ۳۰۰،۰۰۰ افغانیو ته لوړ شوی چې اوس زیاتره کوچیان یې د رانیولو توان نلري. یوه سرچینه ادعا کوي چې یوه کوچي زورواکي د دغه ډول ځمکو له پلور څخه ۳۵ میلیونه امریکایي ډالر تر لاسه کړي؛ دغه شخص او د ده کورنۍ په دغه ښارګوټي کې د ځمکې د راکړې ورکړې له ټولو معاملاتو فیس اخلي. د ده ۵۰ کسیزه وسله واله ډله په ګواښولو سره ځایي اوسیدونکي د دغو پیسو ورکولو ته اړ باسي. دغه زورواکي همدارنګه په ښارګوټي کې د ترسره شویو دولتي کارونو او خدمتونو په بدل کې نغدي پیسې او دغه راز له هټیو او د بل هر اقتصادي فعالیت په بدل کې مالیه ټولوي. د دې تورونه هم شته چې یوه نومره

۸۶ له موسی پوپل، د لوګر ولایت د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۸۷ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو کارکوونکي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۸۸ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۸۹ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له مولوي عبد الرحمن د فراه ولایت د علماؤو شورا غړي، منځګړي سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸.

۹۰ له بارکزي مخلصیار، د کندز ولایت د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۹۱ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹.

۹۲ ؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۹۳ د ولسمشر حامد کرزی په امر په ۲۰۰۹ کال کې تاسیس شو.

پر ګټو پېړودونکو پلورل شوې او هغه نومرې چې پخوا پلورل شوې له پېړدونکو بېرته په زور نیول شوې او بیاځلي پلورل شوي دي. [۹۴] چارواکي په هیڅ یوه دغو چارو کې لاسوهنه نه کوي.

د لوړ پوړو دولتي چارواکو له خوا د ځمکې د غاصبینو رول نه یوازې دا چې زغمل شوی بلکه بنایي چې هڅول شوي هم وي. دغه لوړ پوړو چارواکو لږ تر لږه د ځمکو د ویش په ځینو طرحو کې پر کوچي زورواکو د شریکانو په توګه تکیه کوله. یوه دولتي کارکوونکي په دې اړه خپل اند داسې څرګند کړ:

> دا نا سمه ده چې د [ځمکې د ویش] په دغه ډول طرحو کې پر یوه شخص باور وشي. دا د ځمکې غصب او شخصي ګټه ګټل کیږي. [۹۵]

د اداري فساد او ناوړه ګټې اخیستنې پرته، هغه ځواک چې زورواکي یې د میشتېدنې له پروسې تر لاسه کوي، کولای شي دوی د شخړې په لا ځواکمنو لوبغاړو بدل کړي. په ځانګړو سیمو کې د کوچیانو د میشتېدنې لپاره د حکومتي خپرونې په نشتون کې، دوی به یا په ښارونو کې پاتې کیږي یا هره ټوټه ځمکه چې پیدا کوي، غصبوي به یې. ډیر لږ شمېر کوچیان د ځمکې د رانیولو لپاره اسانتیاووي لري، یوه بله بدیله لاره چې شته هغه دا ده چې هر چیرې چې کولای شي ځرځایونه غصب کړي. د میشتېدنې لپاره د دولت کمزوري، غیر منسجم او سوکه اقدام د هغو زورواکانو د عمل لپاره پراخه فضا رامنځته کړې چې هڅه کوي خپلې شخصي ټاکنیزې حوزې جوړې او شخصي ګټې ترلاسه کړي.

## ۳.۲.۳ ښاري پراختیا

په څرګند ډول بل اغیزمن لامل چې د ځرځایونو پر سر د شخړو په زیاتیدو کې مرسته کوي، ښاري او نیمه ښاري پراختیا ده. د مرکه کوونکو ترمنځ په دې اړه د نظر ټولګې شتون درلود چې په ځینو قضیو کې دغه بهیر د هغه ځرځایونو ارزښت لوړ کړی چې پخوا د کوچیانو له خوا کارول کیدل. له دې امله، ځایي کلیوال، له پاکستان څخه بیرته راستانه شوي ګډوال او زورواکي هڅه کوي چې دغه ځرځایونه تر خپلې ولکې لاندې راولي ترڅو پرې ودانۍ ابادې کړي یا یې وپلوري. [۹۶] له سترو ښارونو سره ترلې نږدې سیمې تر ډېره بریده ځامخا اغیزمنې شوي دي، لکه ده سبز او خاک جبار ولسوالۍ (کابل ولایت، دربیم جدول وګورئ). [۹۷] زموږ په نمونه کې په نورو بیلګو کې خوست شامل دی. [۹۸] یوه کوچي قومي مشر خوست ولایت ته څیرمه په دیرای کې د وضعیت په اړه داسې وویل:

> دا یوه خورا زیاته قیمتي ځمکه ده، خوستیان غواړي موږ وګواښي ترڅو له موږه دغه ځمکه واخلي. د دغې ځمکې یو هکټاره ۱۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالر ارزښت لري. [۹۹]

دا یوازې د کابل یا د نورو سترو ښاري سیمو ستونزه نه ده. د بېلګې په توګه، سرچینو په دې اړه په فراه ولایت او د کندز ولایت په امام صیب ولسوالۍ کې هم راپورونه ورکړي. [۱۰۰] د یوه قومي مشر له معلوماتو سره سم، دغه راز په ازره کې هم د شخړې امکان هغه مهال زیات شو چې د ځمکې نرخ په ډراماتیک ډول لوړ شو، ده وویل:

> زموږ شخړه په خلیل آباد کې هغه مهال پیل شوه چې د ستانکزیو قبیلې په خلیل آباد کې زموږ ځرځایونه غصب کړل، دغه شخړه تر دې پخوا نه وه پیل شوې ځکه چې د ځمکې ارزښت لوړ نه و. خو اوس کله چې ځمکه ګرانه شوه، نو دغو زورواکو د خلکو ټولې سیمې غصب کړې او اوس غواړي چې زموږ ځرځایونه هم غصب کړي. [۱۰۱]

دا چاره ګټوره نه واقع کیږي چې چارواکي د ځرځایونو او کرنیزو ځمکو پرځای د وچو ځمکو په لور د ښاري پراختیا د بیولو په هڅه کې لږ یا هیڅ رول نه لوبوي. [۱۰۲]

---

۹۴ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې میشت شوی کوچی، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې میشت شوی کوچی، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې میشت شوی کوچی، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې میشت شوی کوچی، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۹۵ د قبایلو د چارو له یوه کارکوونکي سره مرکه، کابل، ۷ مئ ۲۰۱۸.

۹۶ له یوه بلوچ کوچي قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۹۷ د کلي له مشر سره مرکه، ده سبز، کابل ولایت، جنوري ۲۰۱۷.

۹۸ د کلي له یوه مشر سره مرکه، پیرې قبیله، د دیرای شمال سیمه، خوست ولایت، اپریل ۲۰۱۷.

۹۹ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، نیازي قبیله، د خوست ولایت دیرای سیمه، اپریل ۲۰۱۷.

۱۰۰ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، نورزي قبیله، د فراه ولایت د تنګاب کلی، جون ۲۰۱۷؛ له یوه بلوچ کوچي قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، د کندز ولایت د کل اکاخیل سیمه، اپریل ۲۰۱۷.

۱۰۱ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، نعیم خیل قبیله، د لوګر ولایت د خلیل اباد سیمه، نومبر ۲۰۱۶.

۱۰۲ له حاجي خان وزیر، د ده سبز او قرباغ، پوزه خروټي، باریکاب لپاره د خماریخیلو د شورا له رییس سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

ځایي اوسیدونکي او کوچیان، په داسې حال کې چې یو بل اشرار بولي، په غالب ډول هڅه کوي چې ورته چاره ترسره کړي: یانې د ښاري پراختیا لپاره د څړځایونو د یوې ټوټې غصبول. ځکه چې د پراختیا په موخه د ځمکې ورکولو لپاره د دولت پروګرامونه خورا لږ دي، نو تر فشار لاندې ټولنې دځمکې له غاصبینو سره له همکارئ او ناقانونه چلند پرته ډېر لږ غوراوي لري. په دغه بهیر کې، له نورو هغو ټولنو سره هم اختلاف رامنځ ته شوی کومې چې د ځمکې د نیونې یا غصب په پلان کې نه دي ښکیلې، خو په ساده ډول وینې چې څړځایونه یې له سترګو پناه کیږي. د ځمکو د قیمتونو لوړوالی او د کورونو لپاره د تقاضا لوړېدا په ۲۰۰۲ او ۲۰۱۴ میلادي کلونو کې د افغانستان د اقتصادي ودې پایله ده. دغو لاملونو په خپل وار سره، سوداګریز فرصتونه رامنځته کړل چې د متشبثینو یوې ځانګړې ډلې (د ځمکې غاصبینو) په چټکۍ سره له دغو فرصتونو ګټه پورته کړه. خو دغه تقاضا رښتینې ده، په مصنوعي ډول د ځمکې د غاصبینو له خوا نه ده رامنځته شوې او باید یو نه یو ډول پوره کړای شي. د نورو شیانو ترڅنګ، د ښارونو د پراختیا لپاره د چاپیریال په برابرولو کې پاتې راتلل به د راتلونکې هرې اقتصادي ودې مخه ډب کړي.

> **دریېیم چارټ: د کابل پر شاوخوا سیمو د ښاري پراختیا اغیزې**
>
> په ده سبز ولسوالۍ کې د یوې بزګرې ټولنې مشر په وروستیو کلونو کې بدلونونه په لاندې ډول تشریح کړل:
>
> په تیرو ۱۵ کلونو کې زیات بدلونونه رامنځ ته شوي. د بېلګې په توګه، پخوا زمونږ نفوس لږ و او په نورو ولایتونو کې هم جګړه نه وه، چې له امله یې د کوچیانو لپاره سیمې پرانستې وې ترڅو خپلې رمې د مړولو لپاره یوسي. خو اوس د خلکو نفوس خورا زیات شوی او له نورو ولایتونو څخه، ګڼ شمېر خلک له جګړې نه په تېښته کابل ته راغلي دي. نو له دې امله، اوس څړځایونه په ښارونو او کورونو بدلیږي. کوچیان اوس هم د ژوندانه لپاره د ځای په لټه کې دي او د ځمکې پر ارزښت پوه شوي. همدا لامل دی چې هرچیرته د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ اړیکې ورځ تر بلې خرابیږي.[۱۰۳]
>
> په ده سبز ولسوالۍ کې چې د کومې پېښې درامنځته کیدو ویره شته داده چې ښایي ځایي اوسیدونکي او کوچاني ټولنې دواړه د پخوانیو څړځایونو د برخو د نیولو په هڅه کې وي، او له دې امله د دوی ترمنځ سیالۍ رامنځته کیږي. د یوه کوچي قومي مشر روایت د هغه څه منعکسوونکی انځور دی چې پورته د ځایي اوسیدونکي له خوا وړاندې شوی دی:
>
> > له تاجکانو سره مو شخړه شپږ کاله پخوا پیل شوه. تاجکان نه غواړي مونږ دلته واوسو. دوی مونږ ته وایي چې دا زمونږ سیمه نه ده، دولت مونږ ته په باریکاب کې ځمکه راکړې نو موږ باید هلته واوسو. خو مونږ د هغوی پروا نه کوو ځکه دا زمونږ د څړځایونو سیمه ده. [...] نن سبا د ځمکې نرخونه ډېر لوړ دي، نو دوی ټولې سیمې ونیولې او پرې یې ښارګوټي اباد کړل. اوس چې نورې سیمې پاتې نه دي،نو ځکه دوی اوس غواړي چې زمونږ څړځایونه هم ونیسي. له همدې امله ده چې شخړه پیل او په دواړو خواوو کې جګړه رامنځ ته شوه.[۱۰۴]
>
> ورته څرګندونې په خاک جبار ولسوالۍ (کابل ولایت) کې د یوه بل ځایي اوسیدونکو مشر له خوا هم منعکس شوې:
>
> > په تیرو ۱۵ کلونو کې زمونږ په کلي کې ډېر زیات بدلونونه رامنځ ته شوي. بیارغونه ترسره شوې، زمونږ نفوس ډېر شوی او له کابل ښار څخه زمونږ له کلي سره سړکونه نښلول شوي. هوکې، دغو بدلونونو له کوچیانو سره زمونږ اړیکې اغیزمنې کړې. پخوا مو د چهاربازګۍ دښته نه کاروله، خو اوس اړ یو چې هغه وکاروو، او همدا له کوچیانو سره زمونږ د ټولنې د شخړې لامل دی.[۱۰۵]

## ۴.۲.۳ دموګرافیک فشار

### د اوبلوبه ځمکو کمښت او د څړځایونو له منځه تګ

د خړوب کمښت، پرلپسې وچکالۍ او همدارنګه د ښاري پراختیا او د ځایي اوسیدونکو له خوا د څړځایونو د غصب له امله د څړځمکو له منځه تلل د اوبلوبه ځمکو د کموالي سبب شوي دي. په افغانستان کې د ژوندانه د وضعیت په اړه د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ میلادي کلونو په سروې کې داسې راپور ورکړل شوی چې د فعالو کوچیانو، یوازې ۲۰ سلنه یې څړ ځایونو ته لاس رسی درلود او یوازې ۳۲ سلنه یې څړځایونو ته کافي لاس رسی درلود.[۱۰۶] کوچیانو د کلي څړځایونو او کرنیزو ځمکو ته د خپلو څارویو په بیولو پیل وکړ. اوس مهال، اوبلوبه ځمکه ۲.۳ میلیونه هکتاره اټکل شوې ده، حال دا چې له جګړې وړاندې، یاده ځمکه ۳.۴ میلیونه هکتاره وه. په ورته وخت کې نفوس هم دوه برابره شوی دی.[۱۰۷] که څه هم دا به ستونزمنه وي چې په افغانستان کې د څارویو کمیدونکی شمېر د متناقضو اټکلونو له امله په کره ډول وارزول شي(دوهمه برخه: کوچیان په افغانستان کې، وګورئ)، خو د څارویو کمیدونکی شمېر باید پر څړځایونو باندې په لږ فشار بدل شي. که چیرې د اوسنیو کوچیانو او پخوانیو کوچیانو د څارویو د شمیر لوړ اټکلونه سم وي(چې په شمیر کې په

۱۰۳ د کابل ولایت په ده سبز کې له یوه قومي مشر او بزګر سره مرکه، ۱ جنوري ۲۰۱۷.

۱۰۴ د کابل ولایت په ده سبز کې له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، تږغر کوچي قبیله، جنوري ۲۰۱۷.

۱۰۵ د ملنګ کلي له یوه قومي مشر او بزګر سره مرکه، ۲۸ فبروري ۲۰۱۷.

۱۰۶ د سرشمېرنې مرکزي اداره، ۲۰۱۷، مخ ۹۴.

۱۰۷ له انجنیر میرخیل، د اوبو د چارو کارپوه سره مرکه، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۷.

نسبي ډول متوسط کموالي په ډاګه کوي) پر څړځایونو د موازنې فشار باید تر جګړې وړاندې د پخوانیو اټکلونو په پرتله خورا لوړ وي.

په لوګر ولایت کې یوه مشر دا روښانه کړه چې ځایي اوسیدونکو څنګه څړځایونه نیول:

> مونږ کوچیانو ته اجازه نه ورکوو، آن که دوی خپل مالونه پیایي اویا کورونه جوړوي ځکه چې مونږ غواړو دغه ځمکه د کرکیلې لپاره چمتو کړو. مونږ غواړو په دغو دښتو کې واټر پمپونه نصب کړو او دلته کرکیله ترسره کړو ځکه چې زمونږ د وګړو شمیر ورځ تر بلې زیاتیږي. دغه راز غواړو چې په دغو سیمو کې کورونه جوړ کړو. [...] دا اړینه نه ده چې دغه سیمې دې د تل لپاره د کوچیانو وي، د څړ ځایونو په څیر یې وکاروي او پرې د ځان لپاره کورونه جوړ کړي. ۱۰۸

دا د کمیدونکو زیرمو پر سر یو ډول شخړه ده چې د یوه زیاتیدونکي نفوس ترمنځ باید وویشل شي. آن که چیرې ټولنو ته د دې پریکړې اختیار هم ورکړل شي چې له دغو څړځایونو څخه څرنګه ګټه پورته کړي، ښایي بیا هم د ورته شخړې مخنیوی ستونزمن وي. له لوګر ولایت څخه یوه بل قومي مشر دا په ډاګه کړه چې په دې وروستیو کلونو کې د نفوس وده ځکه ګړندۍ شوې، چې له پاکستان څخه ګڼ شمېر هېوادوال بیرته هیواد ته راستانه شوي دي. ۱۰۹

### د مالدارۍ دودول (ترویج)

په داسې حال کې چې ښارونو او ښارګوټو ته څیرمه زیاتره څړځایونه د ښاري پراختیا له خوا لاندې شوي او ځینې نور یې د کرنیزو موخو لپاره نیول شوي، خو وروستي بهیرونه باید خورا لوړ اټکل شي. په ځانګړي ډول په هزاره جاتو کې قومي مشران دا ردوي چې ګواکې دا دې یو اړین بهیر وي. ۱۱۰ د بامیانو له ورس ولسوالۍ څخه یوه قومي مشر وویل:

> څړځایونه هیڅکله هم په کرنیزه ځمکه نه دي بدل شوي ځکه چې څړځایونه اوبه نه لري او دغه څړځایونه د اوربښت له لارې خړوبیږي. کرنیزې ځمکې تل اوبو ته اړتیا لري. [...] مونږ هیڅکله هم کوم څړځای په کرنیزه ځمکه نه دی اړولی. ۱۱۱

له مالستان څخه یو قومي مشر راپور ورکوي، یوازې د هزاره جاتو پر پولو داسې بیلګې لیدل شوي چې څړځایونه په ګروندو اړول شوي دي:

> دغه کار یوازې په ناور دښته کې چې ډیره لویه ده ترسره شوی چیرته چې خلکو څړځایونه، کرنیزو ځمکو ته اړولي. دا کار ډیر اغېزمن دی [...] د غزني په نورو ولسوالیو کې دغه کار نه دی ترسره شوی، نوځکه ټول څړ ځایونه په خپل حال پاتې دي. ۱۱۲

د دې پر ځای، لږ تر لږه په هزاره جاتو سیمه کې کوم څه چې په ریښتیا ترسره شوي هغه دا دی چې ځای اوسیدونکو په لوړ شمېر د څارویو روزنه پیل کړې، نو له همدې امله د خپلې شخصي کارونې لپاره پر عامه څړځایونو لا زیاته تکیه کوي (څلورم جدول وګورئ). ۱۱۳ ځیرنیزې ډلې د ځایي اوسیدونکو په اړه ځینې داسې شواهد هم موندلي چې دوی آن له هزاره جاتو د باندې هم ځینې عامه څړځایونه د خپل څارویو لپاره نیسي. د کندز ولایت په کالم ګذر سیمه کې د دواړو کوچي او ځایي اوسیدونکو د مشرانو له معلوماتو سره سم، د خروټو، اکاخیلو او اندړو قبیلو څخه ځایي پښتانه اوسیدونکو هڅه کړې چې ازبک کوچیان له هغو څړځایونو بې برخې کړي کوم چې دوي تر ۲۰۱۳ میلادي کال پورې کارول. بزګرو ادعا کړې چې دوی څړځایونو ته د خپلو څارویو لپاره اړتیا لري. دلته هم د هر لوري لخوا له ازبکو یا پښتنو سیاستوالو او زوراکو څخه د مرستې او ملاتړ د غوښتلو معموله تګلاره تکرار شوې. پښتنو ځایي اوسیدونکو هم له دې شکایت کړی چې کوچیان د هغوی فصلونه ویجاړوي، د ځښاک اوبه یې ککړوي او په سیمه کې د پاتې کیدو په موخه هلته میشت ځایونه جوړوي. ۱۱۴

۱۰۸ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، عبد الرحیمزي ټولنه، اب بازک کلی، ۲۰ ډسمبر ۲۰۱۲.

۱۰۹ له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، نعیم خیل قبیله، د لوګر ولایت د خلیل آباد سیمه، نومبر ۲۰۱۲.

۱۱۰ له جي ایچ، د دایکندي ولایت د اشترلۍ ولسوالۍ څخه یو قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، ورس ولسوالۍ، بامیانو ولایت، جون ۲۰۱۸.

۱۱۱ له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، ورس ولسوالۍ، بامیانو ولایت، جون ۲۰۱۸

۱۱۲ د غزني ولایت له مالستان ولسوالۍ له مشر، ایچ ام ام سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۱۱۳ د بامیانو ولایت د پانجاب ولسوالۍ له یوه مشر، ایچ آر ای سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ له دایکند ولایت له یوه مشر ایچ جي کی سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ د غزني ولایت له مالستان ولسوالۍ له مشر، ایچ ام ام سره مرکه، جون ۲۰۱۸. د غزني ولایت د ناور ولسوالۍ له یو مشر، ایچ آر سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ د میدان وردګو ولایت د بهسودو ولسوالۍ د هزاره ګانو د مشرانو له یوې ډلې سره مرکه، ۹ مې ۲۰۱۸.

۱۱۴ له یوه کوچي قومي مشر د کالم ګذر سیمې د ازبک بیګ کوچي قبیلې له قومي مشر سره مرکه، اپریل ۲۰۱۷؛ د اندړو قبیلي له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ، اپریل ۲۰۱۷؛ د امام صاحب د کل اکاخیل سیمې د کلي له یوه مشر سره مرکه؛ اپریل ۲۰۱۷.

**څلورم چارت: په هزاره جاتو کې بزګر او مالداري**

له باميانو څخه يو شمير مشران رامنځ ته شوی بدلون په لاندې ډول تشريح کوي:

> د جګړې وړاندې مهال په پرتله، اوس مونږ ګڼ شمېر څاروي لرو. اوس د باميانو په هر کور کې له لسو څخه تر پنځلسو څاروي شتون لري او آن ځينې کورنۍ له ۲۰۰ تر ۲۵۰ څاروي لري. د باميانو د خلکو يواځنۍ عايداتي سرچينه د کر نيزو او مالدارۍ د محصولاتو له پلور څخه ترلاسه کيږي. [...] زه داسې کورنۍ پيژنم چې خپل څاروي د مړولو لپاره د هېواد نورو ولايتونو ته ليږدوي دا ځکه چې مونږ کافي څړځايونه نلرو. په داسې شرايطو کې به مونږ کوچيان څنګه و منلی شو؟ [...] آن له کليو په لېرې پرتو سيمو کې نور نو داسې هيڅ څړځای نه دی پاتې چې د کوچيانو او يا هم د ځايي اوسيدونکو اړوند نه وي.
>
> که اوس مهال د ظاهر شاه يا د شاه امان الله له وخت سره پرتله کړو، مونږ لس چنده زيات څاروي په خپل کلي کې لرو دا ځکه چې مالداري او د شيدو، مستو او نورو حيواني محصولاتو پلورل د باميان د کليوالي خلکو يوازنۍ عايداتي سرچينه ده. دا هغه دليل دی چې ولې مونږ نشو کولای چې کوچيان په خپلو سيمو کې ديته پريږدو چې زمونږ څړځايونه وکاروي: ځکه چې زمونږ د وګړو شمېر ډېر زيات شوی او اوس ډېر زيات څاروي ساتو [...]. دا څړځايونه زمونږ لپاره بسنه نه کوي. په باميانو کې ځينې شتمن کسان ،د څړځايونو د کمښت له امله، خپل څاروي د سمنګانو ولايت ته د مړولو لپاره استوي.[۱۱۵]

له يو څه توپير سره، ورته وضعيت په دايکندي او غزني ولايتونو کې هم حاکم دی، څرنګه چې دوو ځايي مشرانو دغې وضعيت ته اشاره وکړه:

> زه د پسونو او غواګانو په شمول کابو ۱۵۰ څاروي لرم. په دايکندي ولايت کې ګڼ شمېر داسې کسان هم شته چې له سلو زيات څاروي ساتي. د افغانستان مرکزي ولايتونه له مالدارۍ او د حيواني او کرنيزو محصولاتو له پلورلو پرته بل کاروبار نلري. په دايکندي ولايت کې په هر کور کې له لسو څخه زيات څاروي شته او په دې ولايت کې داسې شتمنې کورنۍ هم شته چې له سلو زيات څاروي لري. له جګړې وړاندې مهال په پرتله، البته کورنۍ ډېر څاروي لري او نفوس هم زيات شوی دی. اوس ګڼ شمېر کورنۍ او ډېر څاروي شتون لري.[۱۱۶]
>
> په آټکلي ډول، اوس کابو ۲۰۰۰ څاروي يوازې زمونږ په کلي [په مالستان] کې شتون لري. زمونږ د کلي اړوند څړځايونه زمونږ د څارويو لپاره بسنه نکوي، نو ځکه کله ناکله په خپلو کروندو کې وابښه کرو ترڅو بيې په ژمي کې د خپلو څارويو د مړولو لپاره زيرمه کړو.[۱۱۷]

## ۵.۲.۳ د کوچيانو ميشتېدنه

هغه مهال چې د کوچيانو ميشتېدنه په پراخه کچه پيښيده، د اضافي شخړو په رامنځته کولو يې پيل وکړ. کوم روايتونه چې د ځايي اوسيدونکو له خوا د ده سبز، خاک جبار، ازره او خوست د قضيو په څېړنو کې رانقل شوي تل يې له جګړې وړاندې مهال ته اشاره کړې کله چې به کوچيانو خپلې رمې د غرونو په لمنو کې عامه څړځايونو ته بيولې او له ځايي اوسيدونکو سره به يې هيڅ کار نه درلود. خو بيا له ۲۰۰۱ ميلادي کال وروسته، شرايطو تغيير وکړ (پنځم جدول هم وګورئ). په ده سبز کې د يو ځايي ټولنې دمشر د معلوماتو سره سم:

> مخکې له دې، کوچيان به دلته د يوې لنډې مودې لپاره راتلل او خپل څاروي به يې له ځانه سره د مړولو لپاره راوستل خو وروسته بيا شمالي ولايتونو ته تلل. خو اوس کوچيان زمونږ ځمکې او مالونه غصبوي. دوی زمونږ پر ځمکو کورونه ابادوی ځکه چې دا ځمکې کابل ته نږدې دي.[۱۱۸]

---

۱۱۵ د باميانو ولايت د ورس ولسوالۍ له ايچ آر ای، قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۱۱۶ له ايچ آر ای، د باميانو ولايت د پنجاب ولسوالۍ څخه يو قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۱۱۷ د دايکندي ولايت له اشترالۍ ولسوالۍ له مشر، جي ايچ سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۱۱۸ د غزني ولايت له مالستان ولسوالۍ له مشر، ايچ ام سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

ورته روایت د یو بل ځایي اوسیدونکي له خوا په خاک جبار کې نقل شوی:

> پخوا، کوچیانو به په دغو سیمو کې یوازې کېږدې درولې او خپل څاروي به یې د مړولو لپاره راوستل. خو اوس دوی دلته راځي او غواړي چې زمونږ سیمې د کورونو جوړولو لپاره غصب کړي، وروسته بیا شخړه پیل شوه.[۱۱۹]

له بل پلوه کوچیان دا ردوي چې کومې ځمکې چې دوی په کې د میشتیدو هڅه کوله د ځایي اوسیدونکي دي. د تیراخیل یو قومي مشر په دې اړه داسې وایي:

> دا زمونږ د نیکونو ځمکې دي. دوی دعوا کوي چې دا ځمکې د دوی دي. خو مونږ دوي ته اجازه نه ورکوو چې دغه ځمکې له مونږ څخه واخلي. [...] دوی وایي چې کوچیان باید په غرونو کې ژوند وکړي، نه د ښارونو په څېر سیمو کې. دوي زمونږ کورونه، کیږدۍ او نور شیان زیانموي.[۱۲۰]

د کوچیانو ځینې ډلې هلته د میشتېدنې په موخه د خپلو پخوانیو څرځایونو د نیولو هڅه کوي. دا ادعاوې د ځایي اوسیدونکو له خوا شوي دي،[۱۲۱] خو کله ناکله د کوچیانو له خوا هم ورته ادعاوې شوي.[۱۲۲] یوه کوچي قومي مشر چې په کوچي آباد کې میشت شوی منلې چې:

> زمونږ کوچیان په زیات شمیر سیمو کې ستونزې لري [...]. دغه شخړې په ۲۰۰۷ میلادي کال کې له بت خاکیانو سره هغه مهال پیل شوې چې مونږ پر دغو سیمو باندې کورونه جوړول. په ۲۰۰۹میلادي کال کې مو شخړه له چنار کلي سره پیل شوه. مونږ غوښتل چې دغه سیمې هم ونیسو. په ۲۰۱۳ میلادي کال کې مو شخړه له ګوسپند درې او ملنګي خلکو سره پیل شوه. په ۲۰۱۵ میلادي کال کې مو د خاک جبار له خلکو سره په چهاربازګي کې شخړه درلوده چې هغه زمونږ د نیکونو سیمه ده. [...] دا زمونږ د نیکونو دښتې دي.[۱۲۳]

په همدې ډول، د کوچي آباد هستوګنځي ښايي د دوی او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د دوی د کډوالۍ د پخوانیو مسیرونو په اوږدو کې د شخړې له رامنځته کیدو مخه نیولې وي، خو په یقیني ډول یې د کابل په لویدیځ کې له هزاره توکمو ټولنو او له نورو کوچیانو لکه ملاخیلو او کاکړو (په ۲۰۱۱-۲۰۱۲) سره چې دوی هم غوښتل په دغه سیمه کې میشت شي، شخړې بیا راتازه کړلې.[۱۲۴]

د دشت خاکه[۱۲۵] میشت کوچیان په ناڅاپي ډول له شته ځایي اوسیدونکو او نورو کوچیانو سره په ټکر کې راغلل، په ځانګړي ډول هغه مهال چې د میشتو کوچیانو شمېر مخ پر زیاتیدو شو. په ۲۰۰۴ میلادي کال کې له شاه مزاري ځایي تاجکانو سره اړیکې کړکیچنې، آن تر دې حده چې د میشتو کوچیانو پر کورونو چاپې وشوې او آن ځینو کورونو ته اورونه ورته شول. د ځایي حکومت او ځایي منځګړو منځګړیتوب دغه ستونزه حل کړه خو په ۲۰۰۷ میلادي کال کې د ستانکزیو له ځایي اوسیدونکو سره د شخړې لمبې بیا پراخې شوې. په ۲۰۰۹ میلادي کال کې شخړه یو ځل بیا د دشت خاکه په کوزو برخو کې راپورته شوه، چې د مخالف لوري پرخلاف د پښتنو (ستانکزي) او ځایي تاجکانو ایتلاف په کې ښکېل و. په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د پادوان او بک کلا د ځایي میشتو ټولنو سره، یوه نوې شخړه پېښه شوه. په دغو شخړو کې په دواړو خواوو کې شاوخوا ۳۴ وګړي وژل شوي دي. نوی منځګړیتوب بریالی و، خو په ۲۰۱۸ میلادي کال له غازیخیلو قبیلې سره د ځمکې پر سر د شخړې لمبې بیا پراخې شوې. پر ځینو غرنیزو سیمو دغه شخړه لا اوس هم ناحل شوې پاتې ده.[۱۲۶]

---

۱۱۹ له یوه قومي مشر سره مرکه، ده سبز، کابل ولایت، جنوری ۲۰۱۷

۱۲۰ د چکري کلي له قومي مشر سره مرکه، خاک جبار ولسوالۍ، کابل ولایت، فبروري ۲۰۱۷.

۱۲۱ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، ۱۳ جنوري، ۲۰۱۷.

۱۲۲ د کلي له یوه مشر سره مرکه، پیري قبیله، د دیرای شمال سیمه، خوست ولایت، اپریل ۲۰۱۷.

۱۲۳ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، ۱۳ جنوري، ۲۰۱۷.

۱۲۴ کابل ولایت د بت خاک کوچي اباد سیمې، له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، مارچ ۲۰۱۷.

۱۲۵ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد میشت ځای، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد میشت ځای، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ له یوه پخواني میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد میشت ځای، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۱۲۶ د احمدزي کوچیانو له خوا په برکي برک ولسوالۍ کې د حکومت له اجازې پرته په ۲۰۰۳ کال کې جوړ شوی.

### پنځم چارټ: په سرخاب دښته، ازره کې د میشتېدنې اغیز

په ازرې ولسوالۍ (لوګر) کې د سرخاب دښتې پر سر د کوچیانو او هغو پخوانیو کوچیانو ترمنځ سیالۍ روانه وه کوم چې په هغو ځمکو کې میشت شوي چې دوي له پخوا راهیسې کارول. لاندې لنډیز د یوه ځایي قومي مشر له خوا وړاندې شوی دی:

> له کوچیانو سره زمونږ شخړه درې کاله پخوا د پادخواب شاني په سیمه کې هغه مهال پیل شوه چې د دغو کوچیانو مشر غوښتل دغه سیمه ونیسي او دلته پرې خپل کورونه جوړ کړي. خو مونږ دوی ته اجازه ور نه کړه. پخوا به دوی دلته خپل څاروي د څر او مړولو لپاره راوستل او بیا به له دې ځایه د شمالي ولایتونو په لور خوځیدل. خو درې کاله پخوا مو ولیدل چې دوي دلته د کورونو جوړول پیل کړي دي چې له امله یې د دوي او زموږ تر منځ شخړه رامنځته شوه. دوي د نعیم خیلو، ببرو، او سلطانخیلو
>
> اړوندې قبیلې دي. دوي له بېلابېلو سیمو راغلي او غواړي چې زمونږ کرنیزې ځمکې ونیسي، سره له دې چې موږ د دې سیمو قانوني سندونه لرو. دغه شخړه په ۲۰۱۳ میلادي کې پیل او لا تر اوسه روانه ده چې لا هم حل شوې نه ده. [۱۲۷]

په سیمه کې څلور کوچانۍ ټولنې کلونه پخوا میشت شوي او په دې اړه یې هوکړه کړې چې څرنګه دغه څړځایونه په خپلو کې وویشي او څنګه یې په کلیو او کرنیزو ځمکو واړوي. د دوی نظر د دوی د یوه مشر له خوا په دې ډول څرګند شوی دی:

> دا ځمکه له ۲،۰۰۰ هکټارو څخه زیاته ده چې ټول کلي او قبیلې په کې برخه لري، لکه عیسی خیل، عبد الرحیمزي، فضل خیل او ستانکزي. دا ټولې قبیلې په دغه ځمکه کې حق لري ځکه چې دا د کوچیانو څړځایونه دي، دا ځمکه زمونږ هم ده ځکه چې پخوا مونږ هم کوچیان وو او دلته مو څاروي روزل، خو اوس مونږ کوچیانی ژوند پرې ایښی. [۱۲۸]

یوه بل قومي مشر تشریح کړه چې څرنګه نورو کوچیو ټولنو لکه ببر، سلطانخیلو او سلام خیلو په ورته سیمه کې د میشتیدو هڅه وکړه، خو میشتو کوچیو ټولنو یې څنګه مخه ونیوله: [۱۲۹]

> مونږ کوچیانو ته اجازه نه ورکوو چې زمونږ په ځمکه کې څاروي و پیایي یا پر هغې کورونه جوړ کړي، ځکه مونږ غواړو دغه ځمکه د کرکیلې لپاره چمتو کړو. مونږ غواړو په دغو دښتو کې واټر پمپونه نصب او دلته فصلونه وکرو، ځکه چې زمونږ د وګړو شمېر ورځ تر بلې زیاتیږي. مونږ دغه راز غواړو په دغو سیمو کې کورونه جوړ کړو. مونږ نه غواړو چې کوچیانو ته نوره اجازه ورکړو. دا اړینه نه ده چې دا سیمې دې د تل لپاره د کوچیانو څړځایونه وي تر څو دلته واوسي. [...] زمونږ د ټولنې شخړه له ببر کوچیانو سره ده؛ دغه کوچیان دلته راغلل او زمونږ پر ځمکو یې کیږدۍ ووهلې او زمونږ ځمکې یې ونیولې او اوس د دې دعوا کوي چې دا ځمکې د دوی دي. سلام خیل کوچیان هم د پکتیا ولایت له رود کلي څخه راغلل. دوي هم زمونږ ځمکې غصب کړې او وایي چې ستاسو نیکونو دغه ځمکې پر مونږ پلورلي. دغه شخړه دوه نیم کاله پخوا پیل شوې [...] زمونږ ځمکه ډیره ښه ده. دا ښه څړځایونه او نورمال بادونه لري او ډیره هواره ده. د دوي د څارویو لپاره دا یوه ډیره ښه سیمه ده ځکه دلته ډیر واښه شته. همدا رنګه دغه سیمه ښار ته هم نږدې ده. [۱۳۰]

د څلورو ټولنو ترمنځ د دغه تړون په اړه چې په څړځایونو کې میشت شي له نورو کوچانۍ ټولنو سره خبرې اترې نه وې شوې. شخړه په تدریجي ډول، د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ میلادي کلونو ترمنځ زیاته شوه. د کوچیانو دوهمې څپې، له سیمې د ایستلو په اړه شکایت وکړ. [۱۳۱] د دغې موضوع په اړه د دوي مشرانو داسې وویل:

> مونږ د لوګر ولایت د پل عالم کلنګار ته څیرمه په خلیل آباد سیمه کې له بزګرو سره شخړه لرو. زمونږ شخړې له ستانکزیو قبیلې سره دي ځکه دوی دلته زمونږ د څړځایونو سیمې نیولي دي. د دوی او زمونږ ترمنځ دغه شخړې درې کاله پخوا پیل شوي او لا تر اوسه پای ته نه دي رسیدلي. دوی غواړي دلته ښارګوټي جوړ کړي او زمونږ څړځایونه غصب کړي، خو مونږ به دوی ته د دې کار اجازه ور نه کړو. [۱۳۲]

---

۱۲۷ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۴ مئ ۲۰۱۹.

۱۲۸ د کلي له یوه مشر سره مرکه، الیاس خان سیمه، لوګر ولایت، ډسمبر ۲۰۱۲.

۱۲۹ د کلي له یوه مشر سره مرکه، په پل کندهار کلي کې د عیسی خیلو ټولنه، ډسمبر ۲۰۱۲.

۱۳۰ په لوګر ولایت کې د سلطانخیلو له یوه قومي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

۱۳۱ د کلي له مشر سره مرکه، د عبدالرحیمزیو ټولنه، آب بازک کلی، ډسمبر، ۲۰۱۲

۱۳۲ د ببرو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

د میشت شویو کوچانیو ټولنو او د نورو هغو ټولنو ترمنځ اختلاف چې غوښتل یې په دغه سیمه کې میشت شي په شخړه واوښته چې په یقیني ډول یې د کرنیزو فعالیتونو مخه ډب کړې ده:

> په پاد خواب شانه دښته کې مونږ ډیر محصولات کرلي او هلته ډیره کرنیزه ځمکه شته. پخوا به مونږ د نورو محصولاتو ترمنځ غنم کرل، خو د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې د تاوتریخوالي له امله، دا هر څه په ټپه ولاړ دي. په دغو سیمو کې ډیر د هستوګنې کورونه هم جوړ شوي نو ځکه مو کرنیزې ځمکې په کورونو بدلې شوې. ۱۳۳

## پراخیدونکې اغیزې - کوچیان د ځمکو غصبولو ته اړ شوي

څرنګه چې د څرځایونو پر سر سیالي مخ په زیاتیدو ده، هغه کوچیان چې مرکزي لوړو سیمو او د هیواد په نورو برخو کې خپلو دودیزو څرځایونو ته له لاسي بې برخې شوي، د لاس رسي وړ محدود غوراوي یې درلودل، لکه:

- نورو څرځایونو ته مخه کول، وګړنیز فشار (ډموګرافیک فشار) زیاتوي، آن په هغو سیمو کې چې پخوا د شخړې له امله نه وې ځپل شوي؛[۱۳۴]
- په ښارونو کې میشتېدل؛
- د ځمکې د هرې ټوټې غصبول چې دوی یې پیدا کوي، له نورو کوچیانو او ځایي اوسیدونکو سره په شخړه کې ښکیلېدل.

څرنګه چې کوچانی ژوند ستونزمن شوی، نو ځکه ګڼ شمېر کوچیان میشت شوي او په ښارونو کې د نامسلکي کاریګرو په څیر د ارزانه کار پیدا کولو په لټه کې شوي دي. هغو چې غوښتل د دغه ناوړه برخلیک مخه ونیسي، زیاتره یې د ځمکې د غصبولو هڅې کړې. ډیر لږ شمیر کوچیان د دې امکانات لري چې ځمکه وپیري، نو د دوی لپاره یو بدیل دا دی چې هر چیرې چې کولی شي یو څرځای په زور ونیسي. کوچیانو او ځایي میشتو مرکه کوونکو دا تایید کړې چې دغه کار ترسره کیږي.

د بېلګې په توګه:

> پخوا به کوچیانو کوچانی ژوند کاوه او دوی به له یوې سیمې بلې سیمې ته کوچیدل، خو اوس له دغه ډول ژوند څخه لاس په سر شوي او د افغانستان ټولې ځمکې نیسي: شمال، جنوب، ختیځ او لویدیځ. اوس دوی غواړي چې میشت شي؛ نو له همدې امله، دوي ځمکې ته اړتیا لري او ځمکې نیسي. ۱۳۵

> پخوا به مونږ شمالي ولایتونو ته تللو، خو اوس دوی مونږ هلته او هغو څرځایونو ته له تګ څخه منع کوي چیرې چې مونږ کورونه جوړ کړي دي. دغه خلک، مونږ ته اجازه نه راکوي. دوی بیا بیلډوزران راوستل او زمونږ کورونه یې ونړول. په یوه کور کې دوه ماشومان ووژل شول. د دغو تاجکانو او مونږ تره خیلو ترمنځ ډیرې جګړې شوي دي. ۱۳۶

هغه ټولنې چې پخوا یې هیڅکله هم څرځایونو ته د کوچیانو پر لاس رسي نیوکه نه کوله له څر ځایونو څخه د ګټې اخیستلو پر سر د سیالۍ په پایله کې، د دوی پر ضد راپاریدلې. یوه ځایي اوسیدونکې دا نقل کړې چې د دوی ټولنې څرنګه د کوچیانو د مخنیوي پریکړه کړې:

> پخوا به کوچیان د یوه لنډ وخت لپاره راتلل او بیرته به تلل. دوی نه غوښتل چې زمونږ ځمکه ونیسي نو له امله یې کومه شخړه هم نه پیښیده. خو اوس کوچیان دلته راغلل، زمونږ ځمکه یې ونیوله او پر هغې یې کورونه جوړ کړل. ۱۳۷

پر څرځایونو زیاتیدونکې سیالي زیاتره کوچیان د نورو کوچیانو یا پخوانیو کوچیانو په ضد پاروي (شپږم جدول وګورئ). د دغو شخړو د بېلګو په اړه مخکې خبرې وشوې. داسې ښکاري چې د اوسنیو کوچیانو او پخوانیو کوچیانو ترمنځ شخړه د دې ښکارندوی ده چې د زیرمو کمښت ورځ تر بلې د شخړې بنسټ ګرځي، پخواني لاملونه تر خپل سیورې لاندې راولي او په دې ډول د اختلاف او ټکر سرچینې په ډاګه کوي. همدارنګه دا هم په ډاګه کوي چې د ژوند د بېلابېلو طریقو ترمنځ د بل هر ډول ټکر برعکس، د زیرمو کموالی په حقیقت کې د شخړې تر ټولو ستر لامل دی.

۱۳۳ د نعیم خیلو ټولنې له یوه مشر سره مرکه، د لوګر ولایت د خلیل اباد سیمه، نومبر ۲۰۱۶.

۱۳۴ د کلي له یوه مشر سره مرکه، الیاس خان سیمه، لوګر ولایت، ډسمبر ۲۰۱۶.

۱۳۵ د ناصر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، د فراه ولایت د ننګاب کلی، جون ۲۰۱۷.

۱۳۶ د ملنګ کلي له یوه قومي مشر او کرندوګر سره مرکه، ۲۸ فبروري ۲۰۱۷.

۱۳۷ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷.

### شپږم چارټ: کوچیانو په فراه ولایت کې د نورو کوچیانو د لاس رسي مخه ډب کړې

څړځايونو ته د لاس رسي له محدودیت سره د کوچیانو د مخ کیدو یوه ځانګړې قضیه دا ده چې دوی د هزاره جاتو څړځايونو ته د رسیدو له منع کیدو وروسته، د خپلو مسیرونو بدلولو ته اړ او له نورو کوچیانو سره د څړځایونو پر سر په سیالۍ کې ښکېل شول. دا د فراه ولایت مرکز ته څېرمه د څړځايونو وضعیت دی. د یوه بلوچ کوچي مشر له معلوماتو سره سم، بلوچ کوچیان چې ژمی یې هلته تیراوه، سمدلاسه د زابل ولایت د (پښتون) ناصر کوچیانو له سیالۍ سره مخ شول. د ۲۰۰۷ میلادي کال په دغې قضیې کې د ناصر کوچیانو له خوا هزاره جاتو ته د بلوچ کوچیانو د رمو د لیږد مخه ونیول شوه. دا چې ناصر کوچیان نور په خپله د دې وړ نه دي چې هزاره جاتو ته لاس رسی پیدا کړي، نو ځکه فراه ولایت ته یې د خپل څارویو د بیولو هڅه وکړه، دا ځل بلوچ کوچیانو د دوی مخه ونیوله. ۱۳۸

د ناصرو قبیلي یوه قومي مشر دا پیښه داسې انځور کړې:

> له بلوچ کوچیانو سره زمونږ شخړه په **۲۰۱۵** میلادي کال کې هغه مهال رامنځ ته شوه، کله چې دوی په خر ملوک دښتې کې زمونږ مخه ونیوله. [...] مونږ دوی ته وویلې چې موږ هم کوچیان یو او تاسو هم کوچیان یاست، نو تاسې کولی شې چې په دغو څر ځایونو کې خپل څاروي وپیایې، موږ یې هم پیایو. دغو بلوچ کوچیانو موږ ته وویل چې دوی له نورزیو او الکوزیو قبیلو سره یو تړون کړی. د هغه تړون په پایله کې، دوی دغه سیمې د څړځایونو په څیر کاروي، خو موږ ته یې اجازه را نه کړه. موږ [ناصر کوچیانو] بلوچ کوچیانو ته وویل، چې «[...] دغه تړون همدارنګه ناصر کوچیان دغو سیمو ته د خپلو څارویو له بیولو هم نه منع کوي.» [...] دوی مونږه دغو سیمو ته له لاس رسي څو ځلي منع کړو؛ بیا د دوی او مونږ ترمنځ جګړه وشوه. ۱۳۹

شته لاملونو ته په کتو سره، بېلابېلې کوچي ټولنې له ډلو ټپلو، یاغي ډلو او زورواکو څخه د بهرنۍ مرستې غوښتنه کوي چې پورته یاد شوي ټول لاملونه د کوچیانو او بزګرو د شخړې په قضیه کې په نږدې ډول یو له بل سره ورته والی لري. په داسې حال کې چې ناصر کوچیان تور پورې کوي چې بلوچ له قاچاقبرانو او د طالبانو د کوټې له شورا څخه ملاتړ ترلاسه کوي، یوه بلوچ کوچي منلې چې له بېلابېلو ډلو ټپلو یې د مرستې غوښتنه کړې، خو د دوی هڅې تر ډېره حده بریالۍ نه وې: ۱۴۰

> تر هر څه لومړی، مونږ هڅه کوو چې دولت مو شخړه حل کړي. که چیرې دولت مو شخړه حل نه کړي، بیا ځايي خلکو ته مراجعه کوو. که چیرې بیا ځايي خلکو هم زمونږ شخړه حل نه کړه، په دې صورت کې، طالبانو ته مراجعه کوو ترڅو شخړه مو حل کړي. که چیرې طالبان هم و نه کولی شي چې زموږ شخړه حل کړي، بیا داعشیانو ته ځو ترڅو له موږ سره د شخړې په حل کې مرسته وکړي، ځکه چې نن سبا په افغانستان کې داعشیان هم شتون لري. مونږ غواړو چې په بنسټیز ډول، خپله شخړه حل کړو. زمونږ لپاره دا اړینه ده چې کومه ډله مو شخړه حل کوي. ۱۴۱

د ناصر کوچیانو یوه مشر همدارنګه منلې چې د حزب اسلامي له قومندانانو، د طالبانو د رسول له شورا او له یوه زورواکي کوچي یې د مرستې غوښتنه کړې او ترلاسه کړې یې ده. ۱۴۲

### ټول کوچیان شکمن شوي

کله چې بزګر وپوهیدل چې کوچیان په یوې ځانګړې سیمه کې د میشتېدنې هوډ لري، نو په ځینو مواردو کې یې د ټولو کوچیانو د لاس رسي مخه ډب کړه، آن دوی یې د خپلو څارویو له پیولو منع کړل. څېرنیزې ډلې دغه ډول قضیې، کابل ښار ته څېرمه په خاک جبار ولسوالۍ کې موندلې دي (اووم جدول وګورئ). په خوست کې هم په یوه قضیه کې، کوچیان له بلې کوچۍ ټولنې او ځايي اوسیدونکو سره د شخړې پر بنسټ څړځایونو ته له لاس رسي منع شوي. یوه کوچي قومي مشر په دې اړه په لاندې ډول تفصیلات وړاندې کړل:

> زمونږ د دولتزیو ټولنه د خوست له خلکو سره شخړه نه لري؛ خو نیازي کوچیان له خوستیانو سره شخړه لري. خو [...] په دیرای کې له **۲۰۰۳** میلادي کال وروسته، خوستیانو موږ ته هم اجازه را نه کړه ترڅو دغو څړځایونو ته خپل څاروي بوځو. موږ خوستیانو ته وویل چې د دوی شخړه له نیازي کوچیانو سره ده. مونږ غواړو چې په دغو سیمو کې یوازې خپل څاروي ماړه کړو. په **۲۰۰۵** میلادي کال کې، دوی پر مونږ برید وکړ او زمونږ خلک یې ووهل. زمونږ له خوا یو نفر ووژل شو او دوه نور ټپیان شول. دغه راز، دوی له مونږه ۲۰۰ څاروي غلا کړل. یو کال وړاندې، له خوستیانو سره زمونږ شخړه حل شوه. [...] پخوا به چې زمونږ دولتزي هر چېرې تلل لکه لکند، چینو، شمال خاور، دیرای او داسې نورو ځایونو ته، نو کومه ستونزه به نه رامنځته کېده، خو کله چې نیازي کوچیانو په دغو سیمو کې غنم، جوار او داسې نور فصلونه وکرل، نو وروسته له هغې، شخړه پیل شوه. ۱۴۳

---

۱۳۸ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د پای منار کلي له مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷.

۱۳۹ په فراه ولایت کې د براهوي قبیلې له مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷.

۱۴۰ د ناصر قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

۱۴۱ په فراه ولایت کې د براهوي قبیلې له مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷؛ په فراه ولایت کې د براهوي قبیلې له مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷.

۱۴۲ په فراه ولایت کې د براهوي قبیلې له مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷.

۱۴۳ د ناصر قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

په بله قضیه کې بزګر د فراه ولایت د کوه دانک، قلعه غلام سخي، کاریزک او د شورآباد قلعې په شاوخوا سیمو کې د کوچیانو د لاس رسي مخه نیسي چیرې چې د الکوزیو بزګرو ځایي ځرځایونو ته د بلوچ کوچیانو د رسیدو د مخنیوي هڅه کوله.[۱۴۴] مرکه کوونکو د هیواد په بېلابېلو سیمو کې ، ځرځایونو ته د لاس رسي د مخنیوي د قضیې په اړه راپور ورکړی، آن که چیرې په دغه راپور کې سروې ګانې دغه سیمې تر پوښښ لاندې هم نه نیسي:

> په همدې ډول، د سروبي خلکو، مونږ او زمونږ څارویو ته په غرونو کې اجازه را نه کړه. همدارنګه، په شمالي ولایتونو کې له ګڼ شمېر ستونزو سره مخ شولو. زمونږ څاروي ووژل شول، دوی آن په روغتونونو کې زمونږ د ناروغانو له منلو انکار کاوه.[۱۴۵]

> مونږ یوازې په فراه ولایت کې ستونزې نه لرو؛ بلکې په ګڼ شمېر سیمو کې ستونزې لرو: د بېلګې په توګه په وردګو او غزني ولایتونو او د افغانستان په شمالي سیمو کې.[۱۴۶]

په لنډ ډول، داسې ښکاري چې ځرځایونو ته د کوچیانو د لاس رسي مخنیوی ،په زیاتیدونکي ډول، د ځایي میشتو ټولنو ترمنځ په یوې عادي ستراتیژۍ بدلیږي چې ښایي د بهسودو له اصلي قضیې یې الهام اخیستی وي. د کوچیانو دا استدلال چې د هزاره جاتو له ځرځایونو منصرف کیدل به نورې ټولنې د کوچیانو د لاس رسي مخنیوي ته وهڅوي، ښایي یو ښه دلیل ولري.

**اووم چارت: په خاک جبار ولسوالۍ کې له ځرځایونو د کوچیانو یو سره ایستنه**

په خاک جبار (د کابل اړوند) ولسوالۍ کې د دواړو ځایي میشتو او کوچیانو مرکه کوونکو له معلوماتو سره سم، وروسته له هغې چې ځینو کوچیانو په خپلو پخوانیو ځرځایونو کې میشتیدنه پیل کړه، ځایي اوسیدونکو د دوی څخه د غچ اخیستلو لپاره له توپیر پرته د ټولو کوچیانو د یو سره ایستنې هڅه وکړه:

> پخوا، به مونږ په چهاربازګي کې للمي غنم کرل، خو اوس یې نه کړو، چې له امله یې مونږ ته مالي زیان اوښتی. [...] تر دې وروسته موږ نه غواړو کوچیانو ته اجازه ورکړو، آن که دوی وغواړي چې یوازې خپل څاروي دلته د څرولو لپاره هم راولي. دوی غواړي مونږ ته دوکه راکړي: تر هر څه لومړی، وایي چې دوي یوازې څاروي دلته د څرولو لپاره راولي، خو بیا وروسته د دې دعوا کوي چې دا د دوی سیمه ده. که چیرې مو دوی ته ځای ورکړ، دلته به کیږدۍ ودروي او له مونږ څخه به ځمکه غصب کړي.[۱۴۷]

> دغه ښارګوټی، زمونږ او د خاک جبار د خلکو ترمنځ د ستونزو لامل دی. دوی وایي چې د چهاربازګي په دښته کې به هم دغه ډول ښارګوټي جوړ کړي. مونږ په چهاربازګي کې ښارګوټي او کورونه نه ودانوو؛ موږ یوازې څاروي د څر لپاره راولو. دا بې عدالتي ده چې دوی پر کوچیانو بندیز لګوي ځکه دوی له [نوم پټ ساتل شوی] سره ستونزې لري او هیڅ یوه کوچي ته اجازه نه ورکوي.[۱۴۸]

> دوی پر مونږ باندې د دغې سیمې د غصبولو شک کوي، خو دا حقیقت نه دی. مونږ یوازې غواړو چې ځرځایونو ته خپل څاروي راولو.[۱۴۹]

## ۲.۲.۳ د زورواکو راڅرګندیدنه

له شک پرته، د **۱۹۵۰** میلادي کلونو راهیسې، د کوچیانو ترمنځ د طبقو جوړونې بهیرونه پر مخ روان دي، خو داسې ښکاري چې دا بهیرونه له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته ګړندي شوي. څرنګه چې ویلي (Wily) ورته اشاره کړې: «د دواړو کوچیانو او ځایي ټولنو شتمن کسان هغو ځرځایونو ته د لاس رسي یا درلودلو یا هم پر هغو د واک ترلاسه کولو هڅه کوي کوم چې په خپله یې نه ګوري. پر ځای یې، دوی ګمارل شوي شپانه دغو لیرې پرتو سیمو ته استوي؛ آن څاروي د لوړو سیمو پسرلنیو او اوړنیو ځرځایونو ته د لاریو په ذریعه لیږدوي. همدارنګه د کوچیانو مشرانو د مضاربت په شمول پر نورو کوچیانو باندې په ګټه د پلورلو لپاره، د دوی په کرنیزو ځمکو کې پانګونه کړې ده.»[۱۵۰] د **۱۹۹۰** میلادي کلونو له پیل راهیسې، کوچي مشران د دې جوګه وو چې د خپلې کورنۍ یا د خپلو متحدینو په ګټه دولتي ځمکې غصب کړي. هغه کوچۍ کورنۍ چې خپلې رمې یې له لاسه ورکړې او په بل ځای کې د میشتیدو پر اړه اندیښنه لري دخپلو ستونزو دحل په موخه ددغې مشرانو پر سیاسي ملاتړ ډیره تکیه کوي او دا کار ددوی لپاره ځکه اړین دی چې زیاتره ځمکه په ناقانونه توګه د کوچیانو مشرانو له خوا غصب شوې او د دوی له ساتنې او ملاتړ پرته په اسانه بیرته اخیستل کیدای شي.[۱۵۱]

---

۱۴۴ د دولتزیو قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، د خوست ولایت د ډیرۍ سیمه، اپریل ۲۰۱۷.

۱۴۵ له بلوچ کوچي مشر سره مرکه، فراه، جون ۲۰۱۷.

۱۴۶ د اکبر خیلو قبیلې یو قومي مشر، مارچ ۲۰۱۷.

۱۴۷ د ناصر قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

۱۴۸ د ملنګ کلي له یوه قومي مشر او کرندوګر سره مرکه، ۲۸ فبروري ۲۰۱۷.

۱۴۹ د اکبر خیلو قبیلې یو قومي مشر، مارچ ۲۰۱۷.

۱۵۰ د ببر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، د لوګر ولایت ازره ولسوالي، جنوري ۲۰۱۷.

۱۵۱ لیز الدن ویلي، «د ځرځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳؛

دشتمنيو راغونډول او د سياسي اړيکو جوړل د افغان دولت تر لوړ پوړو چارواکو پورې، د کوچي زورواکو د راڅرګنديدو سبب شوي دي. له همدې امله ده چې کوچي مشران په ډېره اندازه شتمن او ځواکمن دي ترڅو په داخلي سياست کې د پام وړ اغيز ولري (اتم جدول وګورئ). په هغو مرکو کې چې د دغې پروژې لپاره ترسره شوي، کوچي زورواکي په دوامداره ډول د هغو کسانو په څير ياد شوي چې د کوچيانو او ځايي ميشتو ترمنځ د شخړو په رامنځته کولو کې رول لوبوي، په تېره بيا د کوچيانو په ميشتيدنه کې. د نورو زورواکو سره د افغانستان د ټولنيز، اقتصادي او سياسي ژوند په ټولو برخو کې کوچي زورواکي، د اړينو لوبغاړو په توګه په يو وخت کې راڅرګند شوي دي. په شخړه کې دا يوه عادي چاره ده چې جګړه مارې ډلې، مقابل لوري له بهر څخه د مرستې او ملاتړ په ترلاسه کولو تورنوي. په يادې پروژه کې کابو هر مرکه کوونکي دغه ډول څرګندونې کړې دي. په ده سبز ولسوالۍ کې د کلي د يوه مشر لاندينۍ تبصره يې يوه بيلګه ده:

> له کوچيانو سره زمونږ شخړه هغه مهال پيل شوه کله چې دوی زمونږ د سيمو او کروندو د نيولو هوډ وکړ؛ د دوی ترشا د مافيا لاس هم و. په کوم ډول چې يې د بتخاک سيمه ونيوله په هماغه شان يې غوښتل چې ده سبز هم ونيسي، خو موږ يې مخه ونيوله. له همدې امله، له کوچيانو سره زمونږ شخړه پيل شوه.[۱۵۲]

خو په ځينو قضيو کې مرکه کوونکو په خپله له زورواکو د ملاتړ ترلاسه کول منلي دي. يوه کوچي قومي مشر هغه مهال چې يې په ازره (لوګر) کې وضعيت تشريح کاوه، دوه ځلې يې زورواکي د دښمنانو او ملاتړو په څير ياد کړي دي:

> په خليل آباد کې زمونږ شخړه هغه وخت پيل شوه کله چې د ستانکزيو قبيلې په دغه سيمه کې زمونږ څرځايونه ونيول. پخوا دغو شخړو شتون نه درلود ځکه چې د ځمکو نرخونه دومره لوړ نه ول، خو اوس چې د ځمکو نرخونه لوړ شوي، دغو ځواکمنو کسانو ټولې سيمې ونيولې او زمونږ پر څرځايونو يې بريدونه وکړل. بل لامل يې د نفوسو زياتيدل دي ځکه چې له پاکستان څخه ډيری خلک بيرته هيواد ته راستانه شوي. [نوم پټ ساتل شوی] چې د ولسي جرګې غړی دی، او [نوم پټ ساتل شوی] هرې کورنۍ ته ځمکه ورکوي او په بدل کې يې له هغوی پيسې اخلي.[۱۵۳]

همدارنګه د تره خيل يو قومي مشر هم په صراحت سره دا ويلي چې ټولنه يې د جګړې لپاره د يو کوچي زورواکي له خوا هڅول شوې:

> د تره خيلو قبيله، مونږ له مخالفې ټولنې سره جګړې ته هڅوي، خو د مخالفې ټولنې تر شا د ځواکمنو خلکو، مافيا او قومندانانو لاس دی.[۱۵۴]

په لوګر ولايت کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ يوه منځګړي کوچي، زورواکي د کوچيانو او ځايي خلکو ترمنځ د شخړې د لامل په توګه ياد کړل (همدارنګه ۴.۱ برخه وګورئ):

> په دغې شخړه کې ځينې بهرني لوبغاړي هم ښکيل ول. دولت چې کله ځمکه وويشله، بيې لوړې شوې. د دې په پايله کې ځينې ستر کوچي لوبغاړي لکه [نوم پټ ساتل شوی] راغلل او ځينې کوچيان يې له ځايي اوسيدونکو سره شخړې ته وهڅول، او په دې ډول، دوی له دغه وضعيت څخه ګټه پورته کوي.[۱۵۵]

په ده سبز ولسوالۍ کې د کوچيانو يوه استازي د هغه رول په اړه اعتراف وکړ چې د ځمکې په غصبولو کې د نورو زورواکو تر څنګ، د کوچي زورواکو له خوا لوبول شوی دی. دی پر دې ټينګار کوي چې زياتره کوچيان د کوچي زورواکو د کړنو قربانيان دي، ځکه چې دوی څرځايونو ته لاس رسی له لاسه ورکړی دی.[۱۵۶] په ازره کې يوه بل استازي هم لږ تر لږه له دوو کوچي زورواکو څخه د ملاتړ په ترلاسه کولو اعتراف وکړ.[۱۵۷] يوه قومي مشر داسې وويل:

> پخوا، کله چې دغو قومندانانو او مافيا شتون نه درلود، دغه ډول شخړې هم نه وې او هيچا زمونږ ځمکې نه نيولې.[۱۵۸]

---

۱۵۲ فابريزو فوسچني، «د افغان کوچيانو ټولنيز کړاو» (برلين، ای ای ان، ۲۰۱۳).

۱۵۳ د کابل د ده سبز ولسوالۍ د خواجه چشت سيمې د کلي له يوه مشر سره مرکه، جنوري ۲۰۱۷.

۱۵۴ د لوګر ولايت په خليل اباد سيمه کې د نعيم خيلو قبيلې ټولنې له يوه کوچي مشر سره مرکه، ۲۴ نومبر ۲۰۱۲.

۱۵۵ د کابل ولايت د ده سبز ولسوالۍ د بابکرخيلو قبيلې له يوه کوچي قومي مشر سره مرکه، جنوري ۲۰۱۷.

۱۵۶ په لوګر کې د نيازيو او عيسی خيلو قبيلو ترمنځ د شخړې په اړه د باتوخيلو قبيلې له يوه منځګړي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۸.

۱۵۷ له حاجي خان وزير، د ده سبز او قرباغ، پوزه خروټي، باريکاب لپاره د خماريخيلو د شورا له رييس سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۱۵۸ د ببر قبيلې له يوه کوچي قومي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

اصلي پوښتنه (کومه چې د لا زياتې څيړنې غوښتنه کوي) دا ده چې آيا يوازې دغه زورواکي د دغو پېښو شخړو لامل کيږي يا که نور لاملونه هم شته. په ځانګړي توګه د هغو سيمو په قضيو کې چې د سترو ښارونو په شا و خوا کې پرتې دي، تورونه دا دي چې د ځمکو غاصبين، ټولنې د خپل «پوځ» په توګه کاروي ترڅو د خپلو شخصي سوداګريزو ګټو لپاره ځمکې غصب کړي. دغه تورونه نه يوازې د شخړې د مخالفو لورو له خوا پورې شوي دي بلکې د کوچيانو د رياست دغه چارواکی يې هم تاييدوي:

> دغه جنګسالاران په ټولو شخړو او کړکيچونو کې ښکيل دي، دوی دغه ډول کړکيچ رامنځته کوي او بيا ورڅخه ګټه پورته کوي. د کوچيانو مشران هم په دغو شخړو کې ښکېل دي او د خپلو قبيلو خلکو ته وايي چې خپل څاروي وساتئ او ځمکې غصب او ونيسئ. [نوم يې پټ ساتل شوی] په دغو شخړو کې ښکيل دي او په يو ډول نه يو ډول له کوچيانو سره د ځمکې په غصبولو کې مرسته کوي. جنګسالاران هم د ځمکې په غصبولو کې ښکيل دي، څرنګه چې دوی د تيرا او تهموري څرځايونه غصب کړل او د هستوګنو لپاره يې پرې د کورونو جوړول پيل کړل. ۱۵۹

له لوګر ولايت څخه د شخړو يوه منځګړي هم ورته نظرونه بيان کړل او په ډاګه يې کړه چې زورواکي د دغو قضيو د «۸۰ سلنې» تر شا لاس لري او هڅې کوي له دغو کړکيچونو خپلې شخصي ګټې پورته کړي. ۱۲۰ څرنګه چې خپل سري او بې اجازې ميشت ځايونه د دوی ترمنځ کړکيچ رامنځته کوي، د کوچيانو مشران بايد له کوچي زورواکو او داخلي سياستوالو سره اړيکې جوړې کړي ترڅو ملاتړ ترلاسه او په تدريجي ډول په پراخو شخړو کې ښکيل شي. ځينې ټولنې د دغې چارې په ترسره کولو کې د نورو هغو په پرتله زياتې بريالۍ وې. ۱۲۱ آن د وزير کاريز موسی خيلو ۱۲۲ خپل ځانونه د کوچي زورواکو تر ملاتړ او ساتنې لاندې راوستي چې بيا دغه زورواکي په خپل وار سره د دوی اړيکې له دولت سره تنظيموي. له ميشتو کوچيانو غوښتل شوي چې د دولتي چارواکو د «فعاله کيدو» لپاره د لګښت پيسې ورکړي. دوی دغه راز منلې چې ښايي په کړکيچنو حالاتو کې د کوچي مشرانو د ملاتړ لپاره پر دوی غږ وشي. ۱۲۳



۱۵۹ د کندز ولايت په امام صيب ولسوالۍ کې د اندړو قبيلې له يوه مشر سره مرکه، اپريل ۲۰۱۷.

۱۲۰ د کوچيانو د رياست له يوه چارواکي سره مرکه، لوګر ولايت، فبروري ۲۰۱۸.

۱۲۱ په لوګر کې د نيازيو او عيسی خيلو قبيلو ترمنځ د شخړې په اړه د باټوخيلو قبيلې له يوه منځګړي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۸.

۱۲۲ له ميشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد ميشت ځای، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ له ميشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد ميشت ځای، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له يوه پخواني ميشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد ميشت ځای، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۱۲۳ د وزير کاريز ميشت ځای په ۲۰۱۳ کال د لوګر ولايت په خوشي ولسوالۍ کې د حکومت له اجازې پرته تاسيس شوي

**اتم چارټ: یو کوچی زورواکی څرنګه خپل رول پیاوړی کوي**

هغه زورواکی چې د جنت ګل ښارګوټی اداره کوي د هغو خلکو لپاره د «ځمکې اسناد» صادروي چې له ده ځمکه رانیسي، خو پیرودونکو له دولتي ادارو څخه د ځمکې هیڅ ډول اسناد نه دي ترلاسه کړي. ځینې په دې آند دي چې د دغه کار لامل په خپله زورواکي دي چې د دغه کار مخه نیسي ترڅو دوی تر خپل واک او مشرۍ لاندې وساتي.[۱۲۴] یو بل قومي مشر د هغه ملاتړ په اړه چې ده او د ده ټولنې ترلاسه کړی خپل آند داسې څرګند کړ:

> په دې پروسه کې، موږ له [نوم پټ ساتل شوی] سره ولیدل او له هغه مو غوښتنه وکړه چې د یاد میشت ځای د نومرو او ځمکې په ویش کې د ناصرو قبیله په پام کې وساتي. هغه زموږ دا غوښتنه ومنله او موږ ته یې وویل چې هغه به زموږ د قبیلې د هرې کورنۍ لپاره دوه دوه نومرې ورکړي، خو دغه معامله په دې شرط ترسره شوه چې د ناصرو قبیلې دا ومنله چې دوی به د اړتیا په صورت کې د هغه ملاتړ او مرسته کوي. موږ دغه شرط و مانه [...]. کله چې یاد میشت ځای پلان شو، د نومورې کسانو د ناصرو قبیلې ۲۰ کورنیو لپاره شاوخوا ۴۰ نومرې راکړې، چې د کور جوړولو لپاره د هرې نومرې مساحت ۴ بسوې (۴۰۰ متر مربع) و.[۱۲۵]

د جنت ګل ښارګوټي زورواکی د دغه ښارګوټي اوسیدونکو ته وایي چې هغه به دوی له هرګواښه وژغوري او د کابل ښاروالي به دیته اړ کړي چې د یاد ښارګوټي لپاره خدمتونه چمتو کړي.[۱۲۶] په حقیقت کې، دی ښایي د دې هڅه کوي چې نومورې اوسیدونکي په خپل ملاتړ باندې متکي کړي. په دې اړه، یوه کس داسې وویل:

> [نوم پټ ساتل شوی]، موږ ته وایي چې هغه به مو له هرې ستونزې وساتي. دی تل په دولت کې د خپل نفوذ په اړه خبرې کوي او وایي چې هر ولسمشر چې ټاکل کیږي د هغه ملاتړ ته اړتیا لري او همدارنګه د نورو شیانو ادعا هم کوي. [...]. په هغه صورت کې چې یوه ورځ هم [نوم پټ ساتل شوی]، نور و نه اوسي، موږ په ښکاره ډول په ستونزه کې یو، ځکه چې هغه یوازینی کس دی چې د دغه ښار ګوټي ټولې کورنۍ او بهرنۍ چارې تنظیموي.[۱۲۷]

دغه زورواکی بیا پر ځايي خلکو له خپل نفوذ څخه ګټه اخلي ترڅو دوی خپل ملاتړي کړي- لکه څرنګه چې دا ملاتړ د ۲۰۱۹ کال په فبروري میاشت کې هغه مهال ترسره شو، کله چې نوموړي زورواکي، خلک په هغه لاریون کې د ګډون لپاره اړ کړل چې د مرکزي حکومت پر ضد تنظیم شوی و. دغه زورواکی همدارنګه په دوامداره توګه له نورو ځايي زورواکو او ټولنو سره چې دا یې موخه ګرځوي په شخړو کې ښکیل دی. د کوچیانو میشتیدنې، ښایي د ځواک داسې یو بنسټ رامنځته کړی چې یو کوچی قومي مشر یې په یوه زورواکي بدل کړی دی.[۱۲۸]

## ۷.۲.۳ د شخړې سیاسي لاملونه

### خورا پراخه شخړه

اوسنی سیاسي چاپیریال د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ پر شخړه ستر اغیز لري. دا له هغې بېلګې څخه څرګندیږي چې روانه شخړه کوچیان له ځانګړو سیمو چې د تاوتریخوالي یا ماینونو په څیر لاملونو له امله ډیرې ځپل شوي وي، منع کوي او دیته یې اړ کوي ترڅو خپل پام پر محدود شمېر خوندي ځرځایونو متمرکز کړي. همدارنګه، دا چاره ښایي د مذاکراتو هوکړې ستونزمنې کړي، لکه څرنګه چې د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست یوه کارکوونکي توضیح کړه:

> زما په آند که چیرې په افغانستان کې ثبات او امنیت ټینګ نشي، د ځايي اوسیدونکو او کوچیانو ترمنځ تړون به د اوږدې مودې لپاره دوام ونکړي. د بېلګې په توګه په برکي برک ولسوالۍ کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ یو تړون شتون درلود. هغه مهال، امنیت ښه و او هر لوري یاد [تړون] مراعاتوه، خو کله چې امنیت خراب شو، هیڅ لوري تړون ته درناوی نه کاوه. که چیرې امنیت ښه وي، بیا تړون پلي کیږي، خو که چیرې ښه نه وي، بیا نو فکر نه کوم چې کوم لوری دې یاد تړون ته درناوی ولري.[۱۲۹]

---

۱۲۴ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیرکاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل، ۲۰۱۹ ،له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیرکاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل، ۲۰۱۹ ،له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیرکاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل، ۲۰۱۹

۱۲۵ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛

۱۲۶ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۱۲۷ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۱۲۸ د حاجي جنت ګل په ښار ګوټي کې له یوه میشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۱۲۹ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

### د قدرت بدلیدونکي انډولونه

د ټولنو ترمنځ د ځواک بدلیدونکی انډول، یو بل لامل دی چې د شخړې د کچې په لوړولو کې مرسته کوي. له جګړې وړاندې ټولنیز نظم د لسیزو جګړو له امله کمزوری (تضعیف) شوی، لکه څرنګه چې کابو هر ټولنې یا خو خپل ځانونه په وسلو سمبال کړي یا یې له وسله والو ډلو سره اړیکې جوړې کړي دي. په نویو شرایطو کې هغه ټولنې چې پخوا به د کوچیانو په وړاندې په ګونډو کیدلې، اوس یې پر وړاندې لا زیات زړور شوي، نو ځکه زیاتې شخړې یې رامنځته کړي. د دې حالت تر ټولو څرګند او ژوندی بیلګه په هزاره جاتو کې موندل شوې (نهم جدول وګورئ)، کله چې هزاره ګان په ۱۹۸۰ میلادي کلونو کې په دې بریالي شول چې ځانونه په وسلو سمبال کړي او یو ځل بیا په ۲۰۱۱ میلادي کال کې کله چې دوی په سیاسي مرکزي جوړجاړي کې هم شامل کړی شول، په داسې ډول چې تر هغې پخوا یې هیڅکله هم دا ډول وضعیت نه و تجربه کړی. خو دا بې ساري نه دی. د کندز ولایت په امام صیب ولسوالۍ کې یوه اندړ پښتون وویل:

> پخوا به زمونږ نیکونو او پلرونو به له کومې ستونزې له ازبکانو سره یو ځای ژوند کاوه. کله چې انقلاب پیل شو، یو شمېر خلکو وسلې پیدا کړې او ځواکمن شول. بیا همدغه چاره د دغو شخړو لامل شوه. پخوا به ازبکانو زمونږ ځمکې نه نیولې؛ خو کله چې ځواکمن شول دوی پر دغو ځمکو تیری پیل کړ.[۱۷۰]

> د طالبانو له رژیم وړاندې د مجاهدینو د حاکمیت پر مهال، هزاره توکمو د افغانستان په مرکزي ولایتونو کې کافي قدرت درلود، نوځکه کوچیان له ۱۳۵۸ لمریز کال (۱۹۷۹ میلادي کال) څخه دلته نه شول راتلای. [...] شخړه د جمهور رییس کرزي د حکومت په لومړیو کې ځکه پیل شوه چې کوچیانو د طالبانو د حاکمیت پرمهال ډیر قدرت درلود خو هزاره ګان بیا کمزوري ول. [...] هغه مهال چې د کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت رامنځته شو، کوچیانو یو ځل بیا دا فکر کاوه چې د طالبان د حکومت په څېر عینې قدرت لري او کولای شي چې زرګونه څاروي د بهسودو او دای میرداد ولسوالیو له کلیو څخه د افغانستان مرکزي ولایتونو لکه بامیان او غور ته بوځي. خو مونږ هزاره توکمي د طالبانو د واکمنۍ په څېر کمزوري نه وو او [...] د کوچیانو پر وړاندې ودریدوو.[۱۷۱]

له حیرانتیا پرته، د کوچیانو آند د دغو پراختیاوو په اړه په بشپړه توګه منفي دی. لکه څرنګه چې د ملاخیلو یو مشر وویل:

> له جګړو وړاندې حکومتونه ډیر ښه ول. هزارګانو یوازې کولای شول چې سرتیري و اوسي، نه صاحب منصبان. د پخوانیو حکومتونو د واکمنۍ پر مهال، کوچیان هرچیرې تلل او ستونزې ورته نه پیښیدې. اوسنی حکومت ښه حکومت نه دی: دوی کوچیان قیدوي خو هزاره ګانو ته اجازه ورکوي ترڅو له خپل ټول قدرت څخه کار واخلي[۱۷۲].

۱۷۰ د کندز ولایت په امام صیب ولسوالۍ کې د اندړو قبیلې له یوه مشر سره مرکه، اپریل ۲۰۱۷.

۱۷۱ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کاروانې کلی، ۱۵ فبروي، ۲۰۱۷

۱۷۲ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کاروانې کلی، ۱۵ فبروي، ۲۰۱۷

# ۴. پر دولت او ټولنې باندې د شخړې اغیز او اهمیت

## ۱.۴ بهرنۍ ګټنه (استثمار)

لکه څرنګه چې مخکې په ۳.۲.۱ برخې کې پرې خبرې وشوې، دواړه لوري یو پر بل دا تور لګوي چې بل لوری د زورواکونو او د مافیا ډلو لخوا تمویلیږي. که څه هم، کله ناکله د یوې یا بلې بلواګرې ډلې له خوا د تمویل تورونه هم لګول کیږي.[۱۷۳] د یوې بزګرې ټولنې د مشر له وینا سره سم، په دیرای کې، سراج الدین حقاني، بزګرو ته یو لیک استولی و او له دوی څخه یې غوښتې ول چې کوچیان په تیره بیا نیازیان په خپل حال پریږدي.[۱۷۴]

په دغو شخړو کې دواړه خواوې یو بل په دې تورنوي چې د حکومت له لورینې څخه برخمن دي. په دیرای کې، د بیلګې په توګه یو کوچي مشر، هزاره سیالان په دې تورنوي چې چارواکي پر دوی باندې لورینه لري:

> مونږ هڅه کوو چې د نورو ستونزې هم حل کړو خو په خوست ولایت کې دغه د ډګروال کورنۍ شتون لري. دوی په حکومت کې قدرت لري او نه غواړي چې ستونزې حل کړي. [...] دغه زورواکي جرمونه ترسره کوي خو حکومت له دوی ملاتړ کوي. [...] د ستونزې د حل لاره د زورواکو او مافیایي ډلو ختمول دي. که مو ستونزې د قومي شورا له لارې حل کړی وای، نو دغو زورواکو به یو ځل بیا ځمکې غصب کړې وای دا ځکه چې حکومتي چارواکي له دوی سره مرسته کوي.[۱۷۵]

یو کلیوال پر کوچیانو باندې عینې (مشابه) تورلګوي:

> نه یوازې کوچیان بلکې په هر ولایت کې زورواکي هم ځمکې غصبوي. [...] دا مافیایي ډلې دي. لکه څرنګه چې د نیازیو تر شا، [نوم یې پټ ساتل شوی] دی او هغه دوی ته وایي چې دی د دوی ملاتړ کوي.[۱۷۶]

دغه ډول تورونه زیاتره وخت لانجمن (متنازع) وي. د بېلګې په توګه ، په بهسودو کې میشت هزاره ګان معمولاً د هزاره جاتو د نورو برخو او هزاره توکمو ګوندونو او ډلو څخه د مرستې ترلاسه کول ردوي؛ پر ځای یې ادعا کوي چې د وسلو د رانیولو لپاره یې خپل څاروي پلورلي، لکه څرنګه چې یې پورته نقل قول شوی (همدارنګه دوهم جدول وګورئ). [۱۷۷] دا ناشونې ښکاري چې ځایي هزاره بزګرو به د هغو هزاره توکمو ګوندونو او پخوانیو ملیشه قومندانانو له ملاتړ پرته چې د راپورونو له مخې د بهسودو هزاره ګانو په ملاتړ یې په سلګونو نفر چمتو کړي، د کوچیانو په وړاندې د مقاومت وړتیا لرلای وای.

په همدې ډول، زیاتره هغه کوچي مرکه کوونکي چې په بهسودو کې ښکیل ول د بهرنۍ مرستې ترلاسه کول ردوي، سربېره پر دې چې په منظم ډول له طالبانو او کله ناکله له کوچي زورواکو سره په یو ځای کیدو تورن شوي چې هر کال د کوچیانو او هزاره ګانو ترمنځ د تاوتریخجنو نښتو لامل کیږي چې له امله یې هرکال په لسګونو وګړي قرباني کیږي. [۱۷۸] خو بیا هم، ځینې کوچي سرچینې دا مني چې لږ تر لږه په بهسودو کې له قومي شوراګانو څخه د نغدو پیسو مرسته او هغه رضاکاران چې د نورو قبیلو لخوا استول شوي ترلاسه کوي. ځینو کوچي مرکه کوونکو آن منلې چې له کوچیانو پرته له نورو خلکو لکه پښتنو ملي سیاستوالو یې مرسته ترلاسه کړې. [۱۷۹] لږ تر لږه دوه مرکه کوونکو له یوه یا دوو کوچي زورواکو څخه د مرستې ترلاسه کول منلي. [۱۸۰] یوه مرکه ورکوونکې منلې چې یوې بلواګرې ډلې له خوا ورته ځینې وسلې چمتو شوې. [۱۸۱] یوه بل منلې چې یو وخت طالبانو مخکې له دې چې کوچیان پریږدې، له دوی سره مرسته کوله. [۱۸۲]

---

۱۷۳ د چکري کلي له قومي مشر سره مرکه، خاک جبار ولسوالي، کابل ولایت، فبروري ۲۰۱۷؛ د ملنګ کلي له یوه قومي مشر او کرندوګر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛ دکابل ولایت د خاک جبار ولسوالۍ، د باغګي ټولنې له قومي مشر سره مرکه، مارچ ۲۰۱۷؛ د کلي له یوه مشر سره مرکه، الیاس خان سیمه، لوګر ولایت، ډسمبر ۲۰۱۶.

۱۷۴ د ټرون قبیلې له یوه مشر سره مرکه، د دیرای سیمه، خوست ولایت، اپریل ۲۰۱۷

۱۷۵ د کلي له یوه مشر سره مرکه، مرکخیلو قبیله، د دیرای سیمه، خوست ولایت، ۷ اپریل ۲۰۱۷

۱۷۶ د خوست ولایت په دیرای کې د متونوال له قومي مشر سره مرکه، ۸ اپریل ۲۰۱۷

۱۷۷ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمې سیمې د کارواني کلی، ۱۵ فبروي، ۲۰۱۷؛ په بهسودو ولسوالۍ کې د کجآب سیمې په لته بند کلي کې د بزګرې ټولنې له یوه مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۱۷۸ په بهسودو ولسوالۍ کې د کجآب سیمې په لته بند کلي کې د بزګرې ټولنې له یوه مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۱۷۹ په میدان وردګو ولایت کې د خیروخیلو قبیلې له یوه قومي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۶؛ د میدان وردګو ولایت په سرچشمه سیمه کې د ناصر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۶.

۱۸۰ د میدان وردګو ولایت په سرچشمه سیمه کې د ناصر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۶؛ د افغانستان د کوچیانو د شورا له یوه غړي سره مرکه، کابل، جون ۲۰۱۷.

۱۸۱ د میدان وردګو ولایت په سرچشمه سیمه کې د ناصر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۶.

۱۸۲ د افغانستان د کوچیانو د شورا له یوه غړي سره مرکه، کابل، جون ۲۰۱۷.

په ده سبز کې هم کله چې اړ کړای شول، دواړو بزګرو او کوچیانو دا ومنله چې دوی نه یوازې له زورواکو بلکې دغه راز د کابل له سیاستوالو، قومي مشرانو او ځايي شوراګانو څخه هم مرسته ترلاسه کړې یا یې غوښتنه کړې.[۱۸۳] د کوچیانو یوې سرچینې منلې چې له طالبانو یې وسلې ترلاسه کولې:

> د کوچیانو پر وسلو سمبالولو لپاره له طالبانو مننه، ځکه چې هر چا به پر کوچیانو تیری کاوه او اوس کوچیان له خپل ځانه دفاع کولی شي. [...] طالبانو له مونږ سره د وسلو او نورو شیانو مرسته کړې او له دوی څخه د نورو مرستو غوښتنه کوو. که چیرې دولت زمونږ خبرو ته غوږ نشي، موږ بله لار نه لرو؛ له طالبانو به ملاتړ ترلاسه کړو.[۱۸۴]

په ازره کې، سیالو ټولنو منلې چې د بهرني ملاتړ لپاره یې، له سیاستوالو او دولتي چارواکو غوښتنه کړې چې له دولتي چارواکو یې غوښتنه تر یوه حده بریالۍ او پوره شوې.[۱۸۵] لږ تر لږه یوه بزګر قومي مشر له حزب اسلامي څخه د ملاتړ ترلاسه کول منلي.[۱۸۶]

په څرګند ډول، د بهرني ملاتړ په اړوند په دغو ادعاوو کې لږ تر لږه یو څه حقیقت شتون لري. دا ښکاره خبره ده چې زورواکي او سیاسي ډلې که تل نه وي، کله ناکله په یو شمیر دغو شخړو کې رول لوبوي.

خو آیا دا خبرې د هغو تکراري تورونو د اثباتولو لپاره بسنه کوي چې ډلې، سیاستوال او بلواګر د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې تر شا یو له محرکه عواملو څخه دي؟[۱۸۷] د بهرني لوري د ښکیلتیا ادعاوې تر دې حده معمولې دي چې یو شخص پرته له دې چې دا فکر وکړي چې آیا دا د هغه څه قرباني دی کوم چې په حقیقت کې یو ناشونی حالت ګڼل کیږي. په ځانګړي ډول، دوی د چټکې ډموګرافیکې او د منفي اقتصادي ودې په شرایطو کې، بله چاره نه لري. په داسې حال کې چې ممکن په دغو ادعاوو کې مبالغه شوې وي، خو احتمالا د دغه ډول لوبغاړو له ملاتړ پرته، د کوچیانو او بزګرو ټولنو لپاره به دا خورا ستونزمنه وه چې یو له بل سره په یوه دوامداره شخړه کې ښکیل شي. دا اړینه بریښي ترڅو وڅیړل شي چې څنګه بهرني لوبغاړي کولای شي د متخاصمو ټولنو لپاره د مرسته رسونکو په توګه عمل وکړي؟

په لنډ ډول، یادې شخړې له پخوا راهیسې د یوې مودې لپاره بهرني لوبغاړي را جذبول. زورواکي، ګوندونه او سیاستوال، د کوچیانو او ځايي ټولنو په پرتله سترې سرچینې لري او په بالقوه ډول کولای شي دغه ځايي شخړې له پراخو شخړو سره وتړي. د دې په پایله کې، کوم څه چې په اصل کې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ یوه حقیقي شخړه وه، ښایي د شخړې په نورو ډولونو کې مدغم یا ګډ شوي وي.

۱۸۳ د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ له یوه قومي مشر سره مرکه، جنوري ۲۰۱۷؛ د کابل د ده سبز ولسوالۍ د خواجه چشت سیمې د کلي له یوه مشر سره مرکه، جنوري ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د پای منار کلي له مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷؛ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د ټغر قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷؛ دکابل ولاتی د خاک جبار ولسوالۍ، د باغګي ټولنې له قومي مشر سره مرکه؛ د اکبر خیلو قبیلې یو قومي مشر، مارچ ۲۰۱۷.

۱۸۴ د اکبر خیلو قبیلې یو قومي مشر، مارچ ۲۰۱۷.

۱۸۵ په لوګر ولایت کې د سلطانخیلو له یوه قومي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲؛ په اوبازک کلي کې د عبد الرحیمزیو ټولنې له یوه قومی مشر سره مرکه، ډسمبر ۲۰۱۲؛ د لوګر ولایت په خلیل اباد سیمه کې د نعیم خیلو ټولنې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

۱۸۶ د ببرو قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

۱۸۷ په لوګر ولایت کې د سلطانخیلو له یوه قومي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲؛ په اب بازک کلي کې د عبد الرحیمزیو ټولنې له یوه قومی مشر سره مرکه، ډسمبر ۲۰۱۲؛ د لوګر ولایت په خلیل اباد سیمه کې د نعیم خیلو ټولنې له یوه کوچي مشر سره مرکه، نومبر ۲۰۱۲.

## ۲.۴ قومي او قبیلوي کوونه

د ښارې د بدلون د پوړتني بهیر د یوې بلې بېلګې په توګه د یادونې وړ ده چې د ځینېزېزې ډلې له خوا ځینې ترسره شوې مرکې په ګرګنډ ډول د ښارې د قومي کیدو په لور لیوالتیا په ډاګه کوي. د بېلګې په توګه، په ده سبز کې یوه تاجک قومي مشر په ډاګه کړه چې پښتانه ځایي اوسیدونکي په اتوماتیک ډول د خپلو پښتنو کوچیان ملاتړي ول:

> د حاجي محمد افضل خان کلا په کلي کې پښتانه دي نوځکه دوی له کوچیانو سره مرسته کوي. زرین کلا هم پښتانه دي نوځکه دوی هم له کوچیانو سره مرسته کوي چې زمونږ ځمکې ونیسي ترڅو بیې د کوچیانو او خپلو منځونو کې وویشي. [۱۸۸]

یوه کوچي مرکه کوونکي هم مشابه څرګندونې وکړې هغه دا چې د پښتنو د بېلابېلو قبیلو شوراګانو او سیاستوالو له خوا ورسره اړیکه ټینګه شوې او ټولو بېې د مرستې او ملاتړ ژمنې کولې. هغه زیاته کړه: «دا د پښتنو او فارسي لوبه ده. ته نه باید ځان کمزوری او ضعیف وښیې.» [۱۸۹]

په امام صاحب ولسوالۍ کې بل مشر بیا دا باور درلود چې ځایي اوسیدونکي پر قومي ډلو ویشل شوي، ځینې یې د کوچیانو پلویان او ځینې نور یې د کوچیانو مخالفین دي:

> دلته سیالۍ د ازبکو او پښتنو ترمنځ ده نوځکه دلته د پښتنو او ازبکو ټول کلي په دغې شخړه کې ښکېل دي. [۱۹۰]

په خاک جبار ولسوالۍ کې یو پښتون بزګر په دې اړه خبرې وکړې چې څرنګه یو سیاستوال چې له ځایي ټولنې سره اړیکې درلودې هڅه کوله چې هغه کوچي زورواکي چې په سیمه کې یې ځمکه غصبوله قانع کړي ترڅو دوی په خپل حال پرېږدي او دلیل یې هم دا و چې دوی خو پښتانه دي، نه تاجکان.[۱۹۱]

په هغو چاپیرېالونو کې چې قومي جوړښت یې یو دی، د قومي کیدو نښې نښانې ترسترګو کیږي. د بېلګې په توګه د خوست په ولایت کې ځایي خلک ،په قومي لحاظ، کرلاني دي حال دا چې کوم کوچیان چې هلته ژمې تیروي هغه غلجیان دي. یوه نیازي کوچي وویل:"دوی مونږ ته وايي چې تاسې باید دلته را نه شئ ځکه چې تاسې غلجیان یاست."[۱۹۲] یوه ځایي مشر دا خبره ومنله:

> نور کلي هم له کوچیانو سره په دغې شخړه کې ښکېل دي لکه متونوال، پیری او تیرون. په نیازیو کې عین وضعیت دی: نورې قبیلې لکه عیسی خیل، ناصر او دولتزي، په دغو شخړو کې ښکېل دي. دوی هم له نیازیو سره مرسته کوي. دا د غلجیانو او کرلانیو ترمنځ یو ستره شخړه ده.[۱۹۳]

دا به بې وخته وي چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ شخړه په قومي لحاظ توصیف شي، خو د قومي کیدو په لوریو بهیر شته چې په افغانستان کې د قومي قطبي کیدلو د پراخو بهیرونو په رامنځته کیدلو کې مرسته کوي. د دا ډول شخړو د زیاتیدو ګواښونه بیاځلې په مرکو کې اوریدل کیږي، آن د پلازمینې په شاوخوا سیمو کې: مونږ به دغه لانجمن څرګندونه وکاروو او هغو کسانو ته به اجازه ورنکړو چې مونږ لپاره ستونزې جوړوي. په کوچي آباد کې مو کورونه ودان کړل او همداراز غواړو په خاک جبار او چاربازګي کې هم کورونه جوړ کړو. که [نوم یې پټ ساتل شوی] او [نوم یې پټ ساتل شوی] مونږ ته اجازه رانکړي، مونږ به دوی ته اجازه ورنکړو چې کابل ته دننه شي او سړک به یې پرمخ بند کړو. که هرڅوک زمونږ پرخلاف ودریږي، مونږ به ورسره جګړه وکړو ځکه چې بل لاره نه ده راپاتې.[۱۹۴]

> دلته خبرې اترې اغیزمنې واقع نشوې [...]. مونږ ځینې مشران هغه ته ولیږل، خو [نوم یې پټ ساتل شوی] زمونږ مشران یې په بندي خانې کې واچول. مونږ غواړو چې یاده ستونزه د خبرواترو له لارې حل کړو خو دوی زمونږ خبرو ته غوږ نه نیسي. نوځکه باید ورته خپل زور وښیو.

۱۸۸ د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د پای منار کلي له یوه تاجک مشر سره مرکه، جنوري، ۲۰۱۷.

۱۸۹ د کابل ولایت په ده سبز کې له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، تغر کوچي قبیله، جنوري ۲۰۱۷.

۱۹۰ د امام صاحب د کول اکاخیل سیمې د کلي له یوه مشر سره مرکه؛ اپریل ۲۰۱۷

۱۹۱ دکابل ولایت د خاک جبار ولسوالۍ، د باغګي ټولنې له قومي مشر سره مرکه، مارچ ۲۰۱۷

۱۹۲ د نیازیو قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، د خوست ولایت د دیرای سیمه، اپریل ۲۰۱۷ د خوست ولایت په دیرای کې د متونوال له قومي مشر سره مرکه، ۸ اپریل ۲۰۱۷

۱۹۳ د کابل ولایت د بت خاک کوچي آباد سیمې، له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، مارچ ۲۰۱۷

۱۹۴ د کابل د ده سبز ولسوالۍ د خواجه چشت سیمې د کلي له یوه مشر سره مرکه، جنوري

## ۳.۴ دولت، ناغیزمنه یا غایبه مرجع ګڼل شوې

د دولت د رسیدنې کموالی یوازې د ستونزې یو اړخ دی. لکه څرنګه چې په اړه یې په **۱.۵** برخه کې بحث شوی، آن له جګړې وړاندې د افغان دولت بېلابېل تصویب شوي قوانین تر ډېره حده د دوارو ځایي چارواکو او ټولنو له خوا له پامه غورځول شوي دي. څرنګه چې یوه دولتي چارواکي په ډاګه کړه، آن په هغو سیمو کې چې لا اوس هم تر دولتي نفوذ لاندې دي، دولتي اداري معمولاً یا بې واکه دي او یا لیوالتیا نه لري. په ځینو قضیو کې، ځایي زورواکي ښایي په ښکاره ډول، دولتي چارواکي ونګوي.[۱۹۵] د قضیې په ځېړنو کې نږدې ټولو کوچي او ځایي مرکه کوونکو، حکومت او آن دولت ته د سیالو ډلو د ناهمغږې ګډوډۍ په سترګه کتلي، داسې اداره چې د دې وړتیا نه لري چې په یو جهت کې، همغږې اقدامات ترسره کړي.

دا د خورا حیرانتیا وړ خبره ده چې له همدې امله په شخړه کې له ښکیلو ټولنو سره د دولت ښکیلتیا ډېره معموله نه ده. له هغو کوچیانو او ځایي اوسیدونکو سره چې د دغې پروژې د قضیې د ځېړنو لپاره مرکه شوې، محدوده نمونه (په ټوله کې **۴۰**) یې دا ښکاره کوي چې دغو مرکه کوونکو په شخړې او د شخړې په حلولو کې د دولتي چارواکو د ښکیلتیا په اړه په حیرانوونکي ډول مشابه ځوابونه ورکړي (جدول وګورئ). د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو کابو **۴۰** سلنې یې له چارواکو څخه د مرستې غوښتلو یادونه کړې؛ هیڅ یوه مرکه کوونکي د دې راپور نه دی ورکړی چې دولتي چارواکي په دې برخه کې ګټور واقع شوي. ځینو دولتي چارواکو د هغو شخړو په حل کې چې کوچیان په کې ښکېل دي د ځان لپاره تل په غیر مستقیم ډول د بریا ادعا کړې ده (د درېیم لوري پر منځګړیتوب د اتکا له لارې؛ لاندې برخه وګورئ).[۱۹۶] سربېره پر دې، دولتي چارواکي زیاتره د دولت د خورا زیاتې کمزورتیا یو ناڅرګند انځور تاییدوي؛ چارواکي معمولاً او یوازې د دې وړتیا لري چې د څارویو د ضبطولو او د فصلونو د محدود زیان په اړه کوچنۍ شخړې حل کړي.[۱۹۷] بهرني لوبغاړي هم غواړي دا تایید کړي چې دولتي چارواکو ناچیزه رول لوبوي.[۱۹۸]

د قضیې د ځېړنې د مرکه کوونکو د دوو ګروپونو ترمنځ په دې اړه توپیرونو شتون درلود چې څو ځلې د بهرني منځګړیتوب (له غیر دولتي سرچینو څخه) په لټه کې شوي. د قضیو په ۸۰ سلنه کې کوچیانو ځواب ورکړی چې دوی د منځګړیتوب په لټه کې شوي، سره له دې چې بریا یې محدوده وه (د هغو یوازې یو ربع دغې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی او تایید کړې یې ده چې دوی منځګړیتوب یو څه ترلاسه کړی دی). ځایي اوسیدونکو دغې پوښتنې ته **۲۰** سلنه مثبت ځواب ورکړی چې آیا کله یې د نادولتي منځګړیتوب لټه کړې، خو داسې ښکاري چې ځایي اوسیدونکي په اوسط ډول د کوچیانو په نسبت د منځګړیتوب له هڅو په یو څه ترلاسه کولو کې تر ډېره بریالی ول. هغو چې دغې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی، له نیمایي زیاتو یې د دغې چارې مثبتې پایله تایید کړې.

۱۹۵ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یوه آفسر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۱۹۶ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۱۹۷ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ د کوچیانو د چارو د سمون د لوي ریاست له مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۱۹۸ له حاجي محمد رحیم تره خیل سره مرکه، د ملا تره خیل یو له نږدې پلویانو څخه؛ له عبد المبین بیګ سره مرکه، د عبد الرؤف ابراهیمی له نږدې پلویانو څخه.

## ۴.۴ د نادولتي لوبغاړو رول

په خوست ولایت کې د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست یوه چارواکي دا ومنله چې د شخړو د حل لپاره له نادولتي لوبغاړو څخه کار اخیستل اغلباً یوه بریالی. تګلاره ده چې له لرغونو ځایي عرفونو څخه مشتق شوې ده او په حقیقت کې یاد ریاست یې اغلباً هڅوي او ورنه ملاتړ کوي. ده آن وویل چې نادولتي لوبغاړي له دولتي لوبغاړو څخه ډیراغیزمن دي:

زه په دې باور یم چې د دغو ټولنو رول خورا ګټور دی. د دولتي چارواکو له رول سره د مقایسې وړ نه دی. څرنګه چې تاسو پوهیږئ د دولت سیمه ییزه اداره په فساد ککړه مرجع ده. هیڅوک دا لیوالتیا نلري چې د خپلو شخړو د حل لپاره دولتي ادارو ته مراجعه وکړي. هغه کسان چې غواړي د حکومت له لارې خپلې شخړې حل کړي باید ډیر انتظار شي او اوږده دولتي مراحل بشپړ کړي. منځګړی د ټولنو د شخړو د هوارولو په برخه کې اړین رول لوبوي.[199]

> نادولتي منځګړي کوم چې معمولاً د ګاونډیو قبیلو پورې اړوند دي یا هم عالمان دي د دولتي منځګړو په نسبت ډیر لاس رسی لري، آن کولای شي د طالبان تر ولکې لاندې سیمو ته په اسانۍ ولاړ شي.[200]

د هغو ټولنو لپاره چې په شخړه کې ښکېل دي، یو احتمالي زیان دا دی چې د نادولتي منځګړو راوړل لګښت لري. د دوی د لګښتونو پیسې باید ورکړل شي. د بېلګې په توګه په فراه ولایت کې یو وار منځګړیتوب ۴۸۰،۰۰۰ زره افغانۍ (۲،۲۴۰ امریکایي ډالره) لګښت لري چې په شخړه کې د دوو ښکېلو ټولنو ترمنځ په دوو برخو ویشل کیږي.[201]

نادولتي منځګړي معمولاً لومړی د شخړې د دواړو لوریو سره په جلا ډول ګوري، وروسته بیا ګډې ناستې رابولي. په ځینو موارد کې، منځګړي د شخړې له دواړو خواوو غواړي چې له دوی سره یو اندازه پیسې کیږدي او د منځګړو د پریکړو د ردولو په صورت کې به دوی دا پیسې له لاسه ورکړي. په ځینو نورو موارد کې، منځګړي یوازې دا هڅه کوي چې د شخړې دواړه خواوې یو له بل سره د شخړې د حل لپاره هوکړه وکړي.[202]

> کله ناکله نادولتي لوبغاړي چې د شخړو د هوارولو لپاره رابلل کیږي کیدای شي چې بلواګرې شبکې وي. هوکړو ته د رسیدو لپاره، ټولنې (د هزاره توکمو په ګډون) د طالبانو پر منځګړیتوب تکیه لري، که څه هم د یو کوچي مشر له وینا سره سم چې په ۲۰۱۵ میلادي کال کې یې دا ډول منځګړیتوب تجربه کړی، ظاهراً د طالبانو منځګړیتوب ډیر بریالی نه بریښي.[203]

---

۱۹۹ په خوست کې د کوچیانو د ریاست له یوه مامور سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۰۰ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸

۲۰۱ په فراه ولایت کې د بارکزیو ټولنې له یوه مشر (ملک) سره مرکه، اپریل

۲۰۲ په فراه ولایت کې د بارکزیو ټولنې له یوه مشر (ملک) سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸؛ په لوګر کې د نیازیو او عیسی خیلو قبیلو ترمنځ د شخړې په اړه د باټوخیلو قبیلې له یوه منځګړي سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸.

۲۰۳ له یوه کوچي قومی مشر سره مرکه، د ننګرهار حصارک ولسوالي، ۲۲ نومبر ۲۰۱۲.

# ۵.۴ آیا د شخړو په برخه کې دولت له پامه غورځولای شو؟

## ۱.۵.۴ د دولت نسبي شتون

له ۲۰۰۲ میلادي کال وروسته، د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې د مدیریت په برخه کې ترټولو زیات فعال دی خو د یاد ریاست رول څارنه، راپور ورکول او د نورو دولتي ادارو همغږي کول دي. که څه هم د کوچیانو د چارو د سمون لوی ریاست کې چارواکي اغلباً له هغو نورو دولتي ادارو (لکه د کرهنې وزارت، پولیسو، د اراضي چارو اداره او د پوهنې وزارت) څخه سرټکوي چې د دوی د مرستې او ملاتړ غوښتنو ته مثبت ځواب نه ورکوي.[۲۰۴]

که څه هم، په حقیقت کې، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو مرکې به ښایي د شخړو د حل په برخه کې د دولتي لوبغاړو رول کم وګڼي. منځګړیتوب د دربیم ګړي له لوري لکه ګاونډې ټولنې اغلباً د دولتي ادارو لکه د کوچیانو د چارو د سمون لوی ریاست لخوا تنظیمیږي. د کوچیانو د چارو د سمون لوی ریاست اغلباً نه غواړي چې نیغ په نیغه په دې برخه کې ښکېل شي، ځکه چې ځایي اوسیدونکي پر ریاست دا شک کوي چې د کوچیانو پلوی کوي. یوه منځګړي د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست یې د مرستې او ملاتړ پخاطر وستایه.

آن که منځګړیتوب د ګاونډیو ټولنې لخوا ترسره شي، ځایي ادارې د هر ډول هوکړې د پلي کولو په برخه کې د اجرایي ضمانت کوونکي په توګه رول لوبوي.

## ۲.۵.۴ ولې ښایي دولت هیڅ بدیل ونلري؟

د څړځایونو د دولتي مدیریت او ټولنې مدیریت د ملاتړو ترمنځ مناظره ،په یو معنا، یو باطله مناظره ده.[۲۰۵] که څه هم پر دولت د باور نه شتون په اړه پورته خبرې وشوې، خو بیا هم دغه مشر د شخړو او ستونزو د رامنځته کیدو په صورت کې، دولتي ادارو ته د مرستې لپاره د لومړۍ مرجع په سترګه ګوري:

ترټولو لومړی، مونږ په ګډه له حکومت سره هڅه کوو چې خپله شخړه حل کړو؛ که حکومت مو شخړه حل نکړي، نو بیا مونږ دیته اړ یو چې ځایي خلکو ته ولاړ شو.[۲۰۶]

په حقیقت کې، ښایي هر ډول هوکړه د دولت یا اداري ملاتړ د نشتون په صورت کې تر ډیره دوام ونکړي. لکه څرنګه چې یو منځګړي په خوست ولایت کې ومنله:

> د نورو قومي شوراګانو ترڅنګ، مونږ یوځل د شخړو د خواوو ترمنځ یوه پر شرطونو ولاړه هوکړه وکړه خو دا هوکړه پیاوړې نه وه او د یوې میاشتې په ترڅ کې باطله شوه او هیڅ لوري نوره هغه هوکړه نه منله. [...] د یادې شخړې په برخه کې د پیاوړې هوکړې د نه کیدو اصلي دلیل دا دی چې د دغې شخړې تر شا د ځینو بهرنیو لوبغاړو او حکومتي چارواکو لاس دی...[۲۰۷]

پر دولت او دولت دننه د لابیګانو او ډلو پر نفوذ د نیوکو سربېره، له دولت څخه یوه تمه هم کیږي (او یوازې د کوچیانو ترمنځ نه) هغه دا چې دولتي ادارې باید د کوچیانو لپاره څرځایونه پیدا کړي او وروسته بیا دغه څرځایونه مدیریت، وساتي او د کارونې مهالویشونه یې چمتو کړي.[۲۰۸]

---

۲۰۴ په خوست کې د کوچیانو د ریاست له یوه مامور سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸؛ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له بارکزي مخلصیار، د کندز ولایت د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۰۵ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۰۶ ډیویډ ستېنفیلډ، «له جګړې وروسته حالاتو کې د څړ ځایونو مدیریت: د افغانستان قضیه»، د ځمکو د حقونو په منلو، مدیریت او حکومتولۍ کې نوښتونه، د کلاوس ډینجیر له خوا تصحیح شوی، نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

۲۰۷ له ایم آی بي، په فراه ولایت کې له یوه قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷.

۲۰۸ له ملک حیدر ګل منګل، یو منځګړی، سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸؛ په خوست کې د کوچیانو د ریاست له یوه مامور سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸له آی بی سره مرکه، قومي مشر او کوچی، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له قومي مشر ان ان سره مرکه، نورزیو قبیله، فراه ولایت، میشت، جون ۲۰۱۷.

## ۳.۵.۴ ولې دولت باید بې پرې اوسي؟

لکه څرنګه چې ګڼ شمېر مرکه کوونکو د خپلو شخړو او اختلافونو په برخه کې د دولت لخوا د لاسوهنې لړې پایلې لیدلې دي نوځکه دوی د دولت د پلویتوب په اړه هیڅ نظر نه درلود. یوازې شل سلنه ځایي اوسیدونکو او پنځلس سلنه کوچیانو دا باور لرلو چې دولت د بل لوري پلوی کوي. که څه هم له هغو مرکو څخه چې ترسره شوي دا روښانه ده چې په دولتي دستګاه کې د دواړو خواوو هم د کوچیانو او لړ تر لړه د ځایي اوسیدونکو د ځینو ګټکوریوو لکه د هزاره ګانو په لور د پام وړ پلویتوب تر سترګو کیږي. یوه حکومتي چارواکي دا ومنله چې په ملي او سیمه ییزو پولیسو کې کوچیانو ته تر ډېره د شک په سترګه کتل کیږي، لکه څرنګه چې داسې انګېرل کیږي چې دوی له بلواګرو سره اړیکې لري. دا ادعاوې هم اغلباً اوریدل کیدلې چې ګواکې له کوچیانو سره په شخړه کې، د ایران اسلامي جمهوریت له هزاره ګانو ملاتړ کوي. داسې تصور کیږي چې هغه هزاره ګان چې په حکومتي موقفونو کې دي هم تل له خپلو هزاره توکمو ځایي اوسیدونکو پلوی کوي.[۲۰۹] دا روښانه ده چې هغه حکومتي چارواکي چې دا ډول تور پرې پورې کیږي، د دولت حیثیت او اعتبار ته یې کم خیر رسیږي. څرنګه چې یوه منځګړي داسې وویل:دا چې دولت ته د یو بې پرې (بې طرفه) مرجع په توګه نه کتل کیږي، دا پخپله د دولت پر مشروعیت یوه بله ضربه ده:

د شخړې ښکېلې خواوې هم د شخړې د هوارولو په برخه کې د حکومت رول رداوه دا ځکه چې دوی په دې باور ول چې حکومت د دې جوګه نه دی چې د دا ډول شخړو په حلولو کې مرسته وکړي خو په ځینو مواردو کې، حکومت هڅه کوي چې شخړه لا خرابه کړي. د شخړې خواوې، حکومت له فساده ډکه او غولونکې مرجع ګڼله، نو ځکه دوی نه غوښتل چې د حکومت له لوري کوم څوک د شخړې د حلولو په بهیر کې ناست وي.[۲۱۰]

د هغه څه سربېره چې په پورتنۍ برخه کې د دولت د پلویتوب په اړه ترې یادونه وشوه، لا اوس هم د شخړو په حل کې د دولت د ښکېلتیا لپاره تقاضا شته ځکه چې ښایي ځایي منځګړي هم بې پرې نه وي، لکه څرنګه چې د نیازیو یوه کوچي مشر په ډاګه کړه:

په عمومي ډول، فکر کوم چې حکومت د منځګړي په توګه ټاکل یو د ترجیح وړ خبره ده، که مونږ ګاونډیو قبیلو ته د منځګړیتوب فرصت ورکړو، بیا روښانه ده چې په دا ډول شخړو کې به د ښکېلو غاړو ترمنځ دوی بې پرې پاتې نه شي.[۲۱۱]

پنځم جدول: د پروژې مرکه کوونکو له ویناوو سره سم، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ په شخړو کې د ملاتړ او منځګړیتوب د سرچینو د ونډې ارزونه

| سلنه | ځایي اوسیدونکي | کوچیان | ټول |
|---|---|---|---|
| حکومت ته عارض | ۴۰ | ۴۰ | ۴۰ |
| له مثبتو پایلو سره | ۰ | ۰ | ۰ |
| سیاستوالو ته عارض | ۷۵ | ۷۰ | ۷۲،۵ |
| له مثبتو پایلو سره | ۳۰ | ۲۵ | ۲۷،۵ |
| بهرنیو لوبغاړو ته عارض | ۰ | ۰ | ۰ |
| له مثبتو پایلو سره | ۰ | ۰ | ۰ |
| د منځګړیتوب مطالبه | ۶۰ | ۸۰ | ۷۰ |
| له مثبتو پایلو سره | ۳۵ | ۲۰ | ۲۷،۵ |
| ښکېل کمیسیون یا هیات | ۲۵ | ۲۵ | ۲۵ |
| له مثبتو پایلو سره | ۱۰ | ۵ | ۷،۵ |
| حکومت د جانبداره مرجع په توګه لیدل شوی | ۲۰ | ۱۵ | ۱۷،۵ |
| n= | ۲۰ | ۲۰ | ۴۰ |

۲۰۹ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.له مولوي عبد الرحمن د فراه ولایت د علماؤو شورا غړي، منځګړی سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸. له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸

۲۱۰ له مولوي عبد الرحمن د فراه ولایت د علماؤو شورا غړي، منځګړی سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸. له ای ایچ ان، د نیازیو د کوچیۍ ټولنې له مشر سره په خوست ولایت کې مرکه، لکن سیمه، مې ۲۰۱۸.

۲۱۱

## ۲.۴ د دولت د مشروعیت لپاره د شخړې پایلې

دولتي چارواکي په دې اړه توافق کې چې حکومت باید د شخړې د سرچینو په له منځه وړلو او د شخړې په حلولو کې ډېر څه وکړي، خپلې شخصي ګټې پالي. [212] آن په ځینو قضیو کې، دوی د شخړو پای ته رسولو لپاره د وسله وال ځواک د استولو غوښتنه کړې. [213] د څېړنې له معلوماتو سره سم، د دولتي چارواکو د شخصي آندونو په پام کې نیولو پرته، د دولتي لید لوري له پلوه دا روښانه ده چې د شخړو د حل په منځګړیتوب کې پر غیر دولتي لوبغاړو د تکیه کولو زیان دا دی چې په شخړو کې ښکیلې خواوې ښايي په دې تړاو د دولت ونډه و نه مني. په بله وینا ، په داسې قضیو کې د مشروعیت د پیاوړتیا له پلوه د دولت لپاره کومې مثبتې پایلې نه تر سترګو کیږي.

د دولت په مشروعیت کې د دغه ناورین کچه تر هغه حده ده، د کوم په اړه چې په شخړو کې ښکیلو ځایي خلکو او کوچیانو اعتراف کړی چې له سیاستوالو او زورواکو یې په مستقیم ډول د مرستې غوښتنه کړې (په ترتیب سره ۷۰ او **۷۵** سلنه) چې په دې ډول یې مرکزي چارواکي له پامه غورځولي. د شخړو او اختلافونو په حل کې د دولت د پاتې راتلو له امله، مرکه کوونکو زیاتره له طالبانو د مرستې غوښتلو د شونتیا یادونه کړې. [214] دا ښايي یوه بې معنا خبره وي، خو لکه څرنګه چې په اړه یې په پورته ۴.۱ برخه کې خبرې وشوې، داسې بریښي چې په ځايي شخړې کې ښکېلو ټولنو هم کله نا کله له بلواګرو ډلو د مرستې غوښتنه کړې وي. د اندړو قبیلې یوه قومي مشر وویل:

دولت د دې وړ نه دی چې خپلې پریکړې پلي کړي او دا وړتیا نه لري چې زموږ د ټولنې د حقونو ملاتړ وکړي. محکمو درې ځلې زموږ په پلوې پریکړه کړې، نو ولې یې حکومت نه شي پلي کولی؟ دغه خلک ډېر زورور او پیاوړي دي او دولت یې پر وړاندې هیڅ هم نه شي کولای. اوس زموږ لپاره یوازې طالبان پاتې دي چې په دې اړه پریکړه وکړي، خو طالبان هم له موږ څخه پیسې غواړي. موږ بیخې لاره ورکه کړې چې کوم لوري ته ولاړ شو. اوس یوازې د داعش ډله راپاتې ده. [215]

د یادې پروژې پرمهال، په کراتو دا توروونه مطرح شول چې ګواکې کوچیانو او ځایي ټولنې په یوه شان د دولت ضد عناصرو د ملاتړ په لټه کې دي. په ځینو قضیو کې، په خپله مرکه کوونکو د دې ادعا کوله چې په تیر کې یې له بلواګرو د مرستې غوښتنه کړې، چې په شخړه کې منځګړیتوب او یا د دوی پلوی وکړي. په حقیقت کې، داسې ښکاري چې طالبان په دغه ډول شخړو کې د ښکیلتیا لپاره لیواله نه ول، ښايي په دې پوهیدل چې د دغې چارې په ترسره کولو سره به د ملګرو د شمېر په کچه دښمنان هم پیدا کړي او بله دا چې د دغو شخړو ریښو ته د رسیدګۍ لپاره اسانتیاوې نه لرل. د دولت او هغو ټولنو ترمنځ چې د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو ترمنځ له جګړو اغیزمنې شوي، د اړیکو په خرابولو کې د بلواګرو اصلي حد هر څومره چې وي، خو کوم زیان چې د دولت مشروعیت لپاره د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو شخړې ته په رسیده ګۍ د پاتې راتلو له امله رامنځ ته شوی، هغه څرګند دی. نږدې ټولو مرکه کوونکو د دا ډول شخړو په حلولو کې د چارواکو پر نه وړتیا سختې نیوکې کړې. له فراه ولایت څخه د ناصر قبیلې د یوه قومي مشر له خوا لاندینۍ تبصره یې یوه بیلګه ده:

له جګړې وړاندې حکومتونه، ریښتیني حکومتونه ول؛ خو اوسني حکومتونه، ریښتیني حکومتونه نه دي. [...] اوسني حکومتونه د شخړو او ستونزو په حل کې هیڅ ونډه نه شي لرلی. په پخوانیو حکومتونو کې که چیرې به کومه ستونزه یا شخړه رامنځته شوه، د وخت حکومتونه به دغه شخړه او ستونزه په ډیرې چټکۍ سره حل کولې. [212]

۲۱۲ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یوه آفسر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۱۳ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۱۴ له ایم آی بي، په فراه ولایت کې له یوه قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۷؛ د کوچیانو له یوه قومي مشر اس ای ان سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له قومي مشر ان ان سره مرکه، نورزیو قبیله، فراه ولایت، میشت، جون ۲۰۱۷؛ له آی بي له قومي مشر او کوچي سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له ام کی بی، کوچي سره مرکه، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷؛ له ای ایچ ان، د یوه کوچۍ ټولنې له مشر سره په خوست ولایت کې مرکه، لکن سیمه، مئ ۲۰۱۸؛ له یوه ازبک کوچي قومي مشر سره مرکه، ازبک بیګ قبیله، کالم ګذر سیمه، اپریل ۲۰۱۷؛ د کلي له یوه مشر سره مرکه، کل اکاخیل سیمه، امام صیب، اپریل ۲۰۱۷.

**۲۱۵** **۲۴** د اندړ قبیلې له یوه مشر سره مرکه، د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ، د ۲۰۱۷ میلادي کال د اپریل میاشت**۲۵** د ناصر قبیلې له یوه کوچي مشر سره مرکه، د فراه ولایت، د ۲۰۱۷ میلادي کال د جون میاشت

۲۱۶

# ۵. د کوچیانو او ځايي اوسیدونکو د شخړې حل

## ۱.۵ د شخړې په حل کې د دولت رول

### ۱.۱.۵ تاریخي شالید

کومه ونډه چې افغان دولت له ۱۹۷۸ میلادي کلونو وړاندې د کوچیتوب په اغیزمن والي کې لوبولې، تر یوه حده بحث پارونکې ده. په یقیني ډول، افغان دولت د څړځایونو د قانون په وضع کولو سره د اړوندو شخړو لپاره یو قانوني چوکاټ چمتو کړی چې پلې کول یې په ولایتي کچه د «اراضي د رئیسانو» او د ولسوالۍ په کچه د «اراضي د مدیرانو» له خوا څارل کیده او بیا به دوی به په خپل وار سره د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت ته راپور ورکاوه.[۲۱۷] د کوچیانو ریاست د یوه کارکوونکي د معلوماتو له مخې، په ولایتي کچه د « اراضي رئیسانو» او د ولسوالۍ په کچه د «اراضي مدیرانو» شتون درلود چې ټولو یې د هر چا اړوندو حقونو ته رسیدګۍ کوله او څړځایونه، ځنګلونه او کرنیزې ځمکې یې اداره کولې.[۲۱۸]

له ۱۹۷۸ میلادي کلونو وړاندې، د کوچیتوب په مدیریت کې د پخوانیو حکومتونو د فعالې ونډې په اړه لږې نښې تر سترګو کیږي. د کوچیانو او ځايي میشتو ترمنځ د شخړو او جګړو قضیې به پولیسو، ولسوالانو، والیانو او کله ناکله محکمو ته راجع کیدې، خو په اغیزمن ډول د جرمونو په مخنیوي کې له دولت څخه کمه تمه کیده. ډیری وخت، دولت هڅه کوله چې له ځايي شخړو ځان لیرې وساتي، خو تر هغې چې دغه شخړې په تاوتریخوالي نه وې اوښتي. ځايي اوسیدونکي، په تیره بیا، هزاره ګان وایي چې دوی داسې احساس کوي چې نن ورځ دولت زیاتره له کوچیانو سره مل دی، خو یوازې کله نا کله د ځايي اوسیدونکو شکایتونه جدي نیسي.[۲۱۹]

د دغې پروژې لپاره هیڅ یو کوچي یا ځايي میشتي مرکه کوونکي د دولت د ځانګړي مستقیمې لاسوهنې په اړه هیڅ نه دي په یاد او یا یې په اړه څه نه دي اوریدلي. که څه هم ځینو مرکه کوونکو د کوچیانو لپاره د مهالویشونو په ټاکلو کې د دولت ونډې ته اشاره کړې (په یوه داسې طریقه چې نویو سیمو ته یوازې د حاصلاتو تر ټولولو وروسته ننوځي)،[۲۲۰] نورو بیا دغه ادعاوې رد کړي او ټینګار کوي چې کله چې دغه مهالویشونو شتون درلود، هغه هم پخپله د کوچیانو له خوا جوړ شوي وو (**۵.۴** برخه هم وګورئ).[۲۲۱]

په عمل کې، د څړځایونو «ځايي مدیریت» چې له ۱۹۷۸ وړاندې ترسره کیده، د دولت له خوا له لیرې څخه پر برابریدونکي ملاتړ تکیه لرله او دا نه ده څرګنده چې آیا ټولې ټولنې په دغې چاره کې په مساوي ډول ښکیلې وې. د بېلګې په توګه، کابو ټولو مرکه شویو هزاره توکمو ځايي اوسیدونکو رد کړې چې ګواکې له دوي سره دې د مهالویشونو او د تګ راتګ د مسیرونو په اړه کله هم سلا مشوره ترسره شوې وي. له بل پلوه، که چیرې دولتي ملاتړ لپاره تل اړتیا وه، د افغان دولت قوانین زیاتره وخت د دواړو ځايي چارواکو او ټولنو له خوا آن له جګړې وړاندې له پامه غورځول شوي دي. نه یوازې دا چې عرفي قواعد له داخلي قوانینو سره په ټکر وو، بلکې د ځايي چارواکو له خوا د هغو تړونونو او امتیازونو ثبتول یوه غیرمعموله چاره نه وه، کوم چې په څرګند ډول له داخلي قوانینو سره په ټکر کې ول.[۲۲۲]

۲۱۷ د کوچیانو د چارو د سمون د لوي ریاست له سلاکار سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۱۸ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست سلاکار سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۱۹ له ناور څخه له یوه مهم هزاره توکمه شخص سره مرکه، ۸ مئ ۲۰۱۸؛ د بامیانو ولایتو له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه؛ مئ ۲۰۱۸؛ له دایکندي ولایت څخه له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۲۲۰ د الله دین خیلو ټولنې له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، میدان وردګ ولایت، مئ ۲۰۱۸؛ د نورزیو قبیلې د ان ان له قومي مشر سره مرکه، فراه ولایت، ځايي میشتی، جون ۲۰۱۸؛ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست ریيس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۲۱ له ای جی، د میدان وردګو ولایت د حسن خیلو کوچي قومي مشر، مئ ۲۰۱۸؛ له هزاره جاتو څخه د قومي مشرانو له یوې ډلې سره مرکه (دای میرداد، بهسود ۲)، کابل، مئ ۲۰۱۸؛ د هزاره توکمو له یوه قومي مشر حاجي ایچ ای سره مرکه، د بامیانو ولایت ورس ولسوالۍ، مئ ۲۰۱۸؛ له قومي مشر حاجي آر ای، پنچاو ولسوالي، بامیانو ولایت، مئ ۲۰۱۸؛ له جي ایچ، له دایکندي ولایت څخه هزاره توکمه قومي مشر، جون ۲۰۱۸.

۲۲۲ لیز الدن ویلی، «د څړځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳.

### ۲.۱.۵ اوسنۍ وضعیت

له ۱۹۷۸ میلادي کال وړاندې او تر ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته چاپیریالونو ترمنځ کلیدي توپیر دا دی چې په وروستي کې یې، آن د دولت لیرې شتون او قهریه ځواک په اساسي ډول په ګڼ شمیر لیرې پرتو سیمو کې نه تر سترګو کیده، چې له امله یې داسې یو وضعیت رامنځته کړی چې په کې ترډیره پټې شخړې ښایي له خنډ پرته راپورته شي. دا د پام وړ خبره ده چې څنګه یادې شخړې د ډیرو کلونو لپاره ناحل شوې پاتې دي، او دواړه خواوې دا استدلال کوي چې د عینې ځمکې د کارونې حق لري، هغه هم په ځانګړې طریقه. [۲۲۳]

د دولت اوسنۍ اداره چې د کوچیانو اړوندو مسایلو مدیریت ته ځانګړې شوې، له جګړې وړاندې ادارې په پرتله توپیر لري. څکه چې اوسنۍ اداره د «کوچیانو د چارو د سمون لوی ریاست» په نوم په ۲۰۰۷ میلادي کال کې رامنځته شوه چې د نورو چارو ترڅنګ، ورته د هرې را ولاړیدونکې شخړې یا اختلاف د ارزونې او والیانو او نورو دولتي ادارو او وزارتونو ته د اړوندو قضیو د راجع کولو، دنده وسپارل شوه.

د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست په خپله امکانات نه لري نوځکه له دې پرته چې له کوچیانو او ځایي اوسیدونکو سره وګوري او له دوی سره خبرې وکړي، نور ډیر څه نشي کولای. [۲۲۴] د ۲۰۱۸ میلادي کال تر لومړیو پورې، د کوچیانو ریاست په ټول هیواد کې ټولټال ۳۷۳ کارکوونکي لرل. یاد ریاست د خپلو ولایتي دفترونو او ۳۰۰۰ سرخېلو له لارې چې د کوچیانو ترمنځ ګمارل شوي، له کوچیانو سره اړیکې پالي. سرخېلان، هغه مشران دي چې هر یو یې باید په کوچیانو پورې اړوند ۲۰۰ پیژند پاڼې ولري، بیا کولای شي هر کال د سرخېلو په ټاکنو کې برخه واخلي. [۲۲۵] د کوچیانو په ریاست کې د یوې سرچینې له خوا د سرخیلو دنده په لاندې ډول تشریح شوې:

> مونږ د هرې ډلې یا قبیلې لپاره یو سرخیل [د کوچیانو مشر] لرو. سرخیل د اړوندې ډلې استازی دی او دخپل ډلې د رهبرۍ مسوولیت لري. د کډوالۍ له پلوه، دغه سرخیل د کوچیانو د ټولنې له خوا غوره کیږي او لږ تر لږه د خپلې قبیلې د ۲۰۰ کورنیو د اړوندو پیژندپاڼو د کاپیانو او د دوی د ګوتو د نښو تر راوړلو وروسته، د هغه نوم د اړوندې ډلې یا قبیلې د سرخیل په توګه ثبتوو او ورته یو پیژند کارت او ټاپه ورکوو. سرخېل بیا د حکومت او کوچیانو ترمنځ ارتباطي کس وي او د اړوندې ډلې یا قبیلې د کډوالۍ او نورو چارو مسوول ګڼل کیږي. د اړتیا په صورت کې، مونږ د هرې موضوع لپاره له هغه سره اړیکه نیسو او یا هغه له مونږ سره یا زمونږ له ولایتي ریاستونو سره اړیکه نیسي. نو له دې ځرګندیږي چې له یو ځای څخه بل ځای ته د کوچیانو د کوچیدنې لپاره ځرګند طرز العملونه او مهالویشونه شتون لري. [۲۲۶]

د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست ترڅنګ، د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت هم په دغه چاره کې ښکیل دی. یاد وزارت د څرځایونو مسوولیت او د کوچیانو لپاره یو ځانګړی ریاست لري. [۲۲۷] د کرنې په وزارت کې، دولتي چارواکي د ۱۹۷۱ میلادي کال د څر ځایونو قانون د خپلو فعالیتونو لپاره اساس ګڼي. [۲۲۸]

تر ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته، له یو پلوه، مرکزي حکومت داسې یو قانون جوړ کړ چې د کاغذ پر مخ د کوچیانو په ګټه و او هغه یې د دوی د سیاسي ملاتړ د خوندي کولو لپاره کاروه. له بل پلوه، مرکزي حکومت د دې اجازه ورکړه چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو حقونه تر پښو لاندې شي او څرځایونه ضبط شي. داسې نه ښکاري چې دغه همغږې طرح دې ناڅاپي پېښه شوې وي. [۲۲۹] له ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې، افغان حکومت پخپله کله ناکله د شخصي، ټولنې اړوند او عامه څرځایونو ترمنځ د توپیر کولو له نظریې سره لوبې کړې دي. ځایي اوسیدونکي او ځینې بهرني څارونکي د ۲۰۱۰ میلادي کال شاوخوا داسې احساس کاوه چې د کوچیانو لابي لا اوس هم پالیسي جوړونکي تر خپل نفوذ لاندې راولي او هڅه کوي چې د څرځایونو نوی قانون تر ډیره د کوچیانو ګټې منعکس کړي. [۲۳۰] په یقین سره، د ځمکو نوی قانون د تسوید په پړاو کې بند پاتې دی او ښلابېلې لابۍ ګانې د دغو قانون پر ځانګړو اړخونو نیوکې کوي. [۲۳۱]

---

۲۲۳ د لوګر ولایت د ازرې د اب بازک کلي د عبد الرحیمزیو په ټولنه کې له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، ، اوبازک کلی، ۲۰ ډسمبر ۲۰۱۲.

۲۲۴ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۲۵ په کابل کې له زمرد خان منګل، د کوچیانو د ریاست د جرګو، اقتصادي او اباتي ریاست رییس سره مرکه، مارچ ۲۰۱۸؛ د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست له مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۲۶ له ډاکټر عصمت الله خوشحال، د کوچیانو د چارو د سمون د لوی ریاست مشاور سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۲۷ له انجنیر مرکخیل، د اوبو د چارو کارپوه، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۲۸ د څر ځایونو د ریاست له یوه کارمند سره مرکه، کابل، سپتمبر ۲۰۱۷.

۲۲۹ لیز الدن ویلی، «د څر ځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳.

۲۳۰ لیز الدن ویلی، «د څر ځایونو پر سر جګړه: په افغانستان کې پټه جګړه» Revue des Mondes musulmans et de la M,diterran,e: مخ ۱۳۳، جون ۲۰۱۳.

۲۳۱ له ښاغلي فیضان، د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، کابل مئ ۲۰۱۸.

پخوانی حقوقي او عرفي چوکاټ چې له جګړې وړاندې وضع شوی و، د له منځه تلو په حال کې دی او تر ډېره د دې احتمال نشته چې بیا ورغول شي، پرته له یوې بلې کورنۍ جګړې چې سیاسي او پوځي چاپېریال ته یوه نوې بڼه ورکړي. لکه څرنګه چې یې په اړه لاندې یادونه شوې، دغه چوکاټ باید بدل شي. بله مناظره د څړځایونو د دولتي مدیریت او ټولنې د مدیریت د ملاتړ ترمنځ ده.[۲۳۲]

په زیاترو لیرو پرتو او دیته ورته سیمو کې د پولیسو نشتون د داسې نسبتاً کوچنیو پېښو لامل کېږي چې سمدلاسه په تاوتریخوالي اوړي. په یوه قضیه کې چې د یوه مرکه کوونکي له خوا یې په دیرای (خوست) کې خبر ورکړل شوی، په **۲۰۰۳** کال ځینو کوچیانو د ځمکې د هغه ځایی خاوند زوی وواژه کوم چې دوی ته د هغه پر ځمکه د غنمو د کرلو په اړه شکایت کاوه. کوچیانو د دغې ځمکې د مالکیت ادعا کوله چې ګواکې دوی په تیر مهال کې اخیستې وه. له دې پېښې وروسته، ځایي اوسیدونکو د کوچیانو پر میشت ځای برید وکړ چې د برید په پایله کې یې اووه کوچیان ووژل. دغه خونړۍ شخړه چې په دې ډول پیل شوه، لا اوس هم روانه ده او د پای ته رسولو لپاره د دواړو ټولنو د مشرانو د ټولو هڅو پر وړاندې مقاومت کوي، آن تر دې بریده چې مشرانو پر دې موافقه وکړه چې کوچیان به نوموړې غصب شوې ځمکې پرېږدي.[۲۳۳] شخړه هغه مهال لا پسې پراخه شوه کله چې ځایي اوسیدونکو نه یوازې پر نیازي قبیلې چې په ربښتیا سره په شخړه کې ښکیل وو، بلکې له یو سره پر ټولو کوچیانو بریدونه پیل کړل.[۲۳۴]

د حکومت د نشتون یو بله بېلګه دا ده چې آن که کله هم د کوچیانو لپاره د میشتېدنې سیمو په ځانګړي کولو کې لاسوهنه وکړي نو پلي کولای نشي لکه څرنګه چې د ده سبز په باریکاب سیمه کې د خپلې پرېکړې په پلي کولو کې واقعاً پاتې راغلی دی.[۲۳۵]

له **۲۰۰۱** میلادي کال وروسته، د شخړې/اختلاف په حل کې د دولت د لاسوهنې یو کړندود داسې دی چې له مرکز څخه ځایي سیمو ته پلاوي او کمیسیونونه استوي چې په معمول ډول په شخړه کې د ښکېلو ښکیلو ټولنو له سیاسي استازو (یا داسې انګېرل کېږي) څخه جوړ وي. زمونږ کوچي او ځایي میشت مرکه کوونکي په بشپړه توګه دا ومنله چې د مرکزي حکومت له خوا د موضوع د څېړلو لپاره ځو ځلې کمیسیونونو استول شوي دي (د مرکه کوونکو د دواړو ډلو له خوا **۲۵** سلنه مثبت ځوابونه ورکړل شوي). که څه هم د کمیسیونونو د کار د ارزونې په اړه د مرکه کوونکو په ځوابونو کې لږ توپیر شتون درلود چې له دې ډلې **۴۰** سلنه ځایي اوسیدونکي او **۲۰** سلنه کوچیان (کومو چې د کمیسیونونو د مداخلې په اړه پوښتنې ته د هو ځواب ورکړی) وایي چې د لاسوهنې مثبتې پایلې یې لیدلي دي. په پایله کې، د دغو کمیسیونونو او پلاوو عمومي اغیز تقریباً په هیڅ حساب و. یوه قهریدلي هزاره توکمه قومي مشر په دې اړه داسې تبصره وکړه:

> دولت یو په بل پسې پلاوي استوي، خو پرېکړې او هوکړې یې نه پلي کېږي.[۲۳۶]

---

**۲۳۲** ډیوېډ ستېنفیلډ، «تر جګړې په را وروسته حالاتو کې د څړ ځایونو مدیریت: د افغانستان قضیه»، د ځمکو د حقونو په منلو، مدیرت او حکومتولۍ کې نوښتونه، د کلاوس ډینجیر له خوا تصحیح شوی، نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

**۲۳۳** د کلي له یوه مشر سره مرکه، پیرۍ قبیله، د ډیرۍ شمال سیمه، خوست ولایت، ۱۰ اپریل **۲۰۱۷**؛ د کلي له یوه مشر سره مرکه، مرکخیلو قبیله، د ډیرۍ شمال سیمه، خوست ولایت، ۷ اپریل **۲۰۱۷**؛ د تیرون قبیلې له یوه مشر سره مرکه، د ډیرۍ شمال سیمه، خوست ولایت، ۲ اپریل **۲۰۱۷**.

**۲۳۴** د دولتزیو قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، د خوست ولایت د ډیرۍ سیمه، ۹ اپریل **۲۰۱۷**؛ د نیازیو قبیلې له کوچي قومي مشر سره مرکه، د خوست ولایت د ډیرۍ سیمه، ۸ اپریل **۲۰۱۷**.

**۲۳۵** د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې، د تره خیلو قبیلې له کوچي مشر سره مرکه، **۱۳** جنوري، **۲۰۱۷**.

**۲۳۶** د هزاره- کوچیانو د شخړو د حل د ځایي شورا له یوه هزاره توکمه غړي سره مرکه، مئ **۲۰۱۸**.

### ۳.۱.۵ د شخړې د حل محدودیتونه

د قومي او دیني منځګړو له خوا د شخړې نادولتي حل لارې یوازې هغه مهال اغیزمنې واقع کیدای شي چې د شخړې ټولې خواوې د شخړې د حل لپاره ربښتینې اراده ولري، له فراه ولایت څخه یوه قومي مشر داسې وایي:

> چې ربښتیا ووایم، که چیرې ښکیلې خواوې په ربښتیا سره غواړي چې شخړې هوارې کړي، نو بیا د حل لارو پیدا کول ساده او اسانه چاره ده، خو که چیرې دوی نه غواړي مرسته او همکاري وکړي، نو بیا د دغه چارې ترسره کول او پایلې ته رسیدل ستونزمن کار دی. په کوه دانک او نورو کلیو کې ستونزې تر ډیره د ښکیلو ټولنو په مرسته حل شوي، ځکه چې دوی له یو بل سره په شخړو کې له ښکیلتوب څخه خوښ نه ول. دوی نه غوښتل چې یو بل ووژني او د دغو ځمکو پر سر دښمنې دوام وکړي. زما په آند، دوی ډیر هوښیار خلک ول چې د شخړو د حل لپاره چمتو شول.[۲۳۷]

کله چې د کوچیانو او بزګرو ترمنځ د اصولو او پولو په مراعاتولو کې د پاتې راتلو له امله له ځایي اختلافونو څخه شخړه راپورته کیږي، ځایي حل لارې رامنځته او ستونزې حل کیدای شي. په حقیقت کې، مرکه کوونکو ګڼ شمیر داسې موارد په ډاګه کړي چې پر مټ یې ښکېلې خواوې کولای شي د نورو ټولنو د منځګړیتوب له لارې هوکړې وکړي او شخړې پای ته ورسوي.

د بارکزیو یو قومي مشر چې پورته یې خبرې رانقل شوي، دغه راز ویلي که چیرې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه د ډموګرافیکې ودې یا د چاپیریال د ویجاړیدو له امله وي، د دغه ډول شخړو لپاره د ځایي حل لارو پیدا کول به خورا ستونزمن وي. کله چې شخړه د مخ پر کمیدونکو زیرمو پر سر وي چې باید د زیاتیدونکی نفوس ترمنځ وویشل شي، د کوم مخنیوی چې ښایي ستونزمن وي، آن که چیرې ټولنو ته د دې واک هم ورکړل شوای وي ترڅو په خپلو منځونو کې پر دې پریکړه وکړي چې له دغو څرځایونو څخه څرنګه ګټه پورته کړي.[۲۳۸] آن تر دې ناوړه، منځګړې او چارواکي تور پورې کوي چې په شخړه کې د بهرنیو لورو ښکیلتیا، لکه جنګ سالاران او نور زورواکي کوم چې له شخړې څخه ګټه پورته کوي، د دې لامل کیږي چې د شخړې حل تقریباً ناشوني وګرځوي.[۲۳۹] یوه دولتي چارواکي وویل:

مونږ ته د حل شویو او نا حل شویو شخړو ترمنځ توپیر څرګند دی: په هغو شخړو کې چې جنګ سالاران او دولتي چارواکي ښکیل دي، هغه نا حل پاتې دي؛ خو هغه شخړې په کومو کې چې دغه جنګ سالاران او دولتي چارواکي ښکیل نه دي، د دریمې لوري (لکه بلې قبیلې) له خوا په سوله ییز ډول حل شوي.[۲۴۰]



۲۳۷ په فراه ولایت کې د بارکزیو ټولنې له یوه مشر (ملک) سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸.

۲۳۸ په فراه ولایت کې د بارکزیو ټولنې له یوه مشر (ملک) سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸.

۲۳۹ له ملک حیدر ګل منګل، یو منځګړی، سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸؛ په خوست کې د کوچیانو د ریاست له یوه آفسر سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۴۰ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

# ۲. د حل لارو لټه

## ۱.۲ د ځمکو پولو په نښه کوونه

په پرمختللو هېوادونو کې له کرنیزو ځمکو معمولاً کتاره وهل کیږي چې له اجازې پرته ورتګ ځخه وژغورل شي. ګڼ شمېر مرکه کوونکو منلې که چیرې دغه چاره په افغانستان کې هم ترسره شي څرګندې (ځانګړي) شخړې (لکه له اجازې پرته ورتګ) به تر ډیره حل شي، خو دا یې هم په ډاګه کړه چې د دغې چارې ترسره کول به خورا ګران تمام شي.[۲۴۱] یوه چارواکي دا ومنله چې له کرنیزو ځمکو کتاره راچارپېرول به د شخړو د تکرار په مخنیوي کې مرسته وکړي او ځمکو لپاره د کتارو راچاپیرولو په برخه کې د دولتي ادارو لکه د کرنې وزارت ونډه اړینه ګڼي، خو د لوړ لګښت ستونزه پر خپل ځای پاته کیږي.[۲۴۲]

په ځینو سیمو کې د کرنیزو ځمکو پولې په نښه شوي خو خوندیتوب نلري؛ په عمومي ډول په بامیانو ولایت کې د **۱۵** سلنې کرنیزو ځمکو پولې په نښه شوي خو په سم ډول، کتاره تریې نه ده راچارپیر شوې. په طبیعي ډول، هغې ځمکې چې پولې یې په نښه شوي یا لویو لارو ته څیرمه پرتې دي یا هم د شتمنو بزګرو ملکیت دی. د ملکیتونو د پولو په اوږدو کې کیندل شوي کانالونه هم د ځمکو د پولو په نښه کولو کې مرسته کړې.[۲۴۳]

د پولو په نښه کوونې بل بدیل چې ښایي په ځانګړو حالاتو کې ګټور تمام شي، کوچیانو ته د لاریو په واسطه د خپلو څارویو د لیږد اجازه ورکول دي. په دې سره به دوی د کوچیدنې په اوږدو کې کرنیزو فصلونو ته له نږدې کیدو منع کړای شي. د لاریو په واسطه د څارویو لیږد د کوچیانو ترمنځ کومه نوې خبره نه ده، خو ټول کوچیان به د دغې چارې د ترسره کولو لپاره د لاریو کرایه نیولو توان ونلري.[۲۴۴]

## ۲.۲ ګزمه کول

ځینو مرکه کوونکو د دې وړاندیز کړی چې د کتارو راچارپیرولو بدیل ګزمه کول دي، که دغه چاره د یو داسې ځواک له خوا ترسره شي چې کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ته د درناوی وړ وي. له **۱۹۷۸** میلادي کال وړاندې، په هزاره جاتو کې شتمنو ځایي میشتو کورنیو به له ځینو کوچي ټولنو څخه ساتونکي په دې موخه ګمارل چې د دوی کرنیزو ځمکو ته د کوچیانو د ننوتو مخه ونیسي. کوچي ساتونکي ټولې هغه قبیلې پیژني چې ځانګړي مسیرونه کاروي او په ډیرې اسانۍ سره به په دې وتوانیږي چې هره سرغړونه یوې ځانګړې قبیلې یا فرعی قبیلې ته منسوب کړي.[۲۴۵] په ښکاره ډول، په اوسنیو شرایطو کې دغه انتخاب د عملي کیدو وړ نه دی، ځکه چې دولتي چارواکي په داسې وضعیت کې نه دي چې پر دغو سیمو ګزمې وکړي او ټولنې هم تر دې بریده یو پر بل بې باوره دي چې حتی ځاني څارنه هم د تطبیق وړ نه بریښي.

## ۳.۲ آیا میشتېدنه اغیزمنه واقع کیدای شي؟

پالیسي جوړونکي د کوچیانو میشتدنې ته د هغې کړندود په توګه ګوري چې د هغې پر مټ به کوچیان په لا بشپړ ډول په افغان ټولنه کې مدغم کړي، د دوی لپاره به عامه خدمات چمتو او په دې ډول به د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ شخړه له منځه یوسي. لکه څرنګه چې په اړه یې په ۳.۲.۴ پورتنۍ برخه کې بحث وشو، میشتېدنه تر دې مهاله د شخړې د حل پر ځای، د یادې ستونزې یو بل لامل ګرځیدلی دی.

---

۲۴۱ له بارکزي مخلصیار، د کندز ولایت د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸؛ له زمرد خان منګل، د کوچیانو د ریاست د جرګو، اقتصادي او اباتي ریاست رییس سره مرکه، مارچ ۲۰۱۸؛ له دایکندي ولایت څخه له یوه قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ د غزني ولایت له مالستان ولسوالۍ له مشر، ایچ ام سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ د غزني ولایت د ناور ولسوالۍ له یو مشر، ایچ آر سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یوه افسر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۴۲ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۴۳ له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، ورس ولسوالي، بامیانو ولایت، جون ۲۰۱۸؛ له جي ایچ، د دایکندي ولایت د اشترلۍ ولسوالۍ څخه یو قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۲۴۴ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه سیمې د کارواني کلی، دایمیرداد ولسوالۍ فبروي، ۲۰۱۷؛

۲۴۵ له یوه هزاره توکمه قومي مشر سره مرکه، ورس ولسوالي، بامیانو ولایت، جون ۲۰۱۸؛ له قومي مشر حاجي آر ای، پنچاو ولسوالي، بامیانو ولایت، جون ۲۰۱۸؛ له جی ایچ، د دایکندي ولایت د اشترلۍ ولسوالۍ له یوه قومي مشر سره مرکه، جون ۲۰۱۸؛ د میدان وردګو ولایت د بهسودو ولسوالۍ د هزاره ګانو له یو ډلې قومي مشرانو سره مرکه، مئ ۲۰۱۸.

## ۱.۳.۲ د میشتېدنې اقتصادي ګټه

د کوچیانو د میشت کولو اندونه په افغانستان کې کومه نوې ښکارنده (پدیده) نه ده. د عبد الرحمن خان او د هغه د ځای ناستي دوهم (ثاني) حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال، په هغو سیمو کې د کوچیانو میشتېدنه چیرې چې دولتي کنټرول کمزوری و، د نورو موخو ترڅنګ د مرکزي حکومت د ځواک غځولو یوه سیاسي وسیله وه، نو خامخا د اختلاف د رامنځته کیدو لامل هم کیده. په دغې موده کې، حکومت زیاتره د کوچیانو او نیمه کوچیانو ټولنو ته د متخاصمو نفوسو په منځ کې ځمکې ورکړې ترڅو کوچیان د مرکزي حکومت ملاتړي شي. تر ډیره کچه، دغه میشت اوسیدونکي، نیمه کوچیان پاتې شول. [242]

د نادر شاه او ظاهر شاه د ,واکمنیو پر مهال، د کرنیزو حاصلاتو د کچې د لوړتیا لپاره د دښتو د خړوبولو او د میشت وړ کولو یوه نوې پالیسي رامنځته شوه. زیاتره هغه کسان چې د دغو پلانونو د پلي کیدو پرمهال میشت شول کوچیان ول. لکه هغه پلان چې په ۱۹۴۲ او ۱۹۷۹ میلادي کلونو کې په هلمند دره کې پلې شو. دغه پلانونه د انجنیرۍ، خاورې او د نومرو د کوچنیوالي په ګډون د بېلابېلو ستونزو له امله یوازې څه نا څه بریالي ول. [247]

هغه مهال، کوچیان هم له هغو کرنیزو اصلاحاتو څخه برخمن شول کوم چې له ۱۹۷۸ میلادي کال راهیسې د چپي رژیم له خوا چې د یوې کودتا په پایله کې ځواک ته رسیدلی و، پلي شول. ځینو کوچیانو د دغو اصلاحاتو پرمهال ځمکې ترلاسه کړې، خو بیا هم دغه اصلاحات تر ډیره ناکام او په پراخه کچه له ننګونو سره مخ ول. [248]

په افغانستان کې د عمومي عصري کونې د بهیر یوه پایله د پالیسي جوړونکو دا لیوالتیا وه چې کوچیتوب ته له عصریتوب وړاندې ښکارندې (پدیدې) په توګه وګوري کوم چې باید ،په طبیعي ډول، د ټولنیز سازمان او د کار ویش د عصري نظریو له مخې د کوچاني ژوند د طریقو د بدلون له لارې له منځه یوړل شي یا هم ورڅخه تیر شي. د میشتېدنې له لارې، داسې زیربناوې رامنځته کیدای شي چې د نورو چارو ترڅنګ د ښارویو د روزنې کړندود، د څړځایونو ګټنه او د حیواني محصولاتو بازار موندنه لا ښه او غوره کړي. [249]

که څه هم، میشتېدنه د دولت له لاسوهنې پرته په خپلواک ډول له ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې په تیره بیا په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې ترسره شوې. د ساموېل هال ادارې له خوا د کابل ولایت د کوچیانو سروې موندلې چې له ۱۹۷۱ او ۱۹۸۰ میلادي کلونو راهیسې یوازې ۰،۷ سلنه او له ۱۹۸۱-۱۹۹۰ میلادي کلونو راهیسې یوازې ۲،۱ سلنه کوچیان میشت شوي. په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې د کوچیانو په میشتېدنه کې د ګړندیتوب (تسریع) شاهد وو: ۱۱،۴ سلنه کوچیان د نوموړې لسیزې په ترڅ کې میشت شوي. [250] دغه بیلګه په یقیني ډول د میشتېدنې ملي اوسط نه ښیي، خو له ۲۰۰۱ میلادي کال مخکې، د میشتېدنې په اړه کوم ارقام نشته. له ۱۹۷۸ میلادي کال مخکې شخړې ښایي د یو لامل په توګه ډیری ګڼ شمېر کوچیان د کوچیدنې پرېښودو او لږ تر لږه په پاکستان کې د کډوالو په پنډغالو کې په لنډمهاله ډول میشتیدنې ته اړ کړي وي. د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ میلادي کلونو په وروستیو کې، د هیواد ځینې برخې وار د مخه د کوچیانو پر مخ بندې وې چې له امله یې ګڼ شمېر کوچیان میشتېدنې ته اړ شوي.

میشت شوي کوچیان باید د معیشت چمتو کولو لپاره نوې لارې چارې پیدا کړي. په ښاري سیمو کې میشت شوي کوچیان په معمول ډول د خپل ژوندانه لګښت د هټیو پرانیستلو، ټرانسپورتي خدمتونو یا بل ډول کاروبار یا د معاش لرونکو دندو له لارې برابروي. په کلیوالي سیمو کې، د میشت شویو کوچیانو اصلي بوختیا، کرنیز یا کوچني سوداګریز تشبثات دي. سره له دې، د ګڼ شمیر کورنیو غړي په ښارونو یا خلیجي هیوادونو کې کار کوي. [251] په ځینو قضیو کې، میشت شوي کوچیان د دې جوګه وو چې په بریالي ډول کرنیز فعالیتونه پیل کړي، لکه په وزیر کاریز سیمه کې د میوه لرونکو نیالګیو کېنول.[252] په نورو قضیو کې، کوچیانو له هغو تخنیکي مهارتونو کار اخیستی چې په دې وروستیو کې یې زده کړي او یا هم نوي کاري فرصتونه پیدا کړي کوم چې د کلونو شخړې له امله د بېځایه کیدنې په پایله کې رامنځ ته شوي.

۲۴۲ لیز الدین ویلي، «د ځمکې حقونه په ناورین کې» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد، ۲۰۰۳)، مخ ۴۰

۲۴۷ ویلي، «د ځمکې حقونه»، ۴۱ مخ.

۲۴۸ ویلي، «د ځمکې حقونه»، ۴۷-۴۸ مخونه.

۲۴۹ هیرمن او ستیفن سچوتی، «له سیالیو ډک مشترکات- د افغانستان په شمال ختیځ کې د شپنو ګڼ شمیر نا امنۍ» ایردکوندی ټوک ۲۵، شمیره ۲:۹۹۰۱۱۹ (۲۰۱۱)، مخ ۱۰۴.

۲۵۰ «د کابل د نوي ښار په سیمه کې د کوچیانو څیړنه» (کابل: سمویل هال، ۲۰۱۲) ۱.۳ جدول.

۲۵۱ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۲۵۲ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛له میشت شوي کوچي سره مرکه، د وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۴ مئ ۲۰۱۹.

داسې انګېرل کیږي چې میشتېدنه اغلباً د کوچیانو لپاره له ستونزو ډکې پایلې لري، لکه څرنګه چې د دوی داسې مهارتونو زده نه دي کوم چې کیدای شي په کرنیزو فعالیتونو یا په نورو نویو برخو کې په ښه ډول وکارول شي.[۲۵۳] خو د دغې پروژې لپاره د قضیې په څیړنې کې، له ځینې استثناتو (تر ډیره له څلورو میشت ځایونو څخه تر ټولو بې وزله یې تر پوښښ لاندې نیولې، کوچي آباد)[۲۵۴] سره، زیاتره میشت شوي کوچیان له ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې له ستونزو ډک کوچاني ژوند په پرتله له خپل میشت شوي ژوند څخه خوښ ول. آیا دا خوښي ځکه ده چې دوی خپل نوي ژوند خوښوي یا که له دې امله ده چې هغه امکانات یا اسانتیاوې نه لري ترڅو خپل پخوانی کوچاني ژوند وساتي؟ خورا لږ شمېر میشت شوي کوچیان خپل پخواني ژوند د بیا پیلولو په اړه فکر کوي.[۲۵۵]

د مرکه کوونکو د معلوماتو له مخې، د میشت ځایونو د اقتصادي ګټو له پلوه، ، په عمومي ډول په دغې سروې کې شامل څلور میشت ځایونه په ښه ډول مخ ته ځي، د کوچي آباد له یو څه استثنایي حالت سره. همدارنګه، له بهر څخه مرستې او د کورنۍ د هغو غړو د مالي ملاتړ له امله چې په ښارونو کې کار کوي، ټول څلور میشت ځایونه، له اقتصادي پلوه با ثباته ښکاري، که څه هم د دوی ترمنځ د پام وړ توپیرونه موجود ول. هغه میشت شوي کوچیان چې پر دې توانیدلي ول چې ګټور کرنیز فعالیتونه (میوه لرونکې ونې) پیل کړي، تر نورو کوچیانو په ښه وضعیت کې ول. د دولت له خوا یو ډول تایید درلودل په دغه ډول حالاتو کې مرسته کوي، څرنګه چې میوه لرونکې ونې پایښدونکې پانګونه ده، کوم چې پر اوږد مهاله راتلونکې باندې باور درلودلو ته اړتیا لري. د حاجي جنت ګل د ښارګوټي په څیر ستر میشت ځایونه د پایښت لپاره د معاش لرونکي دندو پر شتون تر ډیره تکیه لرله. د سروې شویو میشت ځایونو د پراختیا او وسعت له امله، نه خو نیمه کوچیتوب او نه هم د مالدارۍ نورو شکلونو د میشتیدنې د اقتصادي پایښت په تامینولو کې د پام وړ رول لوبولی، خو دا وضعیت ښایي په کوچنیو میشت ځایونو کې توپیر ولري.

د یادونې وړ ده چې میشت شویو کوچیانو خپل خپلوان له دوی سره یو ځای کیدو ته وربللي چې ګڼ شمېر یې دغه بلنه منلې؛ ځکه چې میشتېدنه هغه مهال اسانه کیږي کله چې د میشتو کوچیانو شمېر د پام وړ کچې ته ورسیږي.[۲۵۶]

دا ډیره په زړه پورې خبره ده، کله چې په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې بیا کوچیتوب (کوچیتوب ته بیرته ستنیدنه) غیرمعمولې چاره نه وه، خو تر ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته، بیاکوچیتوب ډیر لږ لیدل کیږي. د هغو کوچیانو ترمنځ چې د جګړې له امله پاکستان ته کډوالۍ ته اړ شوي ول، لا اوس هم دا هیله لرله چې دوی به پر دې وتوانیږي چې بیرته کوچاني ژوند پیل کړي. په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې ګڼ شمېر میشت شویو کوچیانو رمې رانیولې ترڅو بیاکوچیتوب ته مخه وکړي.[۲۵۷] دا وضعیت اوس بدل شوی، ځکه په ندرت سره کوم کوچي مرکه کوونکي داسې احساس کاوه چې کوچاني ژوند ته ستنیدنه شونې یا د دوی د خوښې وړ چاره ده.[۲۵۸] یوه میشت شوي کوچي داسې وویل:

> کله چې یو کوچی میشت شي او د میشت ژوند له ګټو برخمن شي، هغه به هیڅکله هم بیرته کوچاني ژوند ته ستون نه شي، ځکه موږ ټول پوهیږو چې د کوچیتوب ژوند له کړاوونو، ستونزو او ننګونو ډک دی.[۲۵۹]

---

۲۵۳ Herv, Nicolle, 'Qu'elle ,tait verte ma vall,e L'avenir sans terre des populations Kuchi dans le district de Deh Sabz', REMMM۱۳۳, p. ۲۳۵-۲.

۲۵۴ کوچي عباس په ۱۹۹۰ کلونو کې په تدریجي ډول کابل ته څیرمه د حکومت له اجازې پرته تاسیس شو.

۲۵۵ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۴ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۴ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۲۵۶ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۴ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، حاجي جنت ګل میشت ځای، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، کوچي اباد، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۴ مئ ۲۰۱۹؛ د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ د بابکرخیلو قبیلې له یوه کوچي قومي مشر سره مرکه، ۲۸ جنوري ۲۰۱۷.

۲۵۷ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۴ مئ ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ له میشت شوي کوچي سره مرکه، وزیر کاریز میشت ځای، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹.

۲۵۸ په دشته خاکه کې له یوه میشت شوي کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپریل ۲۰۱۹.

۲۵۹ د حاجي جنت ګل په میشت ځای کې یو میشت کوچی، ۱ فبروري ۲۰۱۹.

### لسم چارت: آیا پخوا له مهالویشونو کار اخیستل کیده؟

کله چې په مالستان کې له یو هزاره مشر څخه پوښتنه وشوه چې آیا پخوا د کوچیانو لخوا د څړځایونو د کارونې لپاره مهالویشونه ول، ده وویل:

> زمونږ د ولسوالۍ لپاره مهالویش دا ډول و چې کوچیان به هرکال د اپریل میاشتې په پای کې زمونږ سیمې ته راتلل. لومړی به کوچیانو تر هغه وخته انتظار کولو چې هزاره بزګر په هره ولسوالۍ کې واښه د تپو او د غرونو له لمنو څخه وریبي، راټول او د ژمي لپاره یې ذخیره کړي. وروسته بیا دوی کولای شول چې له خپلو څارویو سره سیمې ته راشي او د تپو او غرونو په لمنو کې یې وپیایي. پلان به داسې و چې کوچیان به لومړی بهسودو ولسوالۍ ته راتلل او هلته به د لسو یا پنځلسو ورځو لپاره پاتې کیدل او د غرونو په لمنو کې له پاتې واښو تر هغه وخته کار اخیسته ترڅو پورې بزګرو به په ناور ولسوالۍ کې خپل حاصلات راټول او واښه به د ژمي لپاره نه و ذخیره کړي. له هغې ځایه، بزګرو به کوچیانو ته اجازه ورکوله چې ناور ولسوالۍ ته ننوځي او هلته به بیا دوی د لسو یا پنځلسو ورځو لپاره پاتې کیدل او د تپو او غرونو په لمنو کې له پاتې واښو څخه به یې تر هغه وخته کار اخیسته ترڅو پورې چې د مالستان بزګرو به خپل حاصلات راټول او واښه نه و ریبلي، بیا به وروسته دوی کوچیانو ته اجازه ورکوله چې خپل څاروي هلته وپیایي.

نوموړی مشر ادعا کوي چې د جګړې وړاندې مهال په پرتله، د کوچیانو کوچیدنې خورا بې نظمې شوي، چې له امله یې حاصلاتو او کلیوالي څړځایونو ته ډیر زیان رسیدلی دی:

> زمونږ د ولسوالۍ لپاره مهالویش دا ډول و چې کوچیان به هرکال د اپریل میاشتې په پای کې زمونږ سیمې ته راتلل. لومړی به کوچیانو تر هغه وخته انتظار کولو چې هزاره بزګر په هره ولسوالۍ کې واښه د تپو او غرونو له لمنو څخه وریبي، راټول او د ژمي لپاره یې ذخیره کړي. وروسته بیا دوی کولای شول چې له خپلو څارویو سره سیمې ته راشي او د تپو او غرونو په لمنو کې یې وپیایي.[۲۲۰]

که څه هم ټول دا نه مني چې دا ډول مهالویش له جګړې وړاندې اغیزمن و.[۲۲۱] له ناور ولسوالۍ د یو مشر په یاد راځي او نقل کوي چې څرنګه کوچیان به راضي او خوشاله نه ول چې څوک ورته د مهالویشونو په اړه ووایي:

> ترکوم ځای پورې چې زما په یاد راځي، مهالویش به د هزاره مشرانو لخوا له ځایي حکومت سره په سلامشوره ټاکل کیدل. وروسته له هغه چې دغو دواړو خواوو به هوکړه وکړه، بیا به مهالویش د کوچیانو له مشرانو سره هم شریک کیده. هغه مهال، کوچیان له مهالویشه خوښ نه ول. په غونډه کې به د کوچیانو مشرانو مهالویش ومانه خو بیا وروسته به یې نه مراعاتوه.[۲۲۲]

ځینې هزاره ګان وایي چې په حقیقت کې د کوچیانو د رضایت نشتون اغلباً په دې معنا و چې مهالویش هیڅکله پلی نشي.[۲۲۳] له مالستانه یو مشر داسې وضاحت ورکړ:

> له انقلاب وړاندې، یعقوب خان چې د کابل ولایت والي و د کوچیانو لپاره د مرکزي افغانستان څړځایونو (تر ډیره حده په هزاره میشتو سیمو کې) ته د یو مهالویش سره سم لاس رسی برابر کړی و. یعنې تر هغه وخته چې د کوچیانو د کډوالۍ پر مسیر میشت کلیوال خپل واښه راټول نکړي، کوچیان باید هغه کلي ته ولاړ نشي او له پاتې وښو د خپلو څارویو لپاره کار وانخلي. دا هم په دې معنی ده چې دا لومړی زمونږ حق و چې واښه راټول او خپلو څارویو ته یې په زیرمتون کې د راتلونکي ژمي لپاره ذخیره کړو خو په کروندو کې پاتې واښه د کوچیانو د څارویو لپاره ول. خو له بده مرغه، کوچیان زمونږ سیمې ته وختي راتلل او زمونږ له وښو یې مخکې له دې چې ویې ریبو کار اخیسته. کله چې به مو پر دوی غږ کاوه چې له وښو کار مه اخلئ، دا ځکه چې مونږ لا تر اوسه خپله برخه واښه نه دي راټول کړي، دوی به زمونږ خبرو ته غوږ نه نیوه او د دې پر ځای به یې خپلې وسلې مونږ ته ښودلې.[۲۲۴]

په حقیقت کې د مهالویشونو د پلي کولو کچه ښایي له یوې سیمې تر بلې توپیر ولري. د یوه کوچي مشر د وینا سره سم، له جګړې وړاندې مهالویشونه په بیدیایي سیمو کې اغیزمن نه واقع کیدل.[۲۲۵] یوه ځایي مشر په ناور ولسوالۍ کې په ډاګه کړه چې یوازې د ختیځ ځینو کوچانۍ کوچنۍ قبیلو د مهالویشونو درناوی کاوه. [۲۲۶]

---

۲۲۰ د مالستان ولسوالۍ د بخارا کلي له هزاره توکمي قومي مشر سره مرکه، ۱۴ مارچ ۲۰۱۷.

۲۲۱ د کوچیانو د کمیسیون له یوه غړي سره مرکه، کابل، ۱ جون ۲۰۱۷؛ له شاه محمود میاخیل، د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت، کابل، ۲۰ ۲۰۱۷.

۲۲۲ د غزني ولایت د ناور ولسوالۍ له یو مشر، ایچ آر سره مرکه، جون ۲۰۱۸.

۲۲۳ د کلي له یوه مشر سره مرکه، پنجاب ولسوالي، بامیان ولایت، جولای ۲۰۱۷.

۲۲۴ د مالستان ولسوالۍ د بخارا کلي له هزاره توکمي قومي مشر سره مرکه، ۱۴ مارچ ۲۰۱۷.

۲۲۵ په میدان وردګو/ننګرهار کې له کوچي قومي مشر سره مرکه، مئ ۲۰۱۸.

۲۲۶ له ناور څخه له یوه مهم شخص سره مرکه، ۸ مئ ۲۰۱۸.

## ۴.۲ آیا میشتېدنه شخړه راکمولای شي؟

د شخړې د راکمولو له پلوه د کوچیانو د میشتیدنې د منفي او مثبتو اړخونو ارزونه خورا پیچلې ده. د کوچیانو میشتېدنه ښایي د کوچیانو له کوچیدنې ډولونو له منع کولو له لارې د شخړې یوه سرچینه پای ته ورسوي، چې په دې سره به پر پولو د تیرې پر سر اختلافات پای ومومي. خو پر دې سربیره، د کوچیانو میشتیدنه په ورته وخت کې د ځمکې د کموالي له امله، نوې شخړې رامنځته کوي، په تیره بیا هغه مهال چې دغه چاره بې پلانه او په خپل سر ترسره شي (پورته ۳.۲.۴ برخه وګورئ.)

د حکومت لخو تمویل شوي یا اجازه لرونکي میشت ځایونو په نسبتاً لږ شمیر مواردو کې، چارې په سختۍ سره پرمخ لاړې. دولتي چارواکي هیڅکله هم د دې وړ نه ول چې د میشتېدنې پراوونه په موثر ډول تنظیم کړي، په تیره بیا د وزیر کاریز په قضیه کې، چیرې چې مختلفو ادارو د سیالو ټولنو د مختلفو خواوو پلوي کوله. په بله وینا، د حکومت له خوا تمویل شوي د میشتېدنې پلانونه کوم مفهوم نه لري، که چیرې چارواکي یې په موثر ډول د مدیریت وړتیا و نه لري یا لږ تر لږه پر خپل ژمنو و نه دریږي. نوځکه، میشتیدنه په یقیني ډول د شخړې د راکمولو حل لاره نه ده. په عمل کې، میشتیدنه واردمخه په پراخه کچه رامنځته شوې، لکه څرنګه چې په اړه یې په ۳ برخه کې بحث وشو.

څرنګه چې تقریباً «سوچه» کوچیان نه دي پاتي، نو بیا اصلي موضوع «میشتیدنه: هو یا نه» نه ده بلکې «میشتیدنه: تنظیم شوې یا نه ده تنظیم شوې» ده. ځکه کابو د دولت لخوا تمویل شوي کوم میشت ځایونه نشته چې په موثر ډول د چارواکو له خوا تنظیم شوي وي. ویل یې ستونزمن دي چې آیا د شخړې اوسنۍ کچه به د دولت لخوا د لا زیاتو موثرو اقداماتو په ترسره کولو سره راکمه شي؟ ښایي داسې وانګېرل شي چې د ملکیت د حقونو اغیزمن تطبیق به په دې برخه کې خورا مثبت تاثیر ولري. له بل پلوه، پرته له دې چې د پریکړې کولو عدالت په پام کې ونیول شي، افغان دولت به کوچیانو ته د ځمکو په ویش کې د لا ډیر ښکیلیدو خطر پر ځان ومني، په هر صورت کې به دغه چاره د نورو ټولنو د نیوکو لامل شي.

په زړه پورې خبره ده چې آن طالبان په دې برخه کې لږه لیوالتیا ښیي (۵.۲ برخه وګورئ). سره له دې، د څړځایونو د ویش په بهیر کې د نه ښکیلتیا په صورت کې به دولت خپل مشروعیت له لاسه ورکړي. خو یوه خبره څرګند ده هغه دا چې د افغان دولت لخوا د میشتېدنې د لا موثره مدیریت او تنظیم لپاره، هر راتلونکې هڅه باید د دقیقو ستراتیژیګانو او ښو امکاناتو او تشکیلاتو پر اساس وي. دغه مسله باید طرح او وڅېړل شي.

## ۵.۲ مهالویشونه

د کوچیانو په ریاست کې یوه پالیسي جوړوونکي خپل نظر داسې څرګند کړ: د متضادو ګټو بل پر دولت کم تکیه لرونکی بدیل دا کیدای شي چې د کوچیانو رارسیدنه په داسې یوه طریقه له مهالویش سره سم تنظیم شي چې بزګرو ته د مسیرونو په اوږدو کې وخت ورکړل شي ترڅو وابښه او کرنیز فصلونه ټول کړي، لکه څرنګه چې له جګړې وړاندې کله ناکله د دغه کار د ترسره کولو ادعا هم شوې ده.[۲۶۷] نورو مرکه کوونکو په دې اړه ښېلابېلې نظریې ورکړې (۱۰ چارت وګورئ). آیا مهالویشونه به اغیزمن واقع شي؟ د کوچیانو د ریاست د یوه چارواکی په نظر، مهالویشونه اغیزمن واقع کیدای شي:

> که چیرې دغه پلانونه او مهالویشونه په ټول افغانستان کې تطبیق شي، زه یې تضمین کوم چې ۸۰ سلنه شخړې به حل شي.[۲۶۸]

آن که د ټولنې په کچه پر داسې یوه مهالویش توافق هم وشي، خو بیا هم د پلي کیدو لپاره یې د دولت یو څه رول ته اړتیا شته. لکه څرنګه چې مونږ لیدلي، له جګړې وړاندې، مهالویش ته په خورا ندرت سره درناوی شوی، هغه هم په داسې حال کې چې افغان دولت د اوس په پرتله زیات ځواک او نفوذ درلود. په واقعبینانه ډول، دغه مهالویش له جګړې وروسته چاپیریال کې یوازې هغه مهال عملي کیدای شي که چیرې د دولت ځواک یو موټی او یو لاس وي.[۲۶۹] په ځینو قضیو کې، د منځګړیتوب پر بنسټ ترلاسه شویو حل لارو د یوې برخې په توګه، د شخړې د ښکیلو لورو له خوا پر ځایي مهالویشونو وارد مخه توافق شوی.[۲۷۰]

---

۲۶۷ له موسی پوپل، په لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۶۸ له انجنیر فضل احمد نورزي، د فراه ولایت د کوچیانو د ریاست له رییس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸

۲۶۹ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یوه آفسر سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۷۰ له مولوي عبد الرحمن د فراه ولایت د علماؤو شورا غړي، منځګړی سره مرکه، اپریل ۲۰۱۸.

## ۲.۲ د دولت نوی رول

د ځينېنيزو هڅو پر مهال دا څرګنده شوه چې افغان چارواکي پر هغه څه خبر ول کوم چې د کوچيانو او بزګرو ترمنځ روان وو، خو له يوه څرګند او روښان انځور پرته. بېلابېلو چارواکو او سياستوالو د يوې يا بلې ټولنې پلوی کوله، خو د شخړې د تحريک عواملو په اړه عيني شواهد محدود ول. د بېلګې په توګه، يو هزاره ادعا کوي چې هزاره جاتو کې زياتره کورنۍ اوس زيات شمير څاروي لري او د څرڅايونو پراخ لاس رسي ته اړتيا لري. دا ممکنه نه ده چې دغه ډول موضوعاتو ته دې له يوې کره سروې پرته رسيدنه وشي، داسې سروې چې د تيرو څلويښت کلونو په ترڅ کې د رامنځته شويو بدلونونو د وسعت په اړه مفصل معلومات ورکړي.

تر ۲۰۱۹ پورې دا ښکاره خبره ده چې دولتي اداري دا ظرفيت نه لري چې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو د ستونزو په حل کې خپل رول پراخ کړي. د بېلګې په توګه، د کوچيانو د رياست کارکوونکي مني چې دوي آن د دې لپاره سرچينې نه لري چې په موثر ډول ټولې هغه شخړې وڅاري کومې چې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ رامنځته کيږي. په ځينو برخو کې سيمې ته د لاسرسي ستونزه ده ځکه چې زياتره سيمې د دولت له کنټرول څخه بهر دي. خو پر دې سربيره، د کوچيانو چارو سمون لوی رياست د لاسرسي وړ سيمو د څارنې لپاره کافي ټرانسپورتي امکانات نه لري (۳. ۲. ۲ پورتنۍ برخه وګورئ).

پر هغه شاهي فرمانونو دوامداره تکيه چې له جګړې کلونه پخوا صادر شوي، د څرځايونو د مالکيت د معلومولو لپاره يو مناسب انتخاب نه دی، ځکه چې ګڼ شمېر څر ځايونه له منځه تللي يا راکم شوي. لږ تر لږه ځينې دولتي چارواکي دغه خبره په صريح يا په ضمني ډول مني.[۲۷۱] اوس مهال، کوچي ټولنو ته د څرځايونو د بياځانګړي کولو لپاره امکانات شتون نه لري.

کوچيانو ته د مهالويشونو د ترتيبولو لپاره د کوچيانو يوې کره سروې ته اړتيا ده- يوه داسې نظريې ته اړتيا ده چې د دولتي چارواکو د پام وړ ملاتړ څخه برخمنه وي. دا ښکاره خبره ده چې د کوچيانو لپاره مهالويشونه بايد د دولت په ملاتړ او له ځايي ميشتو ټولنو سره د سلا مشورو له لارې جوړ شي. د ځايي اوسيدونکو د څارويو د مړولو په برخه کې د دوی اړتياوې بايد په نوموړې سروې کې تر څېړنې لاندې ونيول شي. د ګڼ شمير کوچي او ځايي ميشتو ټولنو ترمنځ اوسني خصومت ته په کتو سره، دا ممکنه نه ده چې د شخړې د ښکيلو خواوو د يوه لوري له خوا خپل سرې پريکړې به بل لوري ته منلو وړ وي، او نه هم دا چې مهالويشونه به د ټولنې په کچه اداره او تنظيم کړای شي. له هغه وروسته، د مهالويشونو پر تطبيق بايد يو ډول څارنه وضع شي.[۲۷۲]

په حقيقت کې، د کوچيانو چارو دسمون لوی رياست لا وار دمخه د بهرنيو سلاکارانو په مرسته پر دغو مهالويشونو کار کوي.[۲۷۳] د کوچيانو د رياست يو سلا کار چې د مهالويشونو له ترويج ملاتړ کوي، د رياست اړتياوې يې په لاندې ډول په ګوته کړې:

- د کوچي ټولنو د وضعيت څارنه او سروې کوونه؛
- په افغانستان کې د کوچيانو د موسمي خوځښتونو په اړه د لا زياتو معلوماتو راټولونه.[۲۷۴]

په ځينو ځايي سيمو کې، د کوچيانو چارو د سمون لوی رياست د کوچيانو لپاره د مهالويشونو په جوړولو کې وار دمخه مرسته کړې چې د راپورونو پر اساس، د شخړې په راکمولو کې اغيزمن واقع شوي دي:

> د څر ځايونو پر سر د شخړې په اړه: مونږ د کوچيانو د کډوالو ټولنو لپاره د کډوالۍ مهالويشونه جوړ کړي، چې له دې لارې مو د ميشتو کوچيانو او نورو ترمنځ ستونزې حل کړې. کډوال کوچيان به په يوه ځانګړي موسم کې کډه کوي او بيا به بيرته دغه ولايت ته راځي. زما په نظر ټوله ستونزه د کډوالۍ په مهالويشونو کې وه...[۲۷۵]

د کوچيانو لپاره د مهالويشونو جوړونې په څير چاره د حکومت د نورو ادارو په تيره بيا د کرنې وزارت مرستې ته اړتيا لري چې بايد څرځايونه مشخص کړي.[۲۷۶] د څرځايونو بيارغونه هم په پام کې نيول شوې چې د کليو پراختيا او بيارغونې وزارت هم په اړوندو چارو کې ښکېلوي.[۲۷۷] د کوچيانو د چارو سمون لوی رياست د نورو دولتي ادارو په اړه د لا زيات واک غوښتنه کوي، څو د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو شخړو ته رسيدنه وکړي.[۲۷۸]

۲۷۱ په خوست ولايت کې د کوچيانو د رياست له يوه آفسر سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۷۲ په کوه دانا سيمه کې د الکوزي قبيلې له قومي مشر سره مرکه، فراه ولايت، جون ۲۰۱۷؛ په خوست ولايت کې د کوچيانو د رياست له يوه آفسر سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۷۳ له موسی پوپل، د لوګر ولايت د کوچيانو د رياست رييس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۷۴ له موسی پوپل، د لوګر ولايت د کوچيانو د رياست رييس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۷۵ له انجنير فضل احمد نورزي، د فراه ولايت د کوچيانو د رياست له رييس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸

۲۷۶ په خوست ولايت کې د کوچيانو د رياست له يوه آفسر سره مرکه، فبروری ۲۰۱۸.

۲۷۷ له انجنير مرکخيل، د اوبو د چارو کارپوه، د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۷.

۲۷۸ له موسی پوپل، د لوګر ولايت د کوچيانو د رياست رييس سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

دغه راز د کوچیانو چارو د سمون لوی ریاست لپاره د لا زیات ځواک ورکولو تقاضاوې شته چې د شخړو په حالاتو کې مداخله وکړي: لا زیات کارکوونکي او قهریه ځواک (یوه یوه کارکوونکی د هر دفتر پر سر او د ۳۰ وسله والو افسرانو درلودل) په ګوته شوي.[۲۷۹]

نوموړی ریاست، نورو سرچینو او ظرفیت ته اړتیا لري ترڅو د دې جوګه شي چې اضافي صلاحیتونه په اغیزناک ډول وکاروي. دا خبره د نورو ادارو په حق کې هم صدق کوي کومې چې ښایي په دغه چاره کې ښکیل شي، لکه د اراضي او ښاري پراختیا اداره (تر کوم حده چې میشتیدنه مطرح ده)، یا کرنې او مالدارۍ اداره (د پولو په نښه کول) یا داسې نورې ادارې. د کوچیانو ریاست همدارنګه د ګډ اقتصاد د پراختیا لپاره پلانونه لري، چې د دغو پلانونو په مرسته به ځایي اوسیدونکي د خوړو پروسس په فابریکو کې کار کوي او کوچیان به ورته د اړتیاوړ خامه غوښه برابروي. دغه پلان هیله ښښوونکی دی که څه هم په هزاره جاتو کې ډېر مشهور نه دی، چیرې چې کورنۍ زیات شمیر څاروي لري او د کوچیانو ښکیلتیا ته لږه اړتیا لري.[۲۸۰]

۲۷۹ د میدان وردګو ولایت د کوچیانو په ریاست کې له محمد همایون عزیزي سره مرکه، فبروري ۲۰۱۸.

۲۸۰ Interview with Hazara elder Haji HA, from Waras district of Bamiyan province, May ۲۰۱۸; Interview with Haji RA, Hazara elder from Bamiyan province, May ۲۰۱۸.

# ۷. پایله یا استنتاج

افغان چارواکي دا مني چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ شخړه له اوږدې مودې راهیسې روانه ده او اړتیا ده چې نور دغې ستونزې ته رسیدگي وشي. دولتي چارواکي پلانونه طرح کوي او په ځو مشخصو قضیو کې، په ټیټه کچه د نویو پالیسي ګانو تطبیق پیلوي چې موخه یې لږ تر لږه د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ د شخړې که بشپړ حلول نه وي، راکمول دي. د دغو پالیسي ګانو له ډلې د ځینو تطبیق د نورو په پرتله اسانه بریښي، خو ټول یې د تمویل او د شالید په اړه د ناکافي معلوماتو له امله له سترو ننګونو سره مخ دي. ښایي ټولې پالیسي ګانې د کافي پوهې او شننې پر بنسټ چمتو شوې نه وي.

روانه پروژه په پراخه کچه د نورو څېړونکو پخوانۍ موندنې تاییدوي چې په افغانستان کې یې د کوچیانو او بزګرو اړیکو ته کتنه کړې او ځینې موندنې یې لا تقویه کوي. . په ځانګړې ډول، څېړنیزې ډلې موندلې چې:

- د کوچیانو د میشتېدنې بهیر ګړندی شوی؛
- د شخړې د یوې سرچینې په توګه، میشتېدنه د زیاتیدونکي اهمیت لرونکې ده؛
- کوچي زورواکي د شخړې او میشتېدنې په رامنځته کولو کې زیاتیدونکی رول لوبوي؛
- داسې بریښي چې د کوچیانو ترمنځ د ټولنیزو اړیکو ماهیت په لا چټکۍ سره بدلون مومي؛
- د کوچیانو او بزګرو شخړه له دې ضمني خطر سره چې د نورو شخړو د رامنځته کیدو احتمال به لا زیات او چټک کړي، په زیاتیدونکي ډول د سیاسي او قومي کیدو په لور روانه ده ؛
- افغان دولت لا اوس هم د روانو شخړو د یوه نندارہ کوونکي رول لوبوي او ډیر کم د دغو شخړو په حل کې رغنده ونډه اخلي- سره له دې چې په دې هکله اجماع نشته چې دولت باید او شاید کوم رول ولوبوي، خو د دولت نشتون د شخړې د ښکېلو خواوو له خوا ډېر زیات احساسیږي؛
- تر کومه حده چې د شخړې حل پیښیږي، زیاتره د درېیم لوري له لارې چې د نورو ټولنو له مشرتابه څخه غوره شوي؛
- ډموګرافیک فشار له پاکستان څخه لږ تر لږه د سلګونو زرو کورنیو د راستنېدو له امله، لا اوس هم لوړ دی؛
- د څړ ځایونو پر سر شخړه په مرکزي لوړو سیمو کې د لاس رسي د مسیرونو د بندولو له لارې مهار شوې ده؛ خو له امله یې، په هغو سیمو کې خورا سخته شوې چیرې چې مسیرونه بند شوي دي؛
- د ادارو د شمېر زیاتوالی د شخړې حل لا زیات ستونزمنوي، خو د هغو لوبغاړو لپاره د شتمنیو د راټولو چټک فرصت برابروي کوم چې په دولت کې په لوړه کچه له سیاسي ملاتړ څخه برخمن دي.

که څه هم دغه سروې محدوده ده، خو دا یې په ډاګه کړې چې نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرو ترمنځ دوه ډوله شخړې شتون لري: د بزګرو لخوا څړځایونو ته د لاس رسي مخنیوی او د کوچي ټولنو او بزګرو ترمنځ د څړځایونو د غصبولو پر سر سیالۍ. د شخړې نور ډولونه لکه د نه په نښه شویو پولو د سرغړونې پر سر اختلاف چې نن ورځ په نسبي ډول لږ ښکاري.

دا روښانه ده چې د دولتي ځمکو په اړه د ټګلارې د سمون له مسلې سره د مخامخ کیدلو په برخه کې د حکومت د تحرک نشتون، لنډمهاله دی. په شخصي ځمکو د څړځایونو د اوښتون پر سر زیاتیدونکې شخړه د دې نښه ده چې په ښاري پراختیایي سیمو یا کرنیزو ځمکو یا خصوصي څړځایونو د څړ ځایونو د یوې برخې د اوښتون لپاره د یو چوکاټ جوړول نه شي کولای دغه بهیر د تل لپاره وځنډوي. په دې برخه کې د حکومت او پارلمان د فعالیت نشتون د دولتي ځمکو د زیاتې برخې د غصبولو لپاره شرایط برابروي. د خورا زیات ډموګرافیک فشار او د ۱۹۷۸ او ۲۰۰۱ میلادي کلونو ترمنځ د کورنیو د شمېر د پام وړ زیاتوالي له امله، د افغانستان سترو ښارونو باید یو څه وده کړې وای. کله چې دولت د ځمکو د تقاضا په پوره کولو کې پاتې راغی، د ځمکې د غاصبینو په نوم د متشبثینو یوه نوې ډله چې په ناقانونه توګه فعالیت کوي رامنځ ته شوه ترڅو له دغه وضعیت څخه ګټه پورته کړي.

څومره چې شخړه د هغو کسانو په لور ګرځي کوم چې کولای شي په شخصي ځمکو د څړځایونو د اوښتون بهیر کنټرول کړي، همغومره د کنټرول نه وړ او تاوتریخجنه کیږي. اوس د ګڼ شمېر کورنیو معیشت او سترې اقتصادي ګټې له ګواښ سره مخ دي، نو ځکه کیدای شي شخړه په اسانۍ سره زیاته شي.

دا ښکاره خبره ده چې د کوچیانو او بزګرو شخړه، په یوې سترې ستونزې د اوښتو خطر رامنځ ته کوي: د شخړې د حل په برخه کې د مداخلې لپاره یو بل دلیل. پالیسي جوړونکي د شخړې د پیچلې ماهیت، د دولت محدود ظرفیت او نورو لومړیتوبونو لکه روانه بلواګري له امله له یادې ستونزې سره نیغ په نیغه په مخ کیدو کې بې میلې ښیي. خو څومره چې په دې برخه کې مداخله ځنډیږي، هموغومره شخړه لا د کنټرول نه وړ او ژوره کیږي.

په یقین سره، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې پراختیا او زور اخیستل (تشدید) په خپل ذات کې ناوړه پیښنه ده، نه یوازې په دې خاطر چې هر کال د لسګونو انسانانو ژوند اخلې بلکې اقتصادي زیان هم رامنځته کوي چې له امله یې کورونه ویجاړیږي او څاروي مړه کیږي.

## ۱.۷ وړاندیزونه

د کوچیانو او بزګرو ترمنځ د شخړې حل لپاره، د کابل چارواکو د ظرفیت او ارادې نشتون، په ښکاره ډول د حکومت د مشروعیت له منځه وړلو سره مرسته کوي. د دغې ستونزې په حل کې باید د بېړې (استجعالیت) یو لوی احساس شتون ولري. که چیرې د کوچیانو او بزګرو ترمنځ د هرې جلا شخړې حل، یوه اوږده چاره وي، حکومت باید لږ تر لږه هغه شاهي فرمانونه په نویو حل لارو بدل کړي کوم چې د ناټاکلو مودو لپاره مشخصو کوچانۍ ټولنو ته د څړځایونو لویه برخه (ورکړې) ورکوي.

د کرنیزو ځمکو د حدودو ټاکل، د کوچیانو د کډوالۍ پر مسیرونو ګزمه کول، د کوچیانو میشتېدنه او له کرنیزو دورو سره سم د کډوالۍ د مهالویشونو برابرول دا ټولې چارې د جزئي حل لارو په توګه وړاندې شوې دي. دغه ټولې حل لارې، تر مختلفو کچو، دولتي مداخلې ته اړتیا لري، او په حقیقت کې ګڼ شمیر مرکه کوونکو، په تیره بیا کوچیانو په دغو شخړو کې د دولت د پراخې مداخلې غوښتنه کړې.

خو پر دې سربېره، د دولتي چارواکو ترمنځ یو پراخ احساس موجود دی چې ګواکې افغان دولت اوس مهال د دې ظرفیت نه لري چې د دغو شخړو د حل په برخه کې مرسته وکړي. افغان دولت او مرستندویان یې باید له یادې شخړې سره د مقابلې د نویو لارو چارو په لټه کې شي، کوم چې د دولت د کمزوري ظرفیت له موضوع تیریږي یا یې حل کوي، داسې ګډې حل لارې چې دولت په کې یو محدود خو په رښتیني ډول پایښت‌ونکی رول لوبوي، کوم چې کیدای شي یوه راتلونکې حل لاره اوسي.

میشتېدنه د دولت له همکارۍ پرته په خپلواک ډول له ۲۰۰۱ میلادي کال وروسته رامنځته شوې. په دغه سند کې راغونډ شوي جزئي شواهد دا په ډاګه کوي چې میشتېدنه له اقتصادي پلوه ګټوره ده. داسې ښکاري چې زیاتره میشت شویو کوچیانو معلومه کړې چې د کوچاني ژوند په پرتله میشت ژوند د ترجیح وړ دی، لږ تر لږه دا ډول ژوند د روانې جګړې له پیل راهیسې تجربه شوی. دا د پام وړ خبره ده چې میشت شویو کوچیانو دغه چاره د هیڅ یا لږې سلا مشورې او ملاتړ په مټ ترسره کړې او نسبتاً په بریالیتوب سره یې نوي مهارتونه هم زده کړي.

یو شخص یوازې دا تصور کولی شي چې څه به پیښ شوي وای که چیرې د میشتیدنې له بهیر ملاتړ شوی وای او د کوچیانو د میشتیدنې لپاره شته غوراوي لا پسې زیات شوي وای. له کوم ځایه چې د کوچیانو لوی اکثریت په هر حال میشت کیږي، افغان چارواکي باید د خدمتونو او اسانتیاوو په څیر د هڅوونکو اقداماتو په وړاندیز کولو سره د دې بهیر د رهبرۍ او لارښونې هڅه وکړي او د دې په بدل کې کوچیان باید په هغې ځمکه کې میشتیدنه ومني چې د چارواکو له خوا ورته ځانګړې کیږي، که نه نو ځمکې به غصب شي او نوې شخړې به رامنځته شي.

دولت باید په هر حال کې د ښاري پراختیا لپاره د ځمکې د برابرولو له مسلې سره مخ شي او په دې توګه د ځمکو د ناقانونه غصب (که د کوچیانو له خوا وي یا نه) ځینې مهم لاملونه کمزوري کړي.

دغه راز کوچانۍ ټولنو ته هم د هڅوونکو امتیازاتو وړاندیز کیدای شي ترڅو خپلې طریقې لږ تر لږه د اوږد مهالو کډوالیو د پرېښودو تر حده بدلې کړي. په دغه ډول تګلارو کې ګڼ شمیر تخنیکي ستونزې شته کومې چې باید په مفصل ډول وڅیړل شي.

# د لیکنو لست


"A study of the Kuchi population in the Kabul New City area." (Kabul: Samuel Hall, 2012).

Barfield, T.J. The Central Asian Arabs of Afghanistan: Pastoral Nomadism in Transition (Austin: University of Texas Press, 1981).

Central Statistics Organisation, Afghanistan Living Conditions Survey 2016-17, Kabul, 2017.

de Weijer, Frauke. "Afghanistan's Nomad Pastoralists: Change and Adaptation." Nomadic People, Volume 11, Issue 1, p. 9—37, (2007).

de Weijer, Frauke. "National Multi Sectoral Assessment on Nomads." (Kabul, 2005).

Farasoo, Abbas. "The Dynamics of Nomad-Sedentary Conflict in Afghanistan: The Kuchi-Hazara Confrontation in Hazarajat." Annals of Japan Association for Middle East Studies, Volume 33, Issue 1, p. 1-37, (2017).

Ferdinand, Klaus. "Nomad expansion and commerce in central Afghanistan." Folk 4, (1962).

Ferdinand, Klaus. Afghan Nomads: Caravans, Conflicts and Trade in Afghanistan and British India 1800-1980. (Copenhagen: Rhodos, 2006).

Foley, Conor. A Guide to property law in Afghanistan. (NRC/UNHCR, 2005).

Foschini, Fabrizio. "The Social Wandering of the Afghan Nomads." (Berlin: AAN, 2013).

Frederiksen, Birthe. Caravans and Trade in Afghanistan: The Changing Life of the Nomadic Hazarbuz (Copenhagen: Rhodos, 1995).

Giustozzi, Antonio. "Mapping nomad-farmer conflict in Afghanistan." (Kabul: AREU, 2017).

Graham-Harrison, Emma. "Hidden casualties of Afghan war: Nomadic farmers adopt more settled life." https://www.theguardian.com/world/2013/jan/08/afghanistan-war-nomadic-farmers. The Guardian, 9 January 2013.

Kakar, Hassan. A Political and Diplomatic History of Afghanistan 1863-1901. (Leiden: Brill, 2012).

Hermann Kreutzmann and Stefan Schütte, "Contested Commons – Multiple Insecurities of Pastoralists in North-Eastern Afghanistan," Erdkunde, Volume 65, Issue 2, p. 99–119, (2011).

Mousavi, S.A. The Hazaras Of AfghanIstan. (London: Curzon, 1998).

Nawabi, Kanishka. "Fractured relationships: Understanding Conflict between Nomadic and Settled Communities in Wardak's Pasturelands." (Kabul: CPAU, 2010).

Nicolle, Hervé. "Qu'elle était verte ma vallée L'avenir sans terre des populations Kuchi dans le district de Deh Sabz' (Revue de Mondes Musulmans et de la Méditerranée, 133, 2013), p. 235-236.

Patterson, Mervyn. “The Shiwa Pastures, 1978-2003: Land Tenure Changes and Conflict in Northeastern Badakhshan” (Kabul: AREU, 2004).

Pedersen, Gorm. Afghan Nomads In Transition: A Century of Change Among the Zala Khân Khêl (Copenhagen: Rhodos, 1994).

Sharif, M. and M.Y. Safar. “Land Administration and Management in Afghanistan.” (Blue .(Mounds: Terra Institute), (2008

Stanfield, David et al. “Rangeland Administration in (Post) Conflict Conditions: The Case of Afghanistan.” *Innovations in Land Rights Recognition, Administration, and Governance*, ed

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو برېښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپې(چاپي بڼه) په ډول په وړيا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی (مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړی در هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه ادارې سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه ادارې سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړی | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | ټولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه:په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کندیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتوکوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامې؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو ترياکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د ستونزې د غبرګون تحليل | جونا آر. ايچاويز، قيوم سروش | | | ټولنيز ملاتړ | د پاليسي يادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعي توګه بيساري: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولايتونو کې د ترياکو د توليد د ډيروالي ملاتړ وکړ | ډويډ منسفليد | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضايي بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرايي بيا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لينا ګانيش | | | جنسيت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغېزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی | ډيتليف کمير | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بيا کتنه | اکسل کويتز | | | حکومتولی | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچيانو – بزګرانو شخړې | انتونيو جيو ستوزي | | | د طبيعي سرچينې مديريت | لنډيز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ريپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ کربنې: د هرات له درې کليو څخه بيلګې | دانيل هټ، ادم پين او احسان الله غفوري | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معيشت تګ کربنې: د «وروسته پرمختيا» په وخت کې ژوند | جيوليا مينويا او ادم پين | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ ګربنې: د کندهار په ولايت کې چوپ تاوتريخوالی | دانيل هوټ، ادم پين او احسان الله غفوری | | | ټولينزه ساتنه | کاری ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د توليد ټولينزې اړيکې | جيوليا مينويا او ادم پين | | | د طبيعي سرچينو مديريت | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو ترياکو، کښت ته د پرمختيائي غبرګون را مينځ ته کول | ديويد منسفيلد، پاول فيشستين او OSDR | | | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي ليکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کليو د شرايطو دښتني کارول: ميتوودونه او پراخ دليلونه | ادم پين | | | پايښت لرونکې معيشيت | کاری ليکنه |

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

څېړنه د بنه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ټولې
خپرونې د دغې ادارې له کورپاڼې (www.areu.
org.af) څخه ترلاسه کولای شې.

په کابل کې د دغه ادارې په دفتر کې چاپ
شوي کاپيانې هم موجودي دي.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحيه ، لومړی سړک، ښار نو ،
کابل، افغانستان
تيلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
publications@areu.org.af
ويب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-42-6